


#شهاب :

بِسمِ اَللّٰهِ اَلرَحمٰنْ اَلرَحیم

Ketabton.com

د سهار څخه چې د واده په سودا لګیا وم، نور نو نفس مې د ډېري ستړیا څخه نه پورته کیدو، پښو کې مې هیس توان او حرکت نه و پاتې په بې حاله او ستړی غږ مې آسما ته چې زما څخه مخکې د یو کالو دوکان خواته روانه وه ناري کړل او ومې ویل: آسما تا دې زما په سر قسم وي نور مې په پښو کې هیس توان او انرژی نشته ته و خداې نور خرید به پریږدو سبا ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما۔ وي سبا نو کله د خريد وقت لرو؟ سبا ته د نکريزو شپه ده، ستا خسر ګنې اوس لا خفه وه او ويل يې: مورږ رواج نلرو ناوی دی، د واده په شپو ورځو کې د کور ښځه ووځې، نن يې تاته اجازه نه درکول ته فکر کوی سبا دی پرېږدی؟

د آسما په خبرو باندی مې د جهان د مور خبری ياد ته راځي، حق د آسما سره وو که نن مې خپل خريد نه وايې پوره کړی سبا خو بيخي اجازه نه وه! مجبوره په کرار، کرار او سترږی ګامو باندې د آسما پسې شوم، او د ماذديګر خوا آذنونه يې کول چې د کور خواته روان شو، کورته چې ورسيدم نور د لاس او پښو غورځيدلي وم، يواځې نفس مې تلو راتلو. د ډېر ستړيا ښځه خپل کوټې ته نشوم تلې او مجبورې په دهليز کې د جهان د مور او راغلې ميلمنو سره کيناستم،

زما د حال په ليدو د جهان مور وويل: وی نو په تا باندی څه جبر وو چې خپل ځان دی د لاس او پښو واچوی؟ هلته کندهار کې ولې ستا په نظر دوکانونه نسته چې تا خپل شيان دلته جر،جر دی واخيستل او دسی دی ځان مړه کې؟

د هغې په جواب کې مې هيس ونه ويل، يواځې سر مې ښکته واچوی چې دهليز ته يو اوه اته کلن ماشوم چې ماته د جهان وراره معلوميدې راننوتې او کرار زما خواته راغي او ويې ويل: جهان کاکا وايې يو وارې د باندې راسه.

د هغه ماشوم په خبری زه د موضوع تر اخيره پوه شوم! غوښتل مې لځايه پاسم او د باندی د جهان ليدو ته لاړشم چې د هغې مور زما لاس ونيو او په تروش تندی هغه ماشوم ته وويل: ورځه جهان کاکا ته دی ووايه چې ادی ويل د واده تر شپې باره ته حق نلری چې شزه دی وګوری، تر هغه وخته ورته وايه په زړه دی لويه ډېره کشيژده(کيږده)او بيا يې ماته مخ کړو او ويې ويل: وی تاته هم نور شه خبره نده چې د واده تر شپې خپل د ميره مخې ته ولاړسې..

د هغې خبرو ته مې په حيرت باندې غوږ نيولې وو! د ځان سره مې وويل: دا نو ښنګه کار دی؟ مورږ خو کوژده کې يو بل ليدې وه او خبری کړی وه نو بيا دوي ولې دد خبرو اجازه د واده تر شپې بنده کړه؟ خو مجبوره بيرته هملته کينسم، فکر مې د جهان خواته وو پو هيدم ضرور يې پوښتنه کول چې ولې مو ناوخته کړل؟ د بازار ښځه په راتلو؟ موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي هم نه درلود چې ورته زنګ ووهم او ورته خبر ورکړم،

زه لا په همدی فکرونو کې وم چې همغه کوچني ماشوم بیا راغلو او ویې ویل: جهان کاکا وایې یو دقه دی راسې لژ کار ورسره لرم.

د هغه ماشوم پدی خبری په دهلیز کې ناست تول ښځې په خندا شول او هر چا یو خبره کول چا ویل"جهان تر ماښام صبر نلری"بل ویل دومره ورباندی ګرانه یې زموږ لیور دی د اوس څخه لیونی کړی خپل د دیدن پسې" او خلاصه چې هر چا یوه،یوه خبره کول او زه د شرم څخه ګز،ګز په ځمکه ننوتلم او پوهیدم چې جهان ولاکه ماته کوم د عاشقی او زړه تنګون خبره لری...!

د هغه راپیښ شوی اتفاقاتو او خبرو وروسته د جهان زړه کې زما په اړه شک پیدا شوی وو! تر دی حده چې واده چې یو کال وروسته موږ باید کړی وایې!په یو میاشت کې جهان خان ځان د ځمکې او آسمان څخه ووهې ترخو ژر یې وکړو دومره ولاړی راغې او بابا ته یې وویل: چې زه واده غواړم تر دی حده چې ادی او بابا شکمن شول چې هسې زه خو ماشوم نلرم چې جهان داسې ورختا دی او واده غواړی؟

د ادی په خبره د فکرونو څخه راووتلم..
ادی- ورځه لوری وګوره جهان زوی څه کار لری درسره؟

د ادی په خبره د جهان د مور د څنګ څخه پاسیږم د هغې تندی تروش دی لکه چې خپل د زوی په کار ناراضه وی؟ خو څه نه وایې د جهان خان د څلور وریندارګیانو د خندا او پسخندی نظرو او د روقیه د شیطان نظر لاندی د حویلې خواته ځم چې جهان خان په تروش تندی د کور دروازی مخکې د قدم وهلو په حال وینم، زما په لیدو هغه دریږی او ماته راګوری.

کرار کرار ورته نږدی کیږم چې د هغه د مخ ګونځې نور هم زیاتیږی د پښو د نوک څخه د سر تر وینته مې په ځیر،ځیر ګوری بیا په همغه تروش تندی وایې: ولې دی ناوخته کړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کراره لهجه ورته وایم: هغه آسما ویل نن به خرید خلاص کړو ځکه سبا نکیږی.
جهان خان- ولې نکیږی؟ دا اوس تا چشي اخیستل چې دوني مهمه وه چې بیخی ماشام دی کې؟ اممم؟

ورګورم پوهیږم د بهاني پسي ګرځي پوهیږم هسي شکي شوی او هر خبره زر ځله پورته ښکته کوی، پدی تولو پوهیږم خو هیس چاره نشته راسره! نه پوهیږم څه وکړم جهان خان بیرته د اول ورځي پشان شي؟ یواځي په کراره وایم: ستا مور نن لا اجازه نه راکول سبا بیخی نه کیدل نو ځکه نن مو خرید خلاص کړو.

جهان خان- دا اوس چشي خرید وو؟ ما درته وویل زه درسره ځم خو تا ویل"یا زنانه خرید دی؟ دا زنانه خرید بیا چشي دی؟
په خوار نظر ورګورم چې شاید نور د دی خبری سر او بر پریږدی خو جهان همغسي په ځیر، ځیر زما د خبر او جواب په تمه دی، د شرم څخه سر ښکته کوم او د مجبوری او ددی لپاره چې نور جهان د دی خبری شا پریږدی وایم: ه...هغ... هغه د..غ... دغه مو اخیستل هغه ..

جهان خان په بی حوصله لهجه وایې: چشي هغه؟ دغه؟ چشي دی اخیستل خو صحیح ووایه؟!
د ډیر غوسې او شرم څخه تکه سره کیږم او ناساپه په یو ثانیه کې وایم: د کالو لاندي شئ مې اخیستي.

دا خبره کوم او د ډیر شرم څخه تکه سره کیږم، زړه مې غوښت ځمکه څیری شي او ما لاندی کړی دومره وشرمیدم، څو ثاني جهان هیس و نه ویل کله چې سر مې پورته کړو هغه په شیطان نظر راکتل! د یو میاشت وروسته ما د جهان دا نظر ولیدو! هم حیرانه هم خوشحاله شوم ورته خو یو څه هم شرمیدلې غوندی شوم، مخ مې ورڅخه وګرځه وو او د کور په خوا روانه شوم زړه مې ویل درپسي غږ کوی! یا هم کومه خبره ضرور کوی خو هغه هیس ونه ویل هیس!؟

د جهان پدی کار نه پوهیږم ولې زړه مې ورڅخه ونیول شو، ما غوښتل د پخوا پشان هغه راسره خبری وکړی، غوښتنه وکړی، زه ناز وکړم او هغه زما ناز واخلي خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



یواځې د هغه کار شوی وو شک کول بیځایه نیوکې او پوښتنې کول، چیرته ولاړی؟ چا سره ولاړی؟ ولې دی ناوخته کړل؟ ولې دی هغسې کړل؟ ولې دی داسې کړل؟ ولې.. ولې.. ولې.. دا یو میاشت د جهان کار ګرځیدلې وو ولې؟ هر کار او خبره کې ولې؟ چیری؟

جهان راپسې غږ نه کوی او زه هم شاته نه را ګرځم او همداسې زړه نیولې کورته ننوځم، زما په لیدو ټول یو معناداره مسکا کوی! او زه د هغوی د نظرونو څخه شرمیږم او په تلوار خپل د کوټې خواته ځم. خپل کوټې ته ګورم چې اوس یواځې د کوټې ځینې شیان پکې پاتې او نور ټول ادی په بکسونو کې ځای پر ځای کړی، زړه مې ناساپه نیولې غوندی شې او څو ځاځکې اوښکې مې د سترګو څخه توی کیږی، دی کوټې د هر کونج کونج سره ما یو خاطره درلود...

د کړکې څخه نیولې دیوالونه، الماری، قالینه، او حتا د کوټې چت..! چې زیاتر وختونه به پر ځای پرته وم او پورته چت ته به مې په کتلو فکرونه کول نه پوهیږم ولې خو ناساپه مې حسیب یاد ته راغلو هغه شپه مې یاد ته راغله چې اراده مې وکړل هغه څخه به خپل د انکار جواب اخلم هغه ټول شپه ما چت ته په کتلو د حسیب انځور ځانته رسم کړی وو؟! بیا مې هغه شپه یاد ته راغلل چې د کوټې همدی کونج کې ناسته وم

او د مرکانو دوا مې لاس کې وه ..؟! اه خدایه رښتیا چې هم په انسان څنګه وختونه چې نه تیریږی! داسې چې خپله د هغه وخت د تیریدو وروسته حیران ویې چې آیا دا زما پخوا وخت وو؟ دا چل پر ما شوی وو؟ هیس مې باور نکیدو زه هوسۍ محمدی هغه جنې چې ټول فکر او ذکر مې د درس ویل او راتلونکې کې خپل د هیلو او آرمانو پوره کولو او د ګلابی رنګ کټ اخیستو او جوړه سیټ کالیو او بوټان او بکس درلودلو وو! اوس دی داسې شوی یم ...؟!

د جهان پشان انسان سره اوسیدل ماته مشکله او ستونزمنه نه وه، خو دا چې نور باید خپل کتابونه آرمانونه، خوبونه، هیلې ټول او ټول پریږدم او یواځې یو ښځه اوسیږم هو ښځه مطلب د یو کور کار کونکې د ماشومانو راوړونکې د خاوند او د هغه د کورنې خوشحاله ساتونکې خپل مشکلات او ستونزو ته پروا نه کول او د خاوند او د هغه کورنې ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه ډېر پام لرونکې او په یو لفظ کې زه اوس د جهان خان سدوزی ښځه نه ..! بلکې کوم احسان چې هغه پر ما وکړو زه د هغه غلامه

او کنیزه نوکره شوم، د عمر تر اخیره به په پورته سترګو ورته کتلې نشم د هغه په خبرو به "نا" راوړلې نشم..؟! ځکه هغه زما ژوند او عزت او حیا ژغورلې! آیا زه داسې ژوند کولې شم؟ د ډېر فکر کولو ښځه مې نور مغزه کار پرېږدی ځم د نالې خواته تر څو شاید په ویده کیدلو باندی دا فکرونه مې له ذهن ښځه ووځې او زړه مې لږ آرامه شې شاید پنځه دقې به لا د ځملیدو ښځه مې تیر شوی نه وه چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او روقیه راننوتل

د راننوتلو سره سم یې د کوټې برق روښانه کړو او کله چې پر ما یې نظر پریوتو چې د کوټې کونج کې مې ځان په نالې او کمپل کې پیچلې نو په حیرت او تعجب یې وویل:
وی... دا نو چښې دی؟

په بې حوصله نظر روقیه خواته ګورم، د جهان د ټول کورنې سره یې فرق درلودا! د خبرو د انداز ښځه یې نیولې کالې، فیشن، خبری، حتا خوراک دا یو شپه زموږ میلمانه وه او زه په همدی یو شپه کې پوه شوم چې د جهان کورنې د مشر ښځه نیولې تر کشره ټولو یو شې بیحده خوښ دی؟ هغه هم "غوښه" او د روقیه د غوښې ښځه بیحده بد راځې؟! ډېر جالبه انداز باندی زه پوه شوم چې د جهان کورنې پسندیده او خوښ خوراک غوښه ده؟! هغه هم داسې پوه شوم چې د جهان د مشر وررور کوچنې پنځه کلن ماشوم ته قورمه کې غوښه زما په خیال لږ ادی کیخودلې وه

چې ناساپه د ډوډی مینځ کې دا ماشوم ژړا شروع کړل چې ادی زه غوښه غواړم!؟ رښتیا غوښه یې هم ونه ویل یو ډېر ښایسته لهجه او لفظ یې ووایو چې موږ بیخې پوه نشو! خو د هغه ماشوم مور په شرمیدلې غږ وویل دا غوښه غواړی؟! د پرون شپې د خبرو د یاد راوړلو مې مسکا په خوله راوړل چې د روقیه غوسه ناکه غږ مې تر غوږ شو:

روقیه- مثال د خبری نن ستا د واده شپه ده، او ته دلته دسې ناسته یې، سړی پکر کوی په زوره یې یو اویا کلن بوډا ته ورکړی یې! چې داسې ماتم دی په ځان نیولې ګروپونه دی د کوټې مړه کړی د کوټې پردی دی شته(ښکته) کړی تکه توره شپه دی پځان جوړه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرت دی؟ جهان لالا چشې درته وویل؟

د روقیه په خبری مې ځان ته فکر شو رښتیا وایې دا هغه آرامان مګه نه و چې ما یو میاشت مخکې د ځان وژنې څخه مخکې کړی و؟! نو بیا ولې اوس داسې خسته او زړه نیولې یم؟ زما ټول خفګان او زړه تنګون د جهان له لاسه دی.! هغه زه په نازونو او نخرو آموخته کړم او اوس چې داسې بې پروا یې ماته کول نو زه داسې د ټول دنیا څخه نامیده کیږم، روقیه زما خواته راغله او زما د نالې څنګ ته کینسته پداسې حال کې چې زما لاس یې خپل لاس کې نیوې په کراره لهجه یې راته وویل:

روقیه- ما ته نه بیخي لیدلې وی نه مې چیری پیژندلې! یو دم ناساپه جهان لالا راغې او د ټولو مخ کې په کور کې وویل زه واده کوم! بس دا خبره وسوه او سبا یې موژ راغلو ستا مرکې ته، په هغه اول ورځ چې تا چندان سم میلمه پالنه هم زموژ څخه ونکړل او شه دی هم خپل په کار د ادی خبری سپک سپانده کړو! بیا هم زما په زړه شه ولګیدی، هغه ورځ هم ته دغسې خفه او زړه نیولې ویې.

د نکاح ترلو وخت کیدی هم دسې د "هو" لفظ و وایو لکه چې په زوره او جبر او په نه زړه دی ویلې ویې؟! ( د روقیه خبرو ته هک حیرانه وم یعنې زه دومره بنکاره ناراضه معلومیدم هغه ورځ؟ چې روقیه لا پوه شوی وه؟! خاموشه او حیرانه مې د روقیه خواته کتل چې هغې زما لاسونه خپل لاس کې کلک ونیو او ویې ویل: زه پوهیژم چې شاید ستا په زړه نه و لالا او تا بل رکم خوبونه به لیدلې وه خپل ژوند ته

خو باور وکه زما لالا هم شه سړی دی ستا د خوبونو د شهزاده رکم به نه ویې خو که ته وغواړی هغه رکم کیدی سی، پوهیژم ته شاید ډیر شیانو ته ورختا او بیریدلې یې لکه د کلې ژوند، د جونید سره عادت کول، د لالا په خوی او بوی پوهیدل دا ټول( اسما خبری کول او زه د هغې د خبرو یو لفظ ته حیرانه وم جونید نو سوک دی؟ زړه مې طاقت ونکړو او پوښتنه مې وکړل:

- جونید سوک دی؟

زما په خبری روقیه څو دقی حیران راوکتل او بیایې په کراره وویل: لالا لکه چې ندی درته ویلې؟ جونید زما وراره د لالا زوی.( د روقیه په خبره تازه مې سر خلاص شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان زوی د هغه بلې ښځې ښخه! نه پوهيږم ولې خو ناساپه مې د روقيه ښخه پوښتنه وکړل: هغه ولې مړه شول؟( مطلب مې د جهان اول ښځه يا که ژوندی وايې خدای بخښلی د خلکو خبره زما بنه!! اه چې سومره د بني له لفظ ښخه مې کرکه ده.

شايد ظالمه او په زړه کلک ښکاره شم او شايد حتا راته د کافری لقب هم راکړی خو زه اوس او همدی حال کې شکر باسم چې د جهان اول ښځه ژوندی نده! د پيغمبر(ص) بيبيانو مبارکو د بنې طاقت او زغم نه درلود! نو زما ښخه خو هيس گيله نشته! روقيه خبره پورته ښکته کوی او ناساپه وايې:

روقيه- وی عجبه شی يی! د واده شپه دی ده او ته ناسته يې زما ښخه سنگه پوشتنې کوی؟( بيا په داسې حال کې چې خپل زما له ښنګ ښخه پاسيدل زه يې هم لځايه ځان سره پورته کړم او ويې ويل: راځه زه دی جوړه کړم د دی ښخه مخکې چې د ادی ژغ پورته سې چې دا زموږ ناوی ولې نه رامعلوميژی؟

د روقيه په ډير تينګار او خبرو حمام مې وکړو او د هيندارى مخکې ناسته وم، چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او نيلوفر خپل د هميشه مزاج مطابق په شور او چغو راننوتل کوټې ته د هغې سره روقيه هم راننوتل چې نيوفر اجازه ورنکړل او ورته ويې ويل: وای وای زه غوارم خپل د ملګری سره يوائې لږ خبری وکرم هسی هم تاسو بيا رانه وړی..!

د نيلوفر پدی خبره روقيه وخندل او ويې ويل: خبرو مشکل خو نسته هسی زموژ ناوی هوايې نکړی نور بلا دی ورپسی وی. !
نيلوفر په حيرانه لهجه وويل: چرا هوايی بشه؟
روقيه- امممم نه يم خبر...

روقيه دا خبره وکړل او پداسی حال کې چې زما خواته يې سترګه وهل د کوټې دروازه يې بنده کړل او موږ دواړه يې په حيرت کې پاتې کړو! د هغی د تلو وروسته نيلوفر زما خواته راغله او زما په ليدو يې په تروش تندی وويل: سم دم با ديوانه ها افتادی هوسی!

هيس جواب مې ورنکړو او خاموش مې ورروکتل او ومې ويل: تاته چا خبر درکړی؟
زما په خبری نيلوفر زما لاس کلک چونګاری کړو او په خفه لهجه يې وويل: خاک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرت بشه ما مثلاً دوست صمیمی تو دیوانه هستم! ستا لځایه ستا خور خبر راکړو ما هم خپل مورجانې ته دومره زاری وکړل چی اجازه یې راکړل راشم.

هیس مې ورته ونه ویل خوشحاله وم چې راغلی وه، نیلوفر زما په سینګار کولو بوخته شوه، او زه همداسی خاموشه ورته ناسته وم چې هغې په تروش تندی د هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: هـــا! چې است؟ ولې دسی ګم سم( خاموش ګونګې) ناسته یې؟

په داسی غږ چې خپله مې لا په تکلیف آوریدی کرار مې وویل: هیس...
نیلوفر- ما ته به دروغ نه وایې چې ستا رګ رګ او ریشه پیژنم! چې شوده!؟

نیلوفر لاس زما د سینګار کولو څخه اخیستی وو، او منتظر وه زما جواب ته! نیلوفر د حسیب او د جهان د کیسو نه وه خبره! یعنی هیس سوک ورڅخه خبر نه وو، زه اوس حیرانه او پریشانه وم او زړه مې ویل یو چاته خپل د زړه درد ووایه ترڅو راته یو لاره چاره وښای! او نیلوفر بهترینه نفر راته ښکاریده! څکه هغې حسیب پیژندی؟! خپل خبری ځان سره پورته ښکته کوم او نه پوهیږم څنګه ورته بیام کړم چې هغی خپل وویل:

نیلوفر- خبره خو په حسیب باندی نده مربوط؟
د هغې پدی خبره زما د زړه راز هم ورته ښکاره شو او ما ورته د الف څخه تر یا ټولې کیسې ورته وکړل، د حسیب د ګوابنونو څخه نیولې زما د ځان وژنی نیت او د جهان خبریدل د موضوع څخه، او بیا د حسیب وهل ډبول د جهان په لاسونو! زما د هر خبری سره د نیلوفر سترګی د حیرت څخه خلاصیدی کله چې خبری مې خلاص شوی نو هغې راته په خلاصه خول کتل چې ما ورباندی غږ کړو:

- نیلو اوس ستا په نظر زه څه وکړم چې جهان شک پر ما کم شی؟ پخدای زه نور عمر کې لا د هغه منحوس( حسیب) نوم لا نه اخلم خبری کول خو ورسره لری! خو جهان زما خبره نه منې او راباندی ش...( خبره مې تمام شوی نه وه چې نیلوفر په حیران لهجه وویل: چطور؟ ... چطور ته یې ژوندی پریخودی؟

په حیرت وایم: چا؟
نیلوفر- ستا خاوند؟ شوهرت؟ مګه تا نه وه ویلې چې اطرافی هست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو د اطرافو ښځه دی.
نیلوفر- نو سنګه؟ چطور امکان داره چی تاته یې هیس ندی ویلی؟

د نیلوفر جواب می ورنکړو ځکه زه تراوسه خپل هم د جهان و دی پریکړی ته حیرانه وم! ولی جهان زه مړه نکړم؟ ولی زه ژوندی پریخودم؟ مګه د پښتنو او د اطرافو رواج او فرهنګ دا ندی چي په داسی خبرو باندی د غیرت او ناموس نوم او نشان ټاپه ووهي او جنۍ مړه کړی؟! ولې جهان زما د وینې ځخه راته تیر شو؟! زه لا په همدی فکرونو کې وم چې نیلوفر وویل:

نیلوفر- وای وای خدای من، سومره ته بختوره یې هوسۍ! یعني دومره مینه؟ باور وکړه تا ضرور د کوم پیر صیب لاس نیولې وو چې خدای داسی په مرګ کی بچ کړی یی.!؟

هیس جواب نه ورکوم چې هغه راته په نصیحتونو شروع کوی، اول راته د حسیب بد وایې او خبرو خبرو کې هغه یې ښه بیاب کړو بیا نمبر زما د ځان وژنی خبری ته ورسیده، چی د هغه لپاره یې زه ښه چونګاری کړم او خبری راته وکړل چې ولی می هغې ته خبر نه و ورکړی او داسی یو احمقانه پریکړه مې نیولی وه؟! بیا خبره د جهان د رارسیدو او د هغه د کارونو په اړه رسیږی چې نیلوفر اول خو ښه پریمانه د هغه تعریف کوی او اخیره کې په خندا او شیطنت وایې:

نیلوفر- بخدا ایکه مرد خوب ما د عمرم ندیدم! باور وکه زړه مې غواړی امباغت بشم( مطلب ښه دی شم، نیلوفر دا خبره کوی او په کټ،کټ خاندی چې زه ورته بد بد ګورم او وایم: بلا بلا دا هم ستا دلداری چې ماته راکوی!؟( او بیا د هغې د خولې پیښې کوم او وایم: زړه می غواړی امباغت بشم( زما په خبرو نیلوفر بد بد راګوری او وایې: خو خاک د سرت بشه تا داسی کار کړی چی خدای بچ کړی یی د مرګ ځخه زه اوس څه درته ووایم؟ ما اول ځخه هغه قاق روده لاغر مردني ( حسیب) خوښ نه وو؟!

خو تو زده بود به سرت کیناستي پاسیدلې یو خبره دی کول حسیب... حسیب ... چقدر درته ومی ویل دا وچ لرګې ماته سم نښکاری!؟ خو تا ویل نه... زما حسی....( نیلوفر لا خبره نه وه پوره کړی چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او روقیه را ننوتل او په مشکوکه نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دواړو ته چې خپل خبرې مو نیم کی پرېخودلی وه وکتل او ویې ویل:

روقیه- امممم لکه چې مزاحمه شوم؟
د روقیه په خبرې نیلوفر په خلاص تندی او خوشحالي وویل: نې..نې چې مزاحمت!؟ موږ هم نور درتلو بهر کنه هوسې؟
د نیلوفر په داسې موضوع بدله ولو مې ورته په ځیر ځیر وکتل چې هغې هم مقابل کې خوله وخوځیده روقیه وانه وریدل خو زه پوهه شوم چې ماته یې کنځل وکړل! هو نو دومره یې پیژنم خپل لیونی ملګرې می ده، نظر د نیلوفر څخه اخلم او روقیه ته چې تراوسه یې موږ دواړو ته په مشکوکه نظر راکتل وایم:

- هو روقیه جانې موږ هم نور درتلو ..
زما په خبرې روقیه په خوشحالي وایې: اشه نو تاسو راځې زه ولاړسم هغه دایره یو څه یخ اوبو باندی ووهم چې کلک سې.
نیلوفر- ای جان ما دایره زیات خوش دارم، تاسو دایره وهل زده دی؟
د نیلوفر په خبره روقیه په خندا ورته وایې: اووو زده چې څه کوی سم پکی ماسټرې مو اخیستی...

روقیه او نیلوفر د دایرې او د ټپو او سندرو په اړه بحث شروع کوی او زه د هینداری خواته مخ اړوم،هینداره کې مې خپل تصویر ته چې د نیلوفر په کامل استادانه او ماهرانه سینګار باندی زما مخ ته یې سرخې او ښایست بخښلی وو، خو اوس هم که یو ماهر او په رنځ پوه انسان را وګوری نو زما د سترګو څخه زما ویره او وحشت احساس کولې شې! زه تراوسه د هغه یو میاشت مخکې د پیښې او حادثې د حیرت څخه نه وم راوتلې...؟!

فکر مې کوی دا ټول یو خوب او خیال وو؟! تراوسه د شپې په خوب کی هغه سحرا او دښته ګورم تراوسه د حسیب چغې او نارې او زارې مې په غوږ کیدی! او ماته د حسیب چغې او زارې دومره زور نه راکوی سومره چې د جهان او د هغه د اوښکو ډکی سترګې او د هغه پر ما مات شوی اعتبار زما زړه په درد راوړی.... روقیه پدی لفظ چې غواړې دایره جوړه کړی له کوټې ووتل او نیلوفر یو ځل بیا ماته په نصیحت شول، د هغې خبرې زما لپاره داسې وه لکه په زخم باندی د مرحم پشان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلوفر- ګوره هوسۍ زه تاته هسی هوای خبری او تعریفونه نکوم، خو باور وکه شوهرت زیات مرد خوبې است! ما تاته خپل د خاله د لور د خودکشي کیسه خو کړی وه کنه؟ ( د هغې په جواب کې زه د هو پشان سر ورته خوځه وم، لږ لږ مي د نیلوفر خبری یاد وه چي راته ویلې وه! نیلوفر یو ژوره ساه اخلې او په غمجنه لهجه وایې:

نیلوفر- دختر خاله مه زیات خوب دختر بود بیخی زموږ رکم نه وه، زیات آرامه او معصومک بود، زما د عمه زوی سره یې نامزدی وشو خوشحاله وه بیحده موږ به چي ورڅخه سوال میکردیم چي خاوند دی ښنګه دی؟ نو په خوشحالی به یې ویل داسی ښه آدم به روی زمین نیست، دومره وربادی ګران وو چې حد نه درلود، د هغی د خودکشی په اصل قیصې زه تازه خبره شوم!؟ یو هیړی هغې ولې ځان یو دم داسی ناساپه مړه کړل؟

د نه پشان ورته سر خوځه وم چي نیلوفر په پسخند وایې: زما د خاله یو همسایه وو هلک به کله ناکله زما د خاله لور ته هسی بیځایه خبری کول، خو دی په غوږ نه نیول یوه ورځ چي دی غوښتل خپل د نامزد سره چکر ته لارشی د همسایه هلک زما د خاله لور د همدوی د کوڅې مخکی دره ویې او ورته خپل د مینتوب او لیونتوب کیسی کوی! ای کی هر چقدر کوشش میکنه از دستش وتختی هلک دا نه پریږدی او دغه وخت د دی نامزد راځی ...

او د دی لځایه چی هلک ووهی او هغه ته کوم څه ووایی خپل په نامزد تهمت لګوی او هغې ته بدی خبری کوی! زما د خاله لور هم زیات احساستی کیږی او کورته راځی او مثال میخاست خودش به نامزدش عزیز کنه یو څو د خوب ګولی خوړی ترڅو نامزد یې و ویریږی او بیرته د دی څخه بخښنه وغواړی خو قسمتش نبود او ګولې زیات قوی بود او دی هم زیات خوړلی وه نو څکه مړه شول هسی مفت مفت! اوس زما د عمه زوی بله ښځه وکړه، او د همسایه زوی هم نامزدی! بدبخت د ای بین یواځې زما د خاله لور وه چې مړه شول ...

د نیلوفر خبرو ته هک حیرانه مې ورکتل! یعنی دومره خبری باندی د یو انسان ژوند تلل ظلم نه وو؟ په داسې حال کې چې هیس ګناه هم نه وه؟ نیلوفر ماته راګوری او وایې: اوس زما نصیحت و تاته دی کوشش کو اعتماد او باور خپل د میره بیرته لاس ته راوړی کنه ژوند دی جهنم میشه جهنم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلوفر دا خبری کوی او ما له لاسه نیسي ترڅو د کوټې څخه بهر لاړی شو، او د تلو تلو سره یو څه لاری چاری هم را معلوم کوی چی سنګه بیرته جهان زړه ځان خواته راوړم! او د نیلوفر د ټول خبرو او نصیحتونو یو پایلي ته زه ورسه ولم؟! هغه دا چي د نیلوفر په نظر زه باید اوس هغه مینه محبت او توجه جهان ته وکړم کوم چی هغه ماته درلود؟ مطلب کار برعکس هغه وخت ما د جهان څخه مخ پټوی اوس که هغه پټ کړو زه باید مخکې لاړشم او خبری او بحث ورسره وکړم؟!

سخته وه! د حد څخه هم زیات سخته وه، د هلیز ته په ننوتلو د جهان ټول راغلی کورنی او د هغوی څنګ ته خپل په دوه دری د خاله لورګانو مې نظر ولګیدی، د دهلیز په سر کی دوه نالې سر په سر اچول شوی وه او یو ټوکر هم وربا‌ندی وو داسی جوړ کړی وو لکه د ناوی ځای پشان! او هو هغه زما لپاره وو روقیه په خوشحالی زما خواته راغله او زه یې هغه ځای باندی کینولم، او بیا په شوق یې دایره راوخیسته او ویې ویل:

روقیه- عه عه وګوره موږ د چا سره راغلی یو واده ته؟ نه یو نڅا نه یو دایره! نه یو سندره؟! نو دا تاسو ولی راتلی واده ته؟ خو کور کی به پاتی شوی واست؟!

روقیه دا خبری خپل د ځان سره راغلی ښځو ته وکړل چي د هغوی مینځ کی یو نری دنګه او ښایسته ښځه چي آسما راته وویل د جهان مشره وریندار ده په خندا دایره د روقیه له لاسه اخلی او وایې: وی وی چا ویل چی موږ مجلس نزده اوس ته ورته ګوره زه خپل د لیوره په شزی څه باندار نیسم...!؟

هغې دا خبره وکړل او دایره په وهلو شروع کوی، دومره شایسته او ماهره توګه باندی دایره وهی چی ما او نیلوفر ورته په خلاصو خولو د حیرت څخه ورکتل، بیحده سم دایره یې وهل د دایری وهلو سره د ټیپی په ویلو لګیا کیږی او د حق څخه تیره نشم غږ یې هم د دایری پشان ښایسته او خوږ وو؟! لهجه یې زیات کلکه وه او زه یې د څو ټپو او مصری ګانو په معنا بیخی پوه نشوم خو وروسته د روقیه او نور ښځو په یوځای کیدلو د خبری په معنا لږ لږ سر مې خلاص شو:

ما او ګل سره حملې کړی بګې وا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې کور په کور ناری کړی بګې وا

ما او ګل سره حملې کړی بګې وا
مور يې خوا پر بده وله بګې وا

هغه لر سړک د موټر ګور سو بګې وا
مور يې زوی راوړی مامور سو بګې وا

ګران اوس موټر په غرو ځی بګې وا
زما جوړه وروڼه پر پښو ځی بګې وا

د شين آس موټر پنچر سو بګې وا
زما جوړه وروڼه نظر سول بګې وا

ګله شينسته غرمه ده بګې وا
زما چارګل کړی سايه ده بګې وا

ګله مه زغله ماشام دی بګې وا
ستا په جيب کې زما سلام دی بګې وا

ګله مه زغله اغزی دی بګې وا
ستا په جيب کی زما رانجه دی بګې وا

د برمک لاندی هګې ده بګې وا
دا د پوری ناوکې ده بګې وا

د آسمان په سنګرو کې بګې وا
د يخشک په تيارو کې بګې وا

د يخشک په تيارو کې بګې وا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لښتي يې په جيبو کې بګې وا

زما ګله جهان ګل بګې وا
ناوی راوړه د کابل بګې وا

زما ګل ولې خسته دی بګې وا
لو کوی ورور ورسره دی بګې وا

لو کوی ورور ورسره دی بګې وا
د لو ګرو شهزاده دی بګې وا

د ټپې مينځ کی روقيه په شيطنت خپل وريندار ته وويل: زما خوره ده ډنګره ..( د هغې پدی لفظ ټولو وخندل خو زه هغه وخت پر معنا يې پوهه شوم چې د جهان مشری وريندارۍ خپل د ټپی په دويم مصرۍ کې د روقيه الفاظ ور ګډ کړل...

زما خور ده ډنګره بګې وا
ستن په سو وهې ډاکټره بګې وا

توره نده بوره ګې ده بګې وا
شا يې ملر مخ يې سپوږمۍ ده بګې وا

د رقيب په بام ولاړه بګې وا
جرمنې ټوپک په غاړه بګې وا

د موټر په سيټ کې سپور دی بګې وا
د نظر تعويذ يې تور دی بګې وا

زما د ګل په مخ کې يوم دی بګې وا
په ځوانانو کې معلوم دی بګې وا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما و ګل ته ځان تيار کړو بګې وا
ګل چوپان و خر يې بار کې بګې وا

د پلو لاندې تيريدی سپيني غونچې انجلې،ولی مې سيځې انجلي غريب ګيله کړی ولې مې سيځې انجلی غريب ګيله کړی.....

د دی اخيری مصری او ټپې په ويلو روقيه په خندا دايره خپل د مشر وريندارۍ له لاسه واخيسته! خو ما او نيلوفر تراوسه ورته حيران حيران کتل! دا دومره يو کتاب خبری دوی څنګه د حفظ ښخه زده کړی وه؟! زه چې ځانته د رحمان بابا د شعرونو مينواله اويم ولاکه مې داسی زده کړی وی؟!

تر لس بجو روقيه مجلس ګرم ساتلې وو او هم نڅا يې کول او هم ټپی ويل! دومره شوقې وه د جهان خان په راغلی ټول کورنی کی روقيه د ټولو ښخه خوشحاله وه، جهان دری خويندی درلود او روقيه د ټولو ښخه کوچنی او کوژده کړی وه د کاکا زوی ته يې ورکړی وه! د جهان هغه دوه نور راغلی خويندی دواړه واده کړی او ماشومان درلود مشر خور يې بيا هم لږ لږ بنه وه خبری کول خندل خو دويمې خور يې هيس نه ويل؟!

نه يو خوشحالې نه کوم خبره هيس ... هيس لکه بت پشان ناسته وه نه پو هيږم ولی؟د يوولس بجو شاوخوا د نيلوفر وررور دهغې پسی راغی او هغه يې ويوړه په تلو تلو کی نيلوفر زر منه نصيحتونه راته وکړل او قول يې راکړو چی سهار به وخته راځی بيرته، شپه نور په خلاصيدو وه خو تراوسه د جهان وريندارګيانی او د کاکا لورګانی ناستې ول او دايری وهل او ټپی ويل! دومره شوقی خلک، زه د زيات ستړيا ښخه نوره کيناستلې نشوم په خواهشمند نظر مې د آسما او ادی خواته کتل چې مرسته راسره وکړی او د دی ځای ښخه مې وباسی...

خو د ادی او اسما لځايه د جهان مور وويل: انجونو بس دی سبا هم د واده ورځ ده ولاړسی بيدی سی چی سبا خو يوښه شومه( توان) ولری چې يو کار وکی..
روقيه په شيطنت باندی وايې: وی زه ادی زه تازه روانه وم چې ولاړت سم لالا ته مې ناری کم چې راسی خوشينه يې ورته ګوته په نکريزو سره کړی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روقیه پدی خبره زه د شرم څخه سر ښکته اچوم خو په دهلیز کی موجود ټول ښځې خاندی او کرار کرار ټول د ادی د کوټې خواته روان کيږی، او ځینې لا دهلیز کې ځانته ځایونه اچوی ځکه کوټه کې ځای نه وو؟! د هغوی په شور ما شر آسما ما د لاس څخه نیسی او د کوټې خواته می وړی او روقیه هم په شیطنت باندی یو ماشوم د جهان پسی استوی..

دا زموږ رسم هم و د واده په شپې د ناوی زوم ځای د ناوی خور اچوی! او د زوم کچنږه (کوچنی ګوته) د هغه خواښینه( مطلب د ناوی خور) سره کوی او زوم هم خپل خوشنې ته پیسی ورکوی او هم د نالې لاندی بیسی ایږدی ترڅو سهار هر چا ځای ټول کړو پیسی هغه کس واخلې! البته ناوی حق نلری خپل د واده ځای خپل ټول کړی!؟ آسما پدی رسم او رواجونو باندی زما څخه ښه خبره وه!

ما د هغی د واده په شپه د ادی په زور او ښیراو ورغلم او د جمیل ګوته می په تلوار سره کړه حتا پیسی ما لا وانخیستل ورڅخه او الفرار هغه بیچاره بیا سهار د آشما په لاس ماته پیسي راوستول! ځای هم ورته ادی اچولې وو ما د دی رسم او رواج څخه بد راتلل! نه پوهیږم ولی؟! خو آسما اوس ټول کارونه کړی وه زه یې په هوار کړی نالې کینولم او خپل د کوټې څخه ووتل!

زړه می بی واره درزیدی د هر خرپ سره می په تلوار د کوټې دروازی ته کتل! ځان سره مې ویل چې شاید جهان رانشې! نه پوهیږم خو همدا احساس مې درلود لس دقې تیری شوی او زه د جهان د راتلو څخه تقریبا نامیده شوی وم او سترګې مې د اوښکو ډکیدو حال کې وه، چې د روقیه غږ مې د کوټې د دروازی شا څخه تر غوږ شو:

روقیه- ادی دایره رانه واخیستل کنې اوس مې دایره درته وهل!

د روقیه د خندا څخه ډک دا الفاظ آورم او بیا دروازه خلاصه شوه او دواړه خور ورور کوټې ته راننوتل، نه پوهیږم ولی خو نظر مې بې اختیاره د جهان خواته کش سو تندی تروش وو د کوټې شاوخوا ته یې کتل خو ماته یې هیس نظر نه برابره وی! زړه می ورنه ونیول شو خو هیس می ونه ویل روقیه جهان لاس نیولې زما څنګ ته په نالې کینوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د کیناستلو سره سم آسما هم کوچنی قاب په لاس کې نیولې چې پکی نکریزی وه کوټی ته راننوتل

زموږ دواړه په لیدو یی وخندل او د جهان خواته راغله، جهان زما څخه لری ناست وو مطلب په یو څه فاصله کې ناست و خو د آسما په راتګ د هغه څنګ ته جهان په یو محسوس اندازه زما خواته ځان راکش کړو او د آسما سره یې کامل فاصله ونیول خو سترګی لا هم لاندی د کوټی د غالی ګلانو ته نیولی وه هیچا ته یی نه کتل!نه ماته نه اسما ته او نه هم روقیه ته؟! آسما نکریزی د قاب څخه راپورته کړل او د جهان خان لاس ته یې په اشاره وویل: اوخبنی لاس دی راکړه!

د آسما په خبره جهان سترګی د غالی د ګلانو څخه واخیستل او آسما ته یې لنډ نظر وکتل بیا د هغې لاس کی نکریزو ته وکتل او کله چې متوجه شو چې آسما غواړی د هغه ګوته ورته په نکریزو سره کړی تندی وار تر واره تروش شو لکه چې زړه یې نه وو آسما ورته ګوته په نکریزو سره کړی؟! ما هم یواځې کتل! ناساپه مې یو فکر ذهن ته راغي جهان د کوژدی په دی څو میاشتو کې یو ځل هم سم مجلس او خبری د ادی او آسما سره نه وکړی؟ لکه سنګه چې جمیل یا هم اجمل کول؟!

ولې؟ خپل جواب می خپل ورکړی ځکه جهان بیحده زیات په محرم نامحرم او حلال حرام پسې سر ګرځه وی! او د هغه په نظر خوښیني ته لاس ورکول او د خواښې سره بیځایه ټوکې ټکالې کول ښه خبره نده!؟ نه پوهیږم ولې خو ناساپه مې خپل د جهان لاس ونیو چې هغه په حیرت سر راپورته کړو، خو ما بغیر لدی چې د هغه حیران نظر ته وګورم په خندا مې آسما ته وویل: ګوته به یې زه سره کړم پیسې به تاته درکړی قبوله ده؟

زما په نظر آسما هم د جهان زړه نا زړه اوسیدو ته پام شوی وو چې ویې ویل: صحیح ده خو بیا دسی نشي چې په پیسو راسره لانجه واچوی!

د آسما په خبره مې وخندل او بغیر لدی چې جواب ورکړم د جهان مردانه لاس مې خپل خواته راکش کړو او د هغه د لاس کوچني ګوته مې په نکریزو ورته سره کړل! د ګوتې د سره کیدو وروسته مې لاس ورته خوشي کړو چې جهان خپل لاس خپل جیب ته کړو او نه پوهیږم سومره روپی آسما خواته ونیول؟ آسما هم په خندا او خوشحالي د جهان له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې واخیستل

روقیه او آسما یو څو دقی زموږ سره کوټه کې ناستې ول، او خبرې او شیطنت یې کوی خو د څو دقو وروسته د جهان تروش تندی او زما یو دم خاموشې دواړی مجبور کړل چې کوټه پرېږدی او لاړی شې! د هغوی د تلو او د کوټې دروازی بندیدو سره زما د زړه درزا یو ځل بیا سلو ته وختل، د څو دقو لپاره خاموش خاموشی وه، نه هغه خبرې کول نه هم ما! د لږ ځنډ وروسته جهان خپل د سر خولې ته لاس کړو او هغه یې د سر وباسل او خپل د بالښت اندې ته یې کیخودل او بغیر لدی چې ماته راوګوری یا کومه خبره وکړی

زما څخه لری د نالې په بل اړخ وځملیدی او ماته یې شا کړل!؟ د جهان پدی کار هم حیرانه وم او هم مې زړه ونیول شو او سترګې مې د اوښکو ډکی شول! څو دقی همغسی ناسته وم چې د هغه کرار غږ مې واوریدی: بیدیژی یا تر سهاره غواړی زما سر ته لکه شیشکانو شینی؟ (کینې)

شاید د جهان خبره دومره کلک او بده نه وه! خو زما زړه ورته زیات نازک وو زما په زړه دهغه خبره لکه مرمې ولګیده، د سترګو څخه مې اوښکې په بهیدو شول او بغیر لدی چې جواب ورکړم لځایه پاسیدم، پینې مې په ټوکرانو باندی آسما او ادی تړلی وه! ځکه ویل یې دا رکم نکریزو رنګ تک سور کیږی او پینې دی سم رنګ اخلې!؟ په همغه ټوکرانو سره ولاړم د کوټې ګروپ مې خاموش کړو او بیرته خپل ځای ته راغلم

ما هم ورنه خپل ځان دری منه لری کړو او زړه نیولې د ویده کیدو کوشش مې وکړو، خو خوب چیرته وو؟ د نیلوفر خبرې مې ذهن کې ګرځیدل هغې د تلو څخه مخکې بار بار تاکید کو چې مه پرېږده د خاوند شک او زړه تور والې دی درباندی زیات شې؟! د هغې خبرو ته فکر ویوړم نو زه اوس څه وکړم؟ کله چې جهان ماته لږ هم بی فکری یا کم توجهې وکړی راته زما زړه ورڅخه نیول کیږی او زړه مې غواړی د ماشومانو پشان ژړا ته ملا وتړم!!

خو ژړا او ناز هم تر یو حده نه اوس چې د جهان زړه پر ما تور دی او زه دی وربانډی ناز وکړم! اوس زما ناز او زما غمژنه کیدل هغه ته بل معنا ورکوی! زه شاید ددی لپاره خفه شم چې جهان ولې د پخوا پشان ندی او ولې زما ناز او نخری نه اخلې؟ او هغه زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفګان څخه دا معنا او تعبیر اخلې چې زما زړه ورسره ندی!؟ پدی فکر خپل مخ د هغه خواته راوړم تراوسه یې ماته شا وه! په کراره غږ ورته ناری کوم فکر کوم شاید ویده ویې؟! خو د هغه د هوم په جواب راکول پوه شوم هغه ته هم خوب نه ورځی

خاموشه کیږم او هغه هم پوښتنه نکوی چې څه دی ویل؟ حتا خپل مخ لا نه راګرځه ویې د لږ ځنډ وروسته خپل خبره ځان سره پورته ښکته کوم او وایم: ه.... غه ما ویل ت... تاسو زما څخه خفه یاست؟

بیا هم جهان هیس جواب نه راکوی او زه منتظره د هغه خواته ګورم چې د څو شیبو وروسته هغه کرار زما خواته مخ راګرځه ویې پدی توره تیاره کی هم د هغه سری سترګی او تروش تندی لیدلې شم! څو دقې همغسې زبر او زیر باندی راګوری بیا کرار وایې: بیده څه زما سر دسې درد کوی د خبرو حوصله نلرم.

د هغه پدی خبره سترګی می بیا د اوښکو ډکې شول، ولې د هغه دومره کوچنې خبره هم پر ما بده لګیده؟ ولې مې زړه غواړی ددی خبرو لځایه د پخوا پشان زما سره خبری وکړی او زما ناز واخلې؟ جهان بیرته ماته شا راګرځه وی او ویدیږی! زه هم په نیولې زړه او خفګان بیرته خپل ځای خواته ځم او د ویده کیدلو کوښښ کوم، د سهار آذنو پوری مې سترګو ته خوب رانغې! زما په خیال جهان هم ویده شوی نه و؟ ځکه همدا چې مولا الله کړل تر اکبر رسیدلې نه وو چې د کوټې څخه ووتې

د کوټې د دروازی په خرپ چې د جهان د تلو خبر یې راکو بی اختیار مې د سترګو څخه اوښکې په بهیدو شول خدایه زما سره مرسته وکړه زه ستا د آزماینتونو او د تقدیر د کړښو سره په یواځې ځان مبارزه او مخامخ کیدلې نشم! ته راسره مرسته وکړه ته مې یواځې پدی امتحان کې مه پریږده کنه داسې به ناکامه او ماته وخورم چې د جوړه ولو به نه یم..

نیلوفر خپل د قول مطابق سهار وخته په ۷ بجو راغلل داسې چې تول ویده وه، جهان ماته د آریشګاه د تلو اجازه رانکړل، او زه هم مجبور خپل کوټه کې په ژړا کیناستم ما د آریشګاه او د سینګار کیدو آرمان درلود، ما غوښتل واده مې په هوټل کې اوسیږی خو د جهان کورنې ویلی وه چې موږ رسم لرو جنۍ د پلار د کور څخه ویسو نه د هوټل څخه؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر غرمه د کوټې څخه ونه وتلم! زما واده وو تږلو د باندی نڅا ګاڼې کول اتڼ یې کوی د شلو څخه یې زیات رنګا رنګ کالي په دوه ساعتو کې بدل کړی وه

خو زه خپل کوټه کي یواځې ناسته وم د ماښام جوړه کالي مي اغوستي وه چي نیلوفر کوټې ته راننوتل، زما په هغه خوار زار لیدو یې تندی تروش سو او زما ځنګ ته راغلل د هغې په لیدو مې فکر وکړو په یواځې او تنها میدان کې مې یو شناخته پیدا کړی وی هغې زه غیږ کی ونیولم او ما ورته ژړا شروع کړل نیلوفر هم څه نه ویل یواځې زه یې غیږ پوری نیولې وم

هغه پوهیدل چې اوس زه یواځې یو هم دم او هم راز غواړم نه نصیحت کونکې، ما ژړل ګیلې مې کول د جهان د پرون شپې د بد اخلاقې او خبرو مې ورته وویل خپل د آرمان مې ورته ویل او هغې کرار کرار زما په سر لاس تیر کو ښه چې و مې ژړل او زړه مې سپک شو ګنګس او سرګردانه پاسیدم نیلوفر بغیر له کوم خبری راسره مرسته وکړل ترڅو سپین جوړه کالي مې واغوندم، او راته سینګار یې وکړو او بیا د یو لوبو نانځکې پشان لاس په لاس د ښځو مینځ کې وم او هغوی زما شاوخوا ته نڅا او سندری ویل، خو زما زړه غوښتو سترګې پټې کړم او دا ټول شیان دی تمام شوی وی

نه پوهیږم سومره وخت هلته وم چې د څو سړیانو غږ راغې او د دویم ځل لپاره یې زما او د جهان نکاح وتړل، او زما زړه کې دا خبره راوګرځیدل چې دا نکاح به سمه وی؟ اول نکاح د کوژدی په شپه هغه کې ما شک درلود او دا دویم نکاح د واده د جهان! آیا د شک او تردید او د مجبوری نکاح په نکاح کې حساب کیږی؟ نکاح وتړل شوه ډوډی ورکول شوه، د ادی خبره د فیروزخان( د جهان پلار) ارباب د زوی واده وو دومره حد میلمانه راغلي وه چې نیلوفر ویل از سر کوچه بګیر تا سرک راه بند بودا!

دوه غوایان یې حلال کړی وه دوه رکم غوښه، وریجې، سلاټ، کوفته،پیپسی، حتا فرینې لا پخ کړی وه! خو ما خپل د واده د ډوډی څخه یو ګوله لا څکه ونکړل! د غرمې مونځونه وشول نکاح وتړل شول، ډوډی ورکول شول! خو زه همغسی د بت پشان ناسته وم او فکر مې یو خبری ته وو د دی څخه وروسته به څه وشې؟ ټول فکر او ذکر مې د جهان تروش تندی او خاموش

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر کې وو چې د روقیه غږ د فکرونو د نړی څخه راوباسلم...

روقیه- موټر ولاړ دی بابا وایې نور راځې.

د روقیه په خبری مې اوښکې په بهیدو شول، چې نیلوفر راغاړی وتل د هغې د ژړا په غږ زما خاموش اوښکې هم په ساندو او ژړا بدلې شول، چې آسما رامخکې شوه پداسې حال کې چې زه یې غیږ کې نیولم په ژړا یې وویل: ولی ژاړی لیونې دا خو د ژوند لاره ده خدای دی خوشحاله او بختوره که ورسره، ټول اخیر یوه ورځ واده کیږی کومه پښتنه انجلی د پلار په کور پاتې شوی چې ته پاتی شی!؟ مه ژاړه خوری.

آسما خبری کول دلداری راکول خو زما زړه بی وار او نا آرمه درزیدی، د آسما او نیلوفر وروسته د ادی نمبر وو ادی پداسې حال کې چې د پیسو ډک شین شال یې زما په سر راچوی په غیږ کې ونیولم، او ما اول ځل د ادی داسی جگر سوزه ژړا چې ټول ښځې یې په ژړا کړل ولیدو، ادی داسی ژړل چې اخیره د جهان مور زما څخه جلا کړه او ورته ویې ویل: وی خوری سوک نو دسی کوی؟ لور ته دی دعا وکه چې خدای بخت او قسمت سم کی تاسو ولی دسی کوی؟! په خوشحالی کی سوک نه ژاړی خوری.

د جهان مور ادی ته نصیحتونه کول خو ادی اوښکې نه تم کیدی، او بی واره یې به مخ روانې وه د ژړا مینځ کی ادی د جهان د مور لاس ونیو او ورته ویې ویل: خدای او قران درته مخکې کوم خوری ستا او ستا د اولادونو ده سر زما لور ستوی د کور د کارو نده ظلم به وربادی نکوی، زیاتی به وربادی نکوی سنګه چې درته روقیه ګرانه ده د هغې نیم اندازه ګرانښت زما لور ته ورکړه، دا هم زما او خپل د پلار د زړه ټوټه ده، اولاد مې دی

ادی خبری کول او ما ورته ژړل د جهان مور د ادی لاس نیولی و او دلداری ورکول، خاله هم راغله او د ادی اوری ونیول او نصیحتونه یې ورته شروع کړل، دومره زړه مې نازک شوی و چې د خاله د لورګانو په غیږ کی مې هم وژړل د هغوی ټول بد خبری او کارونه مې لیاده و باسل او ښکل می کړل او و مې ژړل فکر می کوی ما د قربانې ډګر ته وړی او بیا به د هغه ځایه ژوندی رانشم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور، رسم درلود د ناوی د پیښي بوټ یا هم چپلکه د ناوی وررور ورته په پښو کول او ملا یې ورته په یو دسما تړل! خو ما وررور نه درلود ما وررور نه درلود چې ماته دا کار وکړی، ما وررور نه درلود چې پر اوږه یې سر کیږدم او هغه راته ووایې خوری هر مشکل چې وو پر ما غږ کوه زه درسره یم، ما وررور نه درلود چې د زړه درد ورته ووایم. آسما پداسې حال کې چې اوښکې پر مخ لاری کړی وه ویې ویل: بابا د دروازی شاته دی غواړی راشی.

د آسما په خبره دهلیز ژر خالي شو او ځینې ښځې د راغلې موټرو خواته ولاړه او ځینې هم د حجاب اغوستو لپاره کوټې ته، زه پاتی شوم او ځینی شناخته خپلوان او د جهان مور چې د ادی څنګ ته ولاړه وه، نیلوفر هم ولاړه او د اوښکو ډکی سترګی یې ځې زما څخه لرې لری شول، بابا په یا الله ویلو دهلیز ته راداخل شو د بابا په لیدو مې کنترول نور هم له لاس ورکړی او ژړا مې زور ونیول چې زما د ژړا غږ سره د ادی ساندی هم پورته شوی..

بابا خپل په لاس زما شال لږ پورته کړی او ما اول ځل د بابا لاس داسې په لړزی ولیدی! ما سر ښکته واچوی چې بابا رانږدی شو او خپل په همیشنې مهربانې وویل: تل راته همغه اوه کلن ماشوم ښکاریدی چې خپل نانځکی دی راوړل او د دهلیز کونج کې دی ورته الله هو ویل او ویده کول دی. هیس کله مې فکر نکوی چې ته به یوه ورځ غټه شې او واده به کوی! هر ځل چې د دی کور دروازه ستا د غوښتلو لپاره چا وهل زما د زړه څخه یو خدای خبر وو

ویره مې درلودل چې د کوم ناهل او بد کردار او بد عمل انسان لاس کې ونغورزیږی او د دنیا غمونه دی نصیب نشي( بابا زما لاس خپل لاس کې ونیوی او په لړزانده غږ یې وویل: ستا په سر قسم چې زما د کور رحمت او برکت یې، هره پریکړه او انتخاب مې چې کړی ستا د خوشحالې او ښه ژوند لپاره مې کړی،( سر مې راپورته کې او د اوښکو ډکو سترګو مې ورکتل بابا هم مخامخ راوکتل او کرار یې وویل: ما ستا څخه سم پوښتنه ونکړل هغه ورځ نه پوهیږم ولی؟ شاید خپل نظر مې ستا نظر حسابه وی! خو باید یو ځل مې ستا څخه سم صحیح پوښتنه کړی وایې ستا قبول وو؟

د بابا په خبری مې په حیرت وروکتل عجیبه ده چې بابا اوس فکر شو دا پوښتنه زما څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی؟! د بابا څخه مې نظر واخیستې او ادی ته مې وکتل د اوښکو په ډکو سترګو یې راکتل که دا پوښتنه بابا زما څخه د کوژدی او د سمال ورکولو مخکې کړی وایې شاید هغه وخت زما جواب زیات فرق درلود خو اوس او د دومره خبرو وروسته زما جواب یو لفظ وو!

- زه راضي یم پدی نکاح باندی بابا.!
زما په خبری د بابا سترګې په آرامش باندی د څو ثانیو لپاره پټې شول، او بیا پداسې حال کې چې زما تندی ښکل کوی، شال یې زما په سر سم کړو او د راسته پښې چپلکه راته په پښو او ملا یې په شین دسمال چې اسما د بابا په لاس ورکو وتړل او زه یې د لاس څخه ونیولم حویلې ته په وتلو د بام په سرونو د همسایه ښځو ته مې فکر شو او په هغه حال کې مې په خوله مسکا راغله

یوه ورځ زه هم د بام په سر ولاړه وم او د انجینر اغا د کوژدی دسمال ته مې په شوق کتل یا هم تلم د کوټې سر ته او کتاب مې ویل اه چې نور به هیس کله هغه ورځی تکرار نشې، په کوڅه کې موتران ولاړ وه او د جهان د مشر ورور په غږ دا نور پاتی ښځې هم موټرونو ته پورته شول، او بیا د ادی او د آسما غیږ وه او زما ژړا نور ټول سړیان تللی وه یواځې جهان د هغه ورور او پلار پاتی وو، بابا د اخیر ځل لپاره زه غیږ کې ونیولم او جهان خواته یې وکتل جهان په تروش تندی او لوړ قدمونو زموږ خواته نږدی شو

چې بابا زما لاس د هغه لاس کې ورکړو او ورته ویې ویل: ما خپل لور ستا د پلار په نوم او نشان او ستا په غیرت تاته درکړل، تا خپل یو وعده او قول مات کړې خو د هغه سر بیره بیا هم ما خپل لور درکړل، خو فکر مه کوه بې کسه او بی قوم لور وری که مرغه په هوا کې راته خبر راوړی چې زما په لور دی زیاتې کړی، دا ټول خلک شاهید ونیسه چې په ړنا ورځ یې ستا له کوره بیرته راوړم( د بابا په خبرو هیچا څه ونه ویل جهان خو بیخي سر ښکته واچوی هغه د بابا یو وعده او شرط مات کړی وو! هغه بابا ته قول ورکړی وو چې ما به اطرافو ته نه وړی او دلته کابل کې کور اخلې!

خو د هغه کار وروسته جهان یواځې بابا ته وویل چې زه مې خپل ناوی ځان سره وړم! بغیر لدی چې دلیل او منطق بابا ته راوړی دا یو میاشت بابا د جهان څخه خفه وو او خبری ورسره نکول، د لږ ځنډ وروسته جهان سر راپورته کړو او بابا ته یې وویل: وعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



در کوم چې خپل د ځان څخه به يې زيات خيال ساتم.

بابا زما لاس د جهان لاس ته تسليم کړو او کرار يې وويل: خدای دی وکړی....

جهان ځان پسې د موټر خواته وړلم چې د ادی غږ پورته شو: زما هوسې زما لورې.
د ادی د ژړا څخه ډک غږ د تلو څخه منع کړم او د هغې خواته مې مخ کړو چې ادی په تلوار بيا غيږ کې ونيولم، داسې چې زړه يې نکيدی خوشې مې کړی، جهان په بی حوصله اخوا ديخوا کتل چې ادی زما تندی ښکل کړو او هغه ته يې وويل: تا ته د خدای روی مخکې کوم چې فکر به وربانده ساتې..

د ادی په خبره جهان د ډاډ په توګه خپل سر پورته ښکته کړو او دا ځل يې په تلوار زه د ځان پسې د موټر خواته کش کړم، د شال لاندی مې سر شاته تاو کړو او سترګې مې په ادی،بابا، اسما، نيلوفر او د خاله په کورنی چې د اوښکو په ډک نظر يې راکتل ولګيدل، جهان د موټر دروازه راته خلاصه کړه، او زه موټر ته د پورته کيدلو مخکې يو ځل بيا مې کورته او هغه کوڅې ته وکتل چې زما د عمر ډير کلونه خوشحالياني او غمونه پکې تير شوی وه، موټر ته د پورته کيدلو مخکې مې نظر په انجينر اغا ولګيدی!

تور چشمکې په سترګو ول او خپل د کور مخکې ولاړ وو او مونږ ته يې راکتل! زما د نظر په تعقيب کولو د جهان سترګې په هغه ولګيدل او زما لاس يې په کلکه ونيو او موټر ته يې پورته کړم، خپل هم زما څنګ ته کيناستې او خپل ورور ته چې موټروان و په غوسه ناکه لهجه وويل: څه خپل پلار ته ولاړ يې حرکت وکه.

جهان دا خبره وکړل او بيا په کراره لهجه ځان سره داسې چې ما هم واوريدل ويې ويل: لعنت دی پدی ځای او پدی منحوس کوڅه سې، هر سر کې يو کوڅه ډب سپي ولاړ دی.

موټر حرکت وکړو او زه خپل د ژوند د آشنا خلکو او ځايونو څخه په يو نامعلوم لوری په حرکت شوم، د موټر د ښيښی څخه مې د باندی خواته کتل چې سنګه يو د بل پسې آشنا ځايونو څخه تيريدم او اوښکې مې پر بهيدو وه، جهان هيس نه ويل يو لاس کې زما لاس نيولې وو او بل لاس يې د موټر کړکی ته تکيه کړی وو، او د موټر دباندی کتل، په فکر کې معلوميدی او تندی تروش وو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټر د ننه د سندرې په غږ د جهان د کتلو شخه مې نظر واخيستې چې د جهان د وررور خوشحاله او خندانه غږ مې واوريدې: اها اوس صحيح سو البته بخشه کوې چې سم سندره نلرم خو بيا هم د ژړا د آوازونو ښخه شه دې.

ما هيس ونه ويل او خپل اوښکې مې په لاس پاک کړل خو جهان ورته په غوسه وويل: د غزل د ځاې مخ ته دې ګوره او خير وايه.
د جهان په خبرې د هغه وررور وخندل او ويې ويل: عه عه ما ويل د واده سره به يو ځه دا تريخ مزاج دې نرم سوې ويې! خو تخو نور هم ...( هغه خبره خلاصه کړې نه وه چې جهان په ګواښ کونکې لهجې ورته وويل: پکر دې نيسه دا موټر خو دريژې بيا موژ هم سره تنها کيژو.!

د جهان پدې خبره د هغه وررور چې نوم يې نه وم خبر چې څه دې؟ خو دومره پوهيدمه چې د ټولو ښخه کوچني دې او تازه يې ورته کوژدن کړې د روقيه ايندرور يې د ته کړې وه؟! يعنی روقيه يې په بدل ورکړې وه د کاکا لور يې د ته کړې وه او روقيه يې خپل د کاکا زوې ته ورکړې وه! د جهان په ټول وررورنو کې دغه وررور يې ګيره نه درلود! مطلب اخيستې وه کامل! او د اوس وخت ځوانانو پشان سيخ سيخې ويښتيان يې دره ولې وه! او د سندرې د آوريدو ښخه يې هم معلوميدل چې فکر يې هم د تازه وخت هلکانو پشان دې! د جهان وررور يوڅه تندې تروش کړو
#شهاب ?:
خو لکه چې د جهان ښخه ويره درلودل که احترام! هر شي چې وو نور څه يې ونه ويل يواځې سندرې غږ يې يو ځه کرار کړو خو بيا هم سندره کامل د موټر فضا کې آوريدل کيدل...

زه دی له دره و نازکې خوژ زړګې ولاړم ماذديګرې ولاړم
محبوبی جار محبوبې نوره مې مه زيره وه محبوبې جار محبوبې

زما پر حال باندی محبوبې ليونيان جاړی ډير قربيان جاړی
مه کوه نور ظلمونه د ژوندون لار مې ورکه به هو ماضې فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا به درکوم زه وعدی درد او تکون کړم ځان خیری می سو ګریوان
خپل مي کړه خپل نازکي بې لتا تاب نلرم آرمان زما په زړه کي

بې لتا تاب نلرم آرمان زما په زړه کي

یو زړه مي و هغه مي هم تاته درکړی دی لا ما دی وړی دی
تنها تنها ګرځمه بس دی درخپل مي کړه ته زه په ژړا ګرځمه

ته په سرو شونډو راته وکړه سو خوژی خبری د یارانی خبری
خپل مي کړه خپل مي کړه بی لتا نلرم سوک د پیکې ګل مي کړه

زه دی له دره و نازکې خوژ زړګې ولاړم ماذدیګرې ولاړم
محبوبی جار محبوبي نوره مي مه زیره وه محبوبې جار محبوبې

نوره مي مه زیره وه محبوبې جار محبوبې

پر ما دی څه ظلمونه کړی دی حساب راکړه ماته جواب راکړه
ولې ژغ نکوی رشتیا ووایه راته که یارانه نکوی

زه دی شیرني د سرو شونډو پخندا وژلی تا په چاپا وژلی
مخامخ ته ووایه که مینه نکړی نازکې ماته شکاره ووایه

زه دی له دره و نازکې خوژ زړګې ولاړم ماذدیګرې ولاړم
محبوبی جار محبوبي نوره مي مه زیره وه محبوبې جار محبوبې

" کامل سندره زه دی شیرني د سرو شونډو په خندا وژلی"

د سندری په نیمه کې لکه چې جهان خان هم سندره خوښه شوی وه! ځکه زما لاس چې په کوم لاس کې نیولی وو هغه باندی کرار خپل په ګوتو ضربه نیولی وه! او کرار کرار سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې هم ورسره ښوره وی!؟ زه خاموشه ناسته وم او د هغه د ګوتو حرکاتو ته مې کتل خو فکر مې د راتلونکې په اړه وو! آسما او ادی لړ لړ د جهان خان د کور په اړه ویلې وه چې لوی کور يې دی پنځه ورونه چې دری دانو يې واده او ماشومان درلود يو يې هم جهان او يو يې همدا نوی کوژده شوی ورور!

مطلب ټول ګډ وه او يو نفر هم ويش نه وواخيستې!؟ ادی ويل هغوی سم دم د اطرافو دی مطلب غوایان لری میږی لری! او حتا ادی د بابا له خولې آوریدلی وه چې آسونه لا لری! او د شوق آسونه کور کې ساتې نور زيات معلومات ادی او بابا هم ورڅخه نه درلود يواځې د نوم پيژندل وه بس نور کورنې رفت او آمد مو نه درلود، نه پوهيدم چې څه مې مخ کيدی؟

يو په ابهامو او شکونو پيچلې مستقبل او راتلونکې مې مخې ته وو! دومره د جهان د کور او کورنې په اړه اندیښمنه نه وم سومره چې د جهان په اړه اندیښمنه وم! د نيلوفر خبره ښځه د خسر کور کې د ميره او خاوند په سر ملکه ده او پادشاهې کوی که خاوند يې په نظر ونه نيسې او احترام ورته ونکړی نو د کور نور خلک هم ولاکه د انسان په نظر ورته وګوری!

د جهان دريم ورور دوه ښځې کړی وه چې واده ته يې خپل يوه ښځه هم نه وه راوړی! يواځې خپل دوه مشر زامن د مشری ښځې ده راوړی وه بس، په اطرافو کې دوه دری حتا څلور ښځې کول هم عادی او مرسوم خبره ده او دی کار ته په بد نظر نه کتل کيږی مخصوص که سړی پيسه داره او د جهان د کورنی پشان اربابان او ماړه خلک وی دوی ته خو په زوره خلک خپل لور او خور ورکوی، نه پوهيږم ولی خو زړه مې ويل چې کوم رفتار چې جهان کوی يو مطلب لری؟!

هغه دا چې غواړی د اوس څخه ماته ووايې ستا اشتباه زه د دويمې ښځې کولو ته مجبور کړم! پدی فکر مې اوښکې د سترګو څخه په بهيدو شول زه تراوسه د خاوند کور ته رسيدلې نه يم او فکر او ذکر مې راته وايې چې بنه دربندی راروانه ده! د سترګو اوښکې مې د جهان په لاس کوم چې زما لاس يې نيولې وو وڅڅيدل سر مې پورته کړو ترڅو ګورم ما ته خو يې پام شوی ندی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نظر پورته کولو سره مې سترګې په دوه تک تور سترګو کې بندی شو! تندی تروش وو او په ځیر ځیر یې راکتل، د هغه پیښې وروسته ما د جهان خلاص تندی ندی لیدلی! دا یو میاشت کې په زوره که دوه خبرې زما سره کړې وی هغه هم نه د مینې او محبت خبرې نه نه په هیس صورت هغه دوه خبرې هم سم دم د جنای پولیسو پلټنه وه! خپل ګیره یې د یو میاشت مخکې په پرتله اصلاح کړې وه!

سپین جوړه کالي اغوستي وه د همیشه پشان یو کندهاری خولې په سر وه، تور واسکټ او د کمیس دوه پورته تنې خلاصې وه! که تروش تندی او بد خلقي یاده نکړم واقعا نن ښایسته شوی دی! د نیلوفر خبره سم دم ۲۰ کلن ځوان معلومیدی! البته که د خولې لاندی دوه دری هغه سپین ویښته او د ګیری مینځ کې دا دوه تاره د نظر څخه وغورځه وم! بیا هغه وخت د نیلوفر خبره تایید کولې شم..

دومره خپل فکرونو کې ډوبه وم چې بیخي مې فکر نشو جهان ماته راکتل، د هغه د ستوني په صاف کولو مې وروکتل چې هغه کرار خپل د لاس څخه زما څڅیدل اوښکه پاکه کړه او کرار یې وویل: که سترې یې یو ګړی بیده سه لاره لا ډیره پاتې.

د هغه په خبره مې وروکتل یعني اوس دی زما په فکر کې وو چې دا خبره یې وکړل؟ یا که عصاب یې زما د ډیر ژړا څخه خراب شوی وه چې غواړی د خوب په پلمه ما یو څو دقې خاموش کړی؟! پدی فکر چې زما د ژړا څخه یې حوصله تنګه شوی او داسې خبره یې راته وکړل هم مې غوسه راغله او هم ناساپه د یواځېتوب احساس مې وکړو او زړه مې ونیول شو ورنه د هغه څخه د لری کیدو کوښښ مې وکړو او غوښتل مې لاس مې د هغه د لاس څخه جلا کړم

چې جهان و دی کار ته پرینخودم او زما لاس یې کلک خپل لاس کې ونیوی دومره کلک چې لاس کې مې اچول شوی بنګړی مات شو او لاس یې راته خوږ کړو زما د اخ په غږ جهان تازه زما لاس ته فکر شو او په تلوار یې زما لاس خوشې کړو، بنګړی مې په مړوند کې ننوتلې وو او وینه یې بې واره راتلل جهان به ورختای زما لاس څخه مات شوی بنګړی وباسې او خوږ شوی ځای خپل په لاس کې کلک ونیوی ترڅو د وینو د توی کیدو مخه ونیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په آوازو د جهان ورور شاته راوکتل او کله چې زما لاس يې په وينو لړلي د جهان لاس کې وليدی په حيرت يې وويل: خيريت خو دی؟
د هغه خبری جواب جهان په تروش تندی ورکړو او ورته ويې ويل: خيرو خيرت دی ته خپل مخې ته ګوره.

د جهان په خبره هغه خپل نظر زموږ څخه واخيستې او کرار يې وويل: وبه ستة که غواړی موټر به يو کونج ته و دره وم لاس دی پريوی او و دی تړی چې وينه يې بنده سې!؟

د دی څخه مخکې چې زه ووايم نه ضرورت نشته جهان د هغه خبره ومنل او موټر يې د سړک کونج ته و دره ويې جهان ښکته شو او زه يې لږ د موټر ښيښی خواته کش کړم او پداسې حال کې چې زما لاس يې لاس کې کلک نيولې وو خپل د ورور څخه يې د اوبو بوتل غوښتنه وکړل چې هغه هم په يو شيطان مسکا د اوبو بوتل د جهان لاس ته ورکړو، د هغه پدی شيطانه خندا د شرم څخه تکه سره شوم، زه لا هغه شرم مې تير کړی نه وو چې د جهان د مشر ورور موټر چې زموږ پسی وو او هغه کې د جهان پلار، مور مشره وريندار ه او روقيه ناست وه

زموږ د موټر په دريدو هغوی هم ودريدل او ورور يې د موټر څخه راښکته شو، د جهان مشر ورور زموږ څخه په څو قدمی کې خپل کوچنی ورور ته غږ کړو او ويې ويل: وه هلکه جمشيد چشې سوی چې موټر مو دره ولې؟

د جهان کوچنې ورور چې اوس پوه شوم نوم يې جشميد دی نامردی ونکړل او په همغه شيطانه نظر او خندا يې په لوړ غږ وويل: د وريندارې بنګړی مات سوی او لږ قدری لاس په وينو سوی! لالا يې لاس ورته پريوی!

د هغه پدی خبره زه خو ګز، ګز د ځمکې څخه ووتلم د ټولو څخه بده خبره دا وه چې د جهان د مشر ورور موټر ماته مخامخ وو او د هغه د پلار څخه نيولې مور، خور وريندارې ټول پوی شول چې څه خبره شوی وه! بلخصوص د جمشيد پدی شيطانه لهجه او خبری د هغه مشر ورور وخندل او ويې ويل: اها شه جر کوی موژ روان سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان سر راپورته کړو او خپل کوچنی وړور ته يې په تروش تندی او غوسه ناکه لهجه وويل: يعنی بل شي دی ويلي نسو ورته؟!
جمشيد په خندا وويل: وی چشی مې ويلې وای؟ خو رشتيا مې وويل.

ما د شرم څخه سر ښکته اچولې وو او هيس مې نه ويل، جهان خپل وړور ته غاښونه وچيچل خو نور څه يې ورته ونه ويل خپل د واسکټ د جيب څخه يې يو کوچني سپين د سمال راوخيستي او زما لاس يې وربآندی وتړه يې، د بوتل پاتی اوبه يې د جمشيد خواته ختا کړل او موټر ته راپورته شو ما ورنه کامل فاصله ونيول او د موټر هغه بل کونج ته مې ځان کش کړو، زما پدی کار جهان په تروش تندی راوکتل خو نور يې څه ونه ويل

خپل خوږ شوی لاس مې پدی بل لاس کې نيولی وو درد يې نکوی دومره نه و خوږ شوی خو ما ته ژړا راتلل! داسی احساس مې کوی چې زما حق کې زيات غټ ظلم او زياتی شوی! سر مې د موټر ښيښه ته تکيه کړو او سترګې مې پټې کړل د نن لپاره مې ټول انرژی او توان صفر شوی وو، نه پوهيږم سومره وخت به په هغه حال کې وم چې د زيات استرس او بی خوبې له لاسه د خوب نړی ته تللی وم، د جهان او د جشميد په غږ لږ لږ مې سترګې د خوب څخه خلاصې شوی!

جمشيد- دا شزی هم عجب بد شيانئ دی! تراوسه زموږ راتلو ته ويش ناستې وه! اوس پدی نيمه شپه دا ټول کلې په سر اخلې؟!

د جهان غږ مې بيحده نږدی وآوريدی؟! چې ويې ويل: ته اول تا څه ورته ووايه اوس پدی نيمه شپه دی غوبل نه جوړه وی، ټول ستړی يو سهار چې هر کار کوی و دی کی.

د موټر د دروازی په غږ چې د جهان د وړور د تلو خبر يې راکړو سترګې مې خلاص کړی! او ځان مې نامعلوم ځای کې پيدا کړو! په تلوار او وحشت باندی په ځای کې کينم چې زما د کيناستلو سره سم د جهان غږ پورته شو: هوشش په کراره ..
په ورختا نظر شاوخوا ګورم نه پوهيدم زه دلته موټر کې څه کوم؟! ولې خپل کوټه کې نه يم؟! همغسی ګنګس او حيرانه نظر شاوخوا تاوه وم او ګورم چې د جهان د خندا غږ مې تر غوږ شو چې ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان خان- امممم دا رکم چې ته شاوخوا ګوری مطلب د خوبه یې او تراوسه دی مغزه ځای ته ندی راغلی؟

د هغه په خبره یو څو ثانیې ورته په خاموشه نظر ګورم او تازه مې تول شیان یاد ته راځی، د ادی ژړا د بابا خبری د جهان کار او اخیره کې خوب؟! د تول خبرو په یاد راوړلو باندی سترګې مې بیا د اوښکو ډکې کیږی او د جهان څخه نظر اخلم او د موټر د باندی ګورم تکه توره شپه وه یواځې ځینې کورنو څخه ړنا راتلل او کوڅه یې ړنا کړې وه، موټر د یو غټ کور مخکې ولاړ وو! پدی تیاره کې هیس شې سم نه معلومیدی یعنې موږ رارسیدلې وو د جهان کور او کلې ته؟!

د بیرون څخه نظر اخلم او تازه مې ځانته فکر کیږی زما پر اوږو د جهان پټو وو؟! لکه چې زما د ویده کیدلو وروسته یې پر ما اچولی وو؟! جهان ته مې وکتل چې هغه بغیر له کوم خبری ماته راکتل کله چې زما نظر یې ولیدی کرار یې وویل: لاس خو دی درد نکوی؟

خپل لاس ته ګورم چې په سپین دسمال تړل شوی او د دسمال څخه لږ وینه د باندی را وتې وه د نه پشان ورته سر خوځه وم، او ددی څخه مخکې چې جهان کوم بله خبره وکړی د هغه غټ کور دروازه خلاصه کیږی او جمشید د موټر خواته راځی موټر ته په کیناستلو سره سم وایې: اوفف په زوره مې ورنه دایری واخیستل ترڅو بد حال جوړ نکی.

جمشید دا خبره کوی او موټر روښانه کوی چې یو نفر هغه غټ کور دروازه خلاصه کړه او موټر کورته ننوتو، د ننوتلو سره سم په حویلی کې مې په زیات ښځو او ماشومانو نظر پریوت! لکه چې زموږ راتګ ته په انتظار وه!؟ جهان د موټر دروازه خلاصه وی او زما خواته لاس نیسې ترڅو ښکته شم د جهان لاس نیسم او د موټر څخه ښکته کیږم زموږ د ښکته کیدلو سره سم د چاکلیټ او ګلانو باران شروع شو، زموږ په سرونه یې نه شیندل! بلکه موږ دواړه یې ورباندی ویشتلو! جهان خپل ځان زما مخ ته راکش کړو او په لوړ غږ یې وویل:

جهان خان- بس دی.
د هغه په غږ د ماشومانو او ښځو شور ماشور کرار شو او نور چا په چاکلیټو ویشتل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، د جهان مشر ورور لکه چې زمونږ ښخه مخکې راغلی وه چې مور يې په تلوار سپانده دود کړل او زمونږ خوا ته يې راوړل په داسې حال کې چې سپانده يې زما او د جهان شاوخوا ګرځه ول دعا ګانې کول، جهان زه د لاس څخه نيولې وم او د کور پخوا چې دری منزله ودانې ماته معلوميدل په حرکت شو خو د هليز ته د ننوتلو ښخه مخکې مور يې په لوړ غږ وويل:

د جهان مور- وی وی و دريږه دسی مه ننباسه کورته!
په حيران نظر مې هغه ټول کسانو ته چې زمونږ شاوخوا ولاړ وه وکتل! يعنی دا ټول يواځې د جهان کورني ده يا د کلي خلک هم پکی دی؟ خو زما زړه ويل دا يواځې د جهان کورنی ده او کلي خلک ندی! جهان خپل مور ته وکتل چې د مور لځايه يې روقيه په شيطنت وويل: وی لالا يا خو ستړی يې يا هم زيات خوشحاله يې! چې بيخی مو رسم او رواجونه لياده باسلې!؟

د روقيه په خبری ټولو وخندل او هر چا يو خبره کول او خندل يې چې د جهان مور رامخکې شوه او زما د لاس په نيولو يې جهان ته وويل: صحيح دی چې دوی رواج نلری او سوک ورسره ندی راغلی خو موږ خو راواج لرو رسم لرو.!

زه حيران نظر ولاړه وم او د دوی خبرو ته مې غوږ نيولی وو! د څه رواج چې موږ يې نلرو او دوی لری!؟ ګنګس ولاړه وم چې د جهان د مور په خبری تازه پوه شوم څه ياده وی؟ دوی راوج درلود چې ناوی تر هغه وخت د زوم کور ته نه داخله کيږی ترڅو زوم ورته يو شئ ونه منې؟! مطلب ورته ووايې درته د طلاو غاړه ګې اخلم يا ګوتمې اخلم يا داسې بل کوم شئ ورته ومنې ترڅو ناوی رضايت ورکړی او د زوم کورته ننوځی؟! او هو زوم چې کوم شې ورته ووايې بايد هغه بيا ضرور ورته واخلې او ناوی ته يې ورکړی؟!

عجيب رسم وو! بيحده ما فکر کو موږ يواځې داسی عجيب غريب رسمونه او رواجونه لرو! خو د جهان کورنی زمونږ ښخه بتره وه پدی رواجونو کې، جهان چې کله پوی شو چې هغوی څه ياده وی خپل د کورنی خواته يې مخ کړو او په لوړ غږ يې وويل: د دوست محمد بای د ځمکو اندی ته چې کوم دوه بيسوی د انارو باغ دی هغه مې ديته ورکې.؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان په خبره زه پوه نشوم چې دا اوس ځنګه شې دی او ځنګه ندی؟ خو د هغه د ټول کورنۍ حیران نظر او د جمشید خبری باوری کړم چې ضرور کوم قیمتی شی یې زما په نوم کړی؟
جمشید- اووو لالا مه کوه خطرناک.!

د جمشید په خبره د جهان په خوله نری غوندی مسکا راغلل او بغیر لدی چې څه ووایي زه یې د لاس څخه ونیولم او په داسي حال کې چې بسم الله یې په غټ غږ سره وویل کورته ننوتلو، جهان ځان پسي داسي په تلوار کشه ولم چې نه مې کور سم ولیدی نه بل شي؟! دویم منزل کې زما په نظر زموږ کوټه وه! کوټې په داخله کیدلو جهان زما لاس خوشې کړو او ما تازه یو راحت ساه واخیستل، هک حیران د کوټې مینځ کې ولاړه وم! د لور کور موږ رواج درلود د پلار کورنۍ ورته واخلې خو جهان دوی بیا رواج درلود چې د زوم کورنې ورته واخلی؟!

او اخیره کې جهان خپل خبره پر بابا منلې وه او ټول کور شیان یې خپله اخیستی وه!ما یواځې په دوه بکسو کې خپل یو څو جوړی کالې او خپل د ضرورت شیان راوخیستل بس نور ټول کور جهان اخیستی وو؟! په حیران نظر مې شاوخوا کتل یو اته متره غټ کوټه چې په سور رنګ نالیو پوښل شوی وه! سری پردی،سره غالې، او د ټولو څخه جالب او عجیب د کوټې کونج کې یو غټه سره الماری چې زیاتره یې د کتابونو څخه ډکه وه! ما د ماشومتوب څخه د کتابونو سره عجیب مینه وه بی ارادی د کتابونو د الماری خواته روانه شوم.

سترګې مې د یو کتاب پر جلد ولګیدل او نږدی وو د حیرت او خوشحالې څخه وزری پیدا کړم! " د رحمان بابا دیوان" کتاب مې راوخیستې او په نه کنټرول کونکې خوشحالې مې د کتاب لای خلاص کړو او د رحمان بابا شعر مې مخې ته راغې:

راشه مه کوه له چا سره جفا
لږ ژوندون دي ضائع کیږي بی وفا

په دنیا کښې هیڅوک ندی پاتې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه تلوني دي که نن دي که سبا

دا چې هره ورځ راخيږي بيل بيل نمر دي
هر چې پريوځي هغه نه شي ختي بيا

چي په زمکه ځاځکي پريوځي له آسمانه
بيا له زمکي ختي نه شي په سما

ګومان مه کړه چې به بيا ستر‌ګو له ورشي
هغه اوښکي چې له سترګو شي جدا

که يو ځلي سر د خدائ په لوری ټيټ کړي
په قيامت به سربلند شي تر هر چا

چي د ورور د عزيز زړه پري آزاريږي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا

شه خواږه چي يو ئي خوري بل ورته ګوري
خواږه نه دی هغه زهر دي ګويا

که يو ځاځکي اوبه تږي لره ورکړي
د دوزخ او ستا درميان به شي دريا

زه لا د شعر د حروفو او غزل په نغمو کې ډوبه وم چې جهان زما د لاسه کتاب واخيستې، چې ما په تلوار وروکتل هغه په داسې حال کې چې کتاب بيرته الماری کی کيخودو کرار يې وويل: دا کتابونه هميشه دلته دی هيس سوک يې نه وړی! ته اوس خپل کالې مالې بدل که لاس او مخ دی پريوه، ډوډی دی وخوره ډير وخت پاتې کتاب ويلو ته.

د جهان په خبره په شرم می خپل شونډه وچيچل اه سومره زه نادانه او بيعقل يم! دا نو کار وو چې ما وکړو!؟ جهان د کوټې کونج کې يو دروازی ته چې ما تازه ورته فکر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره وکړل او ویې ویل: هغه تشناب دی ترڅو چې ته خپل لاس او مخ باندی وبه وهی زه درته د موټر څخه ستا د کالو بکس راوړم.

په شرم باندی مې خپل سر د تایید پشان پورته ښکته کړو چې جهان د کوټې دروازی خواته روان شو او ما د یو کامل نظر وروسته چې کوته کې مې وګرځه وی د تشناب خواته ولاړم، لاس او مخ مې مینځی چې د تشناب دروازه وټکیدل او د جهان غږ مې واوریدی: ستا شیان مې دلته درته ویژدل زه ځم اودس وکم.

او بیا بغیر لدی چې زما جواب وآوری د کوټې د بند کیدو غږ مې وآوریدی، په کراره مې خپل د مخ څخه آرایش پریوی او د تشناب څخه راووتلم جهان زما دواړه بکسونه راوړی وه د کالو د بکس څخه مې خپل یو جوړه ساده د کور کالې راوخیستل خو ناساپه مې د نیلوفر خبره یاد ته راغلل چې راته ویل یې: بیا هلته خان ساده ساده مه کوه سم سینګاری کړی او جوړه کړی وګرځه چې حدقل د خاوند زړه خو دی وشی ترڅو دروګوری!

په دوه لارو کې بنده وم زړه مې ویل ساده د کور کالې واچوه! او عقل مې ویل د نیلوفر خبر ومنه!؟ اخیر هم عقل مې زوره ور شو او یو جوړه سور رنګ جوړه کالې مې واغوندل دا کالې یو څه زیات زما په نظر ازاد وه؟! د اخیستلو وخت کې هم ما د آسما سره زیات جنجال کړی وو خو آسما ویل خپل خاوند لپاره یې واچوه بیا سهار بدل کړه چې نور سوک یې ونګوری! نور مې حوصله نه وه چې بدل کړم بواځې خپل د زړه د آرام کولو لپاره مې غټ تیکری په سر کړو ورسره.

خپل د ناوی توب سپین جوړه کمیس مې سم منظم قات کړو او بکس کې مې کیخود، د کوټې کونج کې په سینګار میز می سترګی ولګیدی زړه کې مې وسوسه پیدا شول چې ځان لږ سینګار کړم! خو دا کالې بیا سینګار؟! بیخی نو زما په نظر د حد څخه اوښتل وه، شاوخوا مې وکتل ټول کوته کې نالې وه او نالې! تل مې د یو کټ آرمان درلود همیشه مې ویل چې پیسی پیدا کړم خپل ځانته یې خپل اخلم خو اوس که پیسی هم پیدا کړم نشم اخیستی

کوټې مینځ کې ولاړ وم او ګنګسه مې شاوخوا کتل چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او جهان پداسی حال کې چې خپل د کمیس لستوني ښکته کول او د ګیری څخه یې لږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداسه اوبه د کمیس په یخنقاق تویدل کوټې ته راننوتې، سر یې ښکته وو خو کله چې نظر یې پورته کړو نو د څو دقو لپاره هک حیران ماته په کتو شو! د هغه پدی نظر د شرم څخه مې سر ښکته واچوی چې جهان په کرار قدمو زما خواته رانږدی شو او په سختې وویل:

جهان خان- هغه میز په سر مې درته ډوډی ایږدلی زما په نظر د پرون راهیسې به دی چشی خوړلی نه وی!؟
د هغه په خبره مې خپل شونډه وچیچل او څان سره مې وویل دی نو له کوم خوا خبر شو چې ما دا څو ورځې ډوډی سمه نده خوړلې؟ جهان بغیر لدی چې څه ووایې خپل پټو چې ما د الماری څنګ ته ایخودلی وو د مخ پریولو وخت کې راوخیست او په لمانځه ودریدی، څو دقې خاموش هملته ولاړه وم بیا کرار کرار د کوټې کونج ت راونه شوم ورې وم خو زړه مې نغوښتل پدی حال کې کینم ډوډی

وخورم!

بیخی د هغه میز خواته ولاړم ترڅو وګورم جهان څه اخیستی وه د خوراک لپاره، یو کمپل مې راوخیستې او د څای اچولو وخت کې نه پوهیدم اوس څنګه څای واچوم! آیا د جهان څای هم خپل څنګ ته واچوم کنه؟! په همدی فکرونو کې وم چې د کوټې کونج کې د نور بیستره شوی نالیو سره مې یو جوړه یې نالې تر سترګو شول! او مجبور هغه مې هواره کړل او بغیر له کوم څنډ د نالې په یو څنګ کې وځملیدم کمپل مې کامل خپل په سر کش کړو خو لږ مې د سترګو څای څانته پریخود او د هغه څایه مې جهان ته کتل

چې په پوره آرمتیا او سکون باندی لګیا وو مونځ یې کوی! نه پوهیږم ولې د جهان خان مونځ کول راباندی ښه لږی؟! د هغه د هر تکبیر ویلو سره هر رکوع او سجده کول یو جلا خوند او کیفیت درلود ماته! نه پوهیږم تر کوم وخته زه د هغه د مونځ په کیفت کې ډوبه وم چې هغه د لمانځه سلام و ګرځه وی او ما په تلوار کمپل کامل خپل په سر کش کړو ترڅو هغه پوی نشي چې ما ورته کتل!

زړه مې بې واره درزیدی فکر مې کوی د غلا یا کوم بد کار د کولو وخت کې لاس تړلې ګیره شوی اوسیږم؟! څو دقې همغسی ساه نیولې څملیدلی وم چې خپل څنګ ته مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان حضور احساس کړو او بیا د هغه غږ چې کرار یې وویل: اممم بیده انسان که نور نه ویې منظم ساه خو اخلې؟!

د هغه په خبره مې په شرم باندی خپل شونډه وچیچل او کمپل مې لږ خپل د مخ څخه لری کړو چې هغه مې خپل څنګ ته ناست ولیدی، پداسې حال کې چې ما ته یې راکتل ویې ویل: ما تاته چشې وویل؟
د هغه په خبره مې کرار وویل: څه مو وویل؟

جهان- ما وویل زه مونځ کوم تر هغه وخت ته چشی وکه؟( کله چې زما خاموش نظر یې ولیدی نو په تروش تندی وویل: ومې ویل ته ډوډی وخوره!
- زړه مې نه غوښتل.
جهان- همیشه د زړه خبرو ته انسان باید غوږ ونه نیسې! کله ناکله عقل ته هم باید وخت ورکول سی.

نه پوهیږم ولی خو د جهان دا خبره ماته بل رکم معلوم شول! داسی لکه چې یو بل موضوع ته اشاره کوی او د ادی خبره کنایه وایی!؟ جهان زما څنګ ته د پیتزا پاکټ کیخود او ویې ویل: ولاړسه ډوډی دی وخوره.
نه پوهیږم ولی خو ناساپه مې ضد راغې او ومی ویل: نیخورم.

زما په خبری جهان پداسې حال کې چې خپل وریځې له حیرت څخه پورته کول ویې ویل: اممم زما په نظر خو څو میاشتې مخکې دغه پیتزا دی خوشېدل؟!
نه پوهیږم ولې خو ناساپه ما هم د هغه پشان په کنایه او طعنه وویل: د انسان خوښنه بدلیږی کله خپل په خوښنه او کله هم په زوره؟!

زما پدی خبری د جهان تندی تروش څو او خپل غاښونه یې یو پر بل وچیچل، چې زه په خپل کړی خبری پښیمانه شوم! خو هغه متل دی وایې ختا شوی تیر او ویل شوی خبره نه راګرځې! جهان د پیتزا قوطې زما سر ته کیخود او لځایه پاسیدې خپل پتو یې واخیست او له کوټې ووت! ما دومره جرعت لا ونکړو چې ورته ووایم چیرته ځې؟ د هغه په داسې تلو سترګې مې د اوښکو ډکې شول او ځان سره مې وویل: ما خو یواځې یو خبره وکړل کوم خاص مطلب خو مې نه درلود ورنه بیا ولې دی دومره خفه شو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خپله پوهيدم چې خبره مې سومره بده وه! کمپل مې په سر راکش کړو او د ژړا څخه په ډکو سترګو د ويده کيدلو کوښښ مې کوی، خو خوب کله راتلې؟! تقريبا دوه ساعت خپل ځای کې واوړيدم را واوړيدم خو خوب رانغي يو خو مې ځای بدل شوی وو او خوب نه راتلې بلخوا د سپي غړونه راتلل او کله ناکله د غوايانو غړ مې هم آوريدی؟! هم د يواځې توب احساس مې کو هم د ويری او هم د يو بی پناه او بيچاره کس! دا ټول احساسات د دی سبب شول چې ژړا ته شروع ورکړم، نه پوهيږم سومره به مې ژړل وه چې د زيات ژړا څخه خوب وړی وم....

سهار د خبرو په غږ مې سترګې خلاصې کړل چې جهان مې د کوټې دروازی مخکې د يو نفر سره په خبرو وليدو، د نفر په غږ پوه شوم چې د جهان مور ده! چې ويل يې: د مانځه نه بعد که ته بيديلې بيده سه خو خپل شزه لاندی راوستوه.

جهان- ولې خيرت خو دی؟

مور- ماشام هم تا پرينژدلو تخت واچو او وريندارګياني دی د شزی په سر سيل( محفل) ونيسی هغه خو خير خپل فاميل مو وو، خو نن د کلې شزی راځې د ماما کاکا شزی دی بده خبره ده چې پوشتنه وکې ناوی چيری ده؟ او موژ ووايو بيده ده؟!

جهان- د چشی بده خبره ده؟ سترې ده د هغه دنيا سر څخه سفر کی وه او دوه ساعت اضافه خوب باندی اوس قيامت نه راځی، هر وخت ويشه سول ورته وايم لاندی درسی.

جهان دا خبره کوی او د کوټې دروازه بنده وی چې زه مې ځای کې کينم، بغير لدی چې د جهان خواته وګورم د تشناب خواته ځم تر څو لاس او مخ مې ومينځم او لاندی لاړه شم او د جهان د مور خبره يو بدنامی جوړه نکړم چې ناوی تر غرمې ويده ده؟! زړه مې دومره نيولی وو چې حد نه درلود يو بهانه مې غوښتل چې ژړا ته ملا وتړم او په چيغو، چيغو وژاړم د مخ پريو وقت کې صابون مي سترګو ته ولاړی او زما لاس ته هم بهانه راغله، داسې د زړه د خلاص مې ژړل شروع کړل چې د تشناب دراوزه په ورختای خلاصه شوه او جهان حيران زما خواته راوکتل او ويې ويل:

جهان- څه سوی؟ ولی ژاړی؟

د هغه پدی خبره نور مې هم ژړا راغله د ده د ماښام کار مې هم په ياد شو او د ژړا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې غوسه هم راغله او ومې ویل: په تا یې څه؟ وځه د باندی.
زما په خبره د هغه تندی تروش څو او کامل تشناب ته راننوتې پداسې حال کې چې زما خواته رانږدی کیدی ویې ویل: څو واره مې درته ویلې چې هر کار او خبره چې کوی ویې که خو ماته مه وایه چې په تا یې څه؟

دا چې جهان زما خفګان ته نه کتل او خپل سر زوری کول زما ژړا او غوسه یې نور هم زیاته ول! جهان رامخکې شو زما د لاس څخه یې د اوبو بودنې(لوټه) واخیسته او یو مور چې خپل د سرکش او شوخ ماشوم مخ مینځې او هغه ورته اجازه نه ورکوی همغه شانتې په زوره یې زما مخ ونیوی ترڅو ویې مینځې زما مخ ته د اوبو اچولو مخکې وویل: سترګې دی پټې که چې نور زګ هم سترګو ته دی ځی.
- ضرورت نسته زه خپل مخ خپل مینځلې شم.

جهان بغیر لدی چې زما خبری ته غوږ ونیسې زما مخ یې راته ومینځې د لاسو مینځو وخت کې ما غوښتل خپل بنګړی له لاسونو څخه وباسم چې جهان اجازه رانکړل او کرار یې وویل: که زما د پاره یې نه اچوی مشکل نسته خو حدقل یو څو ورځې پریږده لاسونه دی ورباندی ډک وی، دلته خلک د ناوی سپین لاسونه( مطلب نکریزی و هلې نه وی) او تش لاسونو( چې بنګړی ونلری) ته بل فکر کوی.

جهان دا خبره وکړل او زما لاسونه یې د مینځلو وروسته ونیول او د تشناب څخه راووتلو، زه همغسی د ژړا څخه به ډکو سترګو وریسی وم چې هغه خپل پټو راوخیستې او زما لاسونه او مخ یې پر هغه وچ کړو! همغه حال کې چې زما لاسونه یې وچ کول کرار یې ځان سره ویل: د 24 کالو ده خو عقل او کارونه یې د یو 12کلن کوچنې په اندازه لا ندی، یو دقه یې تنها پریږدی زړه دی په لخ، لخ دی چې اوس به یې چشی کړی وی اوس به یې چشی کړی وی؟!

همغسې د ژړا څخه په نیولې غږ مې کرار وویل: زه د 22 کالو یم.
زما په خبری جهان زما د لاسونو د وچ کولو څخه نظر واخیست او ماته یې راوکتل، تندی لږ خلاص شو او پداسې حال کې چې د المار څنګ ته په نالې کیناستې زه یې هم خپل څنګ ته کینولم او کرار یې وویل: دلته 10 کلنې انجونی د دوه اولادونو مورګانې وی تخو لا د 22 کالو یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی خبره مې په غوسه ورته وویل: که دسی ده نو ته چې د 33 کالو یې اوس باید د ملسیانو او کړوسیانو خاوند وایې!
زما په خبری د ځو میاشتو وروسته جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ما وویل انجونې چې د 10 کالو سې نه هلکان.!
نه پوهیږم ولې خو ناساپه مې د خولې څخه ورته ووتل: عجیب ده که هغه 10 کلن انجونې 10 کلن هلک ته نه ورکوی نو 10 کلن انجوني د 30 کالو بوډا ته ورکوی چې دوه اولادونه هم ورباندی راوړی؟!

د دی خبری وروسته پوه شوم عجب بد لفظ مې وویل؟! د جهان تندی له ورایه زما په خبری باندی تروش سو او ځو ثانې په درووند او خاموش نظر راوکتل بیا یې کرار وویل:
دا ژبه دی در کنټرول کوه، دا ژبه هم کلا ده هم بلا ده.

سر مې ښکته واچوی او هیس مې ورته ونه ویل جهان یو بل نظر راواچوی او خپل خبره یې وخوړل او لځایه پاسیدی د کوټې څخه د وتلو حال کې وویل: یو جوړه سم کالي واغونده.( د جهان په خبری می تازه خپل کالو ته فکر شو او وی می له خولی ووت! اای وای زه پدی کالو دری ساعت د جهان مخکی ناسته وم او ژبه مې ورسره وهل؟! خدای دی زما دا بی فکری واخلی د شرم څخه تکه سره شوی وم، ژر پاسیدم او یو جوړه سم کالي مې د بکس څخه ځانته راوخیستل

آسما یو جوړه کالي راته انتخاب کړی وه او ډیر ټینګار یې هم وربادی کړی وو چې دا به ضرور اغوندم! ښه کالي وه البته که زیات غمیو او ګلانو ته یې ونګورم خوښ مې شول هغه مې واچول او لږ سینګار مې هم وکړو د طلاو بنګړی مې په لاس زیات وه هغه مې بیا وانچول یواځې هغه ساده ښیښه یې بنګړی مې سم کړل او د کوټې دروازی خواته روانه شوم د دی څخه مخکې چې زه دروازه خلاصه کړم روقیه کوټې ته راننوتل او زما په لیدو یې په خوشحالې وویل:

روقیه- سهار پخیر وریندار جانې شه یې؟ شپه پخیر تیره سوه!؟
- ستا دی هم سهار پخیر وی. هو پخیر تیره شوه.
روقیه پداسې حال کې چې لاس کې یو پتنوس وو او هغه کې وچه ډوډی،شیدی، پنیر وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خواته راغله او ویې ویل: زه شکر چې پخیر تیر سوی وی، لالا ویل تا د پرون څخه ډوډی نده خوړلی! ادی ورته وویل چي لاندی راشی خو لالا ماته ویل چي پورته یې درته راوړم لاندی شرمیږی او نشی خوړلی.

د روقیه پدی خبره مې خپل شونډه وچیچل او په شرم مي وویل: ولې دی ځان په زحمت کوی زه راتلم لاندی.
روقیه- د چشی زحمت نن سهار موژ دواړه وریندار او ایندرور تنها ډوډی خورو سنګه خوشه مو ده؟!
- هو ولې نه خوشحالیږم.

د روقیه سره په نالې کیناستم چې روقیه په حیرت وویل: هغه قوطی کې چشې دی وریندارې؟
د روقیه نظر مې تعقیب کړی او سترګې مې د پیتزا په قوطی ولګیده کرار مې وویل: امم هغه پیتزا ده.
روقیه- خوړلې مو ده؟
- نه.
روقیه- وی نو چې وژی وی خو خوړلې به دی وایې؟!

- هغه زما هیس اشتها ورته نه کیدل ځکه مې ونخوړل.
روقیه داسی په خوار نظر د پیتزا قوطی ته کتل چې ما ورته وویل: که ستا زړه غواړی ویخوره البته لړ یخه شوی به وی.!
زما خبره لا پوره شوی نه وه چې روقیه د پیتزا خوړل شروع کړل! زما په حیران نظر یې وخندل او ویې ویل: بخشه کوه خو زما دغه چشي ورته وایې؟! ها پیتزا زیات خوشه ده .

د روقیه په خبری مې کرار وخندل او ومې ویل: مشکل نسته نوش جان دی.
ما د روقیه راوړلې ډوډی ته کتل عجیبه وه! نه نانوایې د ډوډی پشان وه او نه هم د داش پشان؟ په کراره مې روقیه ته چې په خوند لګیا وه پیتزا یې خوړل و مې ویل: روقیه دا ډوډی مو په څه پخ کړی؟
روقیه- تناره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې په خبره مې په حیرت وروکتل تنور؟! تنور مې یواځې په ټیک ټاک ویډیو ګانې کې لیدلی وو چې د ختو جوړ د بیلر پشان ځای ته به یې اور واچوی بیا به په سختې ښکته کېدل او ډوډی هلته وراچول؟! یعنی دوی هم داسی ډوډی پخه وی؟! وسوسه شوم چې یوځل تنور وګورم خو اوس لا ډیر شیان پاتی اول خپل کوټه کامل وګورم بیا به نورو ته وخت و کړم، پدی فکر می د الماری ډک کتابونو ته وکتل و بیا مې په شونډ مسکا راغله، ډوډی مې یو څه د پنیرو سره وخوړل او نور هیس شئ ته مې لاس لا ونه وهې شیدی د غوا وه او دومره بد بوی کوی چې بل رکم ما د اول هم د شیدو سره نه لګیدل خو دا بیا بیخی....

ډوډی مې خلاص کړی وه او غوښتل مې لځایه پاسیږم چې روقیه کرار او په شرم وویل: وریندار جانې بخشه کوه که زما خبره دربإندی بده ولګیده، خو کیژی خواهش درنه وکم هغه د طلاو بنګړی، غوږوالې او ګوتمې دی په ګوته کړی؟!
په حیران نظر می وروکتل چې روقیه خپل شونډه وچیچل او ویې ویل: اخ تاسو د اطرافو د خلکو په خوی او خاصیت نه پوهیژی د هغوی سترګی ستا طلاو او کالو ته دی که لژ خراب کالی واچوی یا طلا زیات ونلری بس تول کلې خبر کوی چې د جهان شزی ته یې طلا نه وه وړی او داسی....

روقیه خپل خبره نیمه کې پاتی کړل خو زه پوه شوم چې مطلب یې څه وو! ما دا تجربه او خبر په ښاری کې چې مثال تعلیم یافته خلک وه د زرها وارو څخه زیات آوریدلی وه اطراف خو لری! روقیه ته مې مسکا وکړل او د سینګار میز په خوا ولاړم د طلاو بنګړی مې په لاس کړل او ګوتمې می هم ګوتو کې کړی روقیه خواته مې مخ کړو او ومې ویل: اوس صحیح شو؟

زما په خبری روقیه په خوشحالی او لږ شرم وویل: باور وکه ولاکه مې بد نیت درلودی ستاسو لپاره مې وویل کنه ادی بیا درته یو خبره کول مروره کیدلی!
څه مې ونه ویل او یواځې د سر په ښوره ولو مې د روقیه خبره تایید کړل د کوټې څخه دواړه جوړه ووتلو روقیه پتنوس واخیست او زما څخه زر ښکته ولاړه زه یواځې کرار کرار مې د کور شاوخوا کتل، پورته منزل کې زموږ د کوټی بغیر دری نور کوټې هم وه او یو کوچنې دراوزه چې زما په خیال تشناب وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور کوم خاص شي نه درلود لاندی زینو خواته راونه شوم خو د دوه زینو تلو وروسته نور جرعت مي نکوی لاندی لاړه شم، شرمیدم همداسی خپل په سر لاندی لاړه شم! سخته غوسه مي روقیه ته راغلي وه چي زه یي داسی یواځي پریخودلم لیونی! زړه نا زړه د زینو په سر ولاړه وم چي د جهان د پلار غږ مي واوریدی او نږدی وو د ورختای او ویری څخه زړه د سینې څخه وتي واېی.( د جهان د پلار نوم به ارباب ولیکو ځکه ټول ورته ارباب وایي)

ارباب- ناوی ولي هلته ولاړه یي راځه لاندی.!
د جهان د پلار په غږ لاس او پښي د ویری څخه و لړزیدل، غږ یي بیحده بل رکم وو داسي چي انسان یي ډاره وی! د کوژدی څخه تر همدا اوس یو ځل مي د پردی له شا د بابا سره لیدلي وو او یو ځل هم پرون د واده په ورځ په ویری مي وروکتل زه یو بد خاصیت لرم کله چي و ډاره شم ژبه مي بندیږی او رنګ مي یو دم الوځي! اوس هم همغه رکم شوی وم یواځي د سر په پورته ښکته کولو مي د سمده جواب ورکړو، چي هغه راته په حیرت راوکتل او ناساپه یي غږ پورته شو چي ویي ویل:

ارباب- روقیه راسه وګوره وریندار‌ه دی چشی غواړی؟!
هغه دا خبره وکړل او د زینو له مخ څخه د دهلیز دروازی خوته راون شو، روقیه زما خواته راغله او زما په لیدو یي وویل: وی خدای دی ما مړه کړی بیخی مي فکر نسو تا لاندی راوړم او هلته مي ایله کړی!

په خوله خو مي روقیه ته یواځي وخندل خو زړه کي مي ښه سم صحیح د کنځلو لاندی ونیول، روقیه زه د لاس څخه ونیولم او په شوق شوق یي راته کور ښکاره کوی، هیس سوک بغیر زموږ او څو ماشومانو څخه په کور کې نه وه! آسما زه د حویلي خواته ویوړم او د حویلي په لیدو هک حیرانه شوم دومره غټ حویلي؟ دا شپي ولي زما فکر ورته نشو؟ حویلی یو سر کې د انګورو تاک وو چې د هغه لاندی فرش هوار کړی وو روقیه زه د حویلی اخیر، څنډی ته ویوړم او هلته مي د جهان ټول وریندارګیاني

او وراره او وریری ګیاني ولیدل چې یو ښځې په تنور ډوډی پخه ول بل ورته ډوډی نیولی وه او ماشومان هم بغیر د پرتوګ او لوڅې پښې ولاړ وه هغوی ته؟! په حیرت مط

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته کتل! چې روقيه ماشومان د تناره له غاړی څخه کور خواته وشړل د وريندارګيانو نظر يې پر ما ولګيدی د جهان د دريم وړور دواړه ښځې همدلته وه خو مشر وړور ښځه يې نه معلوميده مور يې هم ما ونه ليدل؟! د هغوی دواړو سره مې ستړی مشی وکړل ساده او عاجزی راته معلوم شوی داوړه؟!

د يو نوم ګل بې بې وه او بل نوم زرلشته وه؟! روقيه ورته په خندا ويل د طلاو بوتې؟! عجيبه نوم وو زرلشته؟! تنور لپاره يې غټ ځای او سايه جوړه کړی وه، ګل بی بی راته په ټوکو وويل: موږ رواج لرو ناوی خپل د واده په ورځ يو ډوډی پخه کړی خپل ليورو ته!

د هغې پدی خبره مې په حيرت ورو کتل يعنی څه مطلب زه په تناره ډوډی پخه کړم؟ ما هسی په داش لا ډوډی نه وه زده څه ورسيږی تنور ته؟!

په حيرت او ويری مې د جهان وريندار ته کتل چې روقيه په خندا وويل: وی زما وريندار ه مو و بيره ول!( د روقيه په خبرو ټولو وخندل او زه پوه شوم چې هغوی زما سره ټوکی کول؟! البته ډير خطرناک ټوکه وه ځکه که د ربښتيا دا خبره کړی وايې بغير له کوم شک څخه د ډوډی څخه مخکې زه تناره ته ولېدم!

د جهان مور او مشر وريندار د دوه خراب کوټو چې د حويلی اخير سر کې وه راووتل د وريندارۍ لاس کې تور ديګ ور! او د جهان مور لاس کې وابنه وه!؟ او ما ګمان وکړو ضرور هغه دوه کوټو پشان ځای کی غوايان دی؟ ډير مې زړه غوښتل هلته لاړشم خو ويريدم يواځې! د جهان مور زما خواته رانږدی شوه او زما په ليدو يې سم صحيح په زبر زير راوکتل کله چې زما لاسونه يې د طلاو ډک وليدل نو خوله باندی مسکا راغله او کرار يې وويل:

د جهان مور- ډوډی دی وخوړل ناوی؟
- هو مننه.
جهان مور- زه شه دی وکړل ... راولاړسه د تناره د اندی څخه بده ده د اول ورځی ناوی د کور کارونو خواته نژدی سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیرت مې د جهان مور ته کتل چې هغې زه څان پسې کړم او د کور خواته یې روانه کړم، دا هم یو بل عجیبه رواج د دوی چې تر دوه هفتو یې پر ناوی کار نکوی! هر دقه زه د دوی دا راوجو ته هک حیرانه کیدلم! د جهان مور زه دهلیز ته بوتلم او هلته یې زموږ د کور پشان دوه نالي سر په سر واچول او یو سپین ټوکر یې هم ورباندی اور کړو او ماته یې ویل چې هلته کینم او دا زما تخت دی؟!

د تخت اچولو او ټوله ولو رواج موږ هم درلود خو د دوی ده یوڅه فرق درلود! دوه ساعته هلته ناسته وم او کرار کرار مې پېښو کار پریخود چې ښځې په راننوتلو شول هر یو چې را داخل کیدی زما په سر یې شیرنی شیندل او زما مخ یې ښکل کوی! روقیه هم دایرا راخیستی وه او په خوشحالی وهل! دا جنې هیس سترېيا نلری دومره شوقی ده! د غرمی تر آذانه ښځې راروان وه او د جهان مور هم په خوشحالی او خلاص تندی زه ټولو ته معرفی کولم

د ټولو څخه عجیبه او حیران کونکی خبره دا وه چې د جهان مور ټولو ته ویل اینګور مې ډاکټره ده؟! ما اول فکر وکړو چې ضرور غلطه شوی به وی نو څکه مې روقیه ته کرار وویل چې زه ډاکټره نه یم! زما په خبری روقیه په حیرت وویل: تا مګه پوهنتون ندی ویلی؟

- هو ما پوهنتون ویلی خو ډاکټره نه یم.

روقیه- خو صحیح دی نو تا پوهنتون ویلی.

حیرانه مې روقیه ته وکتل د هغوی په نظر هر سوک چې پوهنتون ووایی ډاکټره ده! د جهان مشر وریندار په خوشحالي او خندا رامخکی شوه او خپل دری کلن زوی زما غیږ ته راکړو او ویې ویل: خدای دی دغسی یو سپین پهلوان زوی درته نصیب کړی!( د هغې په خبره مې په زوره باندی خولې ته مسکا راوړل، ما ویل د دوی عجیب رواجونه دی یو یې هم همدغه وو دوی د ناوی غیږ کې ماشوم هلک کینوی او فکر یې کوی پدی کار د ناوی را روان ماشوم هلک پیدا کیږی!؟

د ډیر کیناستلو څخه مې د پښو وینه نور جریان نه کو او نه مې شو ښوره ولې، څای پر څای ناسته وم او دا ښځو هم دا ولاړیدو نوم نه اخیستو نور نو ژړا ته نږدی شوی وم چې روقیه زما د غوږ اندی ته وویل: لالا راغلی تاته ناری وهی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روقیه خبره راته د جنت د زیری څخه په کمه نه وه په تلوار پاسیدم او د دهلیز څخه ووتلم چې جهان مې د انګورو د تاک لاندی د قدمو وهلو په حال کې ولیدی، په کراره قدمو د هغه خواته روانه شوم د هغه ماته شاه وه او لاسونه یې د شالخوا یو د بل سره تړلي وه او یو فیروزه یې رنګ تسبیح د ګوتو مینځ کې اړول زما په نږدی کیدو مخ یې راوګرځه وی او سم خپل د مور پشان یې په زبر او زیر راوکتل...

د سم کتلو وروسته خوله باندی نری مسکا راغله او ویې ویل: تراوسه هلته ناسته وی؟ د جهان خبره داسې وه راته لکه چې ټولو راباندی ظلم کړی وی او اوس یو نفر پیدا شوی زما خوا او طرف ونیس سترګی مې د اوښکو ډکی شول او د سر په ښکته پورته کولو مې د هو جواب ورکړو، چې جهان په افسوس خپل سر وخوځه وی او ویې ویل: ما روقیه ته وویل چې د یو ساعت شینستو( کیناستو) بعد دی تا د شزو د مجلس ولاړه کړی!

هیس مې ونه ویل او زړه کې مې روقیه ښه سم بیاب کړل چې د جهان د ویلو وروسته یې هم زما سره مرسته نه وه کړی او زه یې هغه جماعت کې یواځې پریخودلی وم! جهان زما خواته رانږدی شو او ویې ویل: زه خیر اوس خو وسو، یوځه ګیرځې دا شاوخوا یا ولاړسو میلمه خانی ته او ډوډی وخورو؟

دومره کیناستلي وم چې نور پښې مې د زیات کیناستلو درد کول په تلوار مې وویل: نه نه زما پښې درد کوی د زیات کیناستلو لږ به و ګرځو.!
زما په خبری جهان په ورختای وویل: پښې دی درد کوی؟
د هو پشان مې ورته سر وخوځه ویې چې جهان د غوسې څخه خپل شونډه وچیچل او ویې ویل: زه به د دی روقیه حساب ورابرابر نکم ته صبر دا زما ګیر ته راسې.

هیس مې ونه ویل چې جهان په سر اشاره وکړل ترڅو ورپسی شم، د حویلې اخیری خوا د هغه دوه خراب کوټو خواته راون شو کله چې ورسیدی هلته نو هغه قدیمی زنګ نیولي دروازه یې ټیل وهل چې په جیر جیرک غږ باندی دراوزه خلاص شوه، جهان اول ننوتې او بیا ماته غږ کړو، زه په کرار او ویریدلی قدمو ورپسی داخل شوم چې جهان مې ولید چې د یو تور آس په سر یې لاس تیر کو! او آس هم په کامل آرمتیا او خوشحالي باندی خپل لخوی عجیبه غږونه ویستل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان آس ته په اشاره ما ته وویل: راځه ورباندی لاس ووهه.
د هغه په خبره په وحشت باندی یو قدم شاته شوم ما د ماشومتوب څخه د دی غوا، آس او نور حیواناتو څخه ویره درلود په همفه ډاریدلی غږ مې وویل: نه.
زما په ډاریدلی غږ جهان راوکتل او په خندا یې وویل: راځه شې نه درته وایي!
- نه ضرورت نشته زما نه خوښیږی.

زما په خبری جهان زما خواته نږدی شو پداسې حال کې چې زه یې د لاس نیولم ویې ویل: ندی خوشیږی که بیریږی؟
په ویره مې کوښښ وکړو ترڅو د جهان د لاس څخه خپل لاس جلا کړم او یو څه ورڅخه لری شم خو هغه کلکه نیولې وم او د هغه تور غټو سترګو والا آس خوا ته یې نږدی کولم، آس ته په نږدی کیدلو په ویری او زاری مې جهان ته وویل: ته وخدای خوشې می کړه زه د حیواناتو څخه ویریږم.

جهان زما لاس په کراره د آس خواته نږدی کړو چې ما د ویری څخه سترګی پټې کړل، د جهان غږ مې خپل د غوږ څنګ ته واوریدی چې کرار یې وویل: زه درسره یم.... او زه چې کله درسره یم د هیس شی څخه مه بیریږه هیس شې څخه.! یوی سوی؟

په ویری باندیی مې سترګی خلاص کړی چې لاس مې د آس په سر و او آس هم په کراره خپل سر زما په لاس موښلو! ویره مې له مینځه لاړه خپل لاس مې د جهان د لاس څخه جلا کړو او غوښتل مې خپل وربانډی لاس ووهم چې آس مخ وګرځه ویې! په حیرت مې ورکتل دا نو ولی لری شو زما څخه؟ په همغه ګنګس انداز د جهان خواته راوګرځیدم چې هغه په داسې حال کې چې خندل ویې ویل:

جهان- تراوسه درسره آموخته ندی کرار کرار عادت کیږی!
په زړیدلې شونډو په خفه انداز مې د جهان خواته وکتل چې هغه په خندا وویل: دسی مه کوه زه درته ضمانت درکوم تر یو میاشت دا آس ستا سره خوی وبوی نیسې.جهان دا خبره وکړل او خپل د واسکټ له جیبه یې یو تک سور انار زما خواته ونیوی او ویې ویل: امم تر هغه ته انار وخوره ستا د باغ دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان د لاس څخه مې انار واخيستې او په خفګان مې وويل: تر يو مياشت سوک ژوندی سوک مړه؟!
زما په خبری د جهان تندی تروش سو او ويې ويل: مطلب؟
انار مې خپل لاس کې واړوی راواړی او ومې ويل: هيس همداسی.
جهان- څه مطلب همداسی؟ څوک دغسی دونی بيعقل خبره کوی!؟

په حيرت مې نظر د انار څخه واخيستې او جهان ته مې وکتل چې هغه په قهر او غضب ماته راکتل! ما خو هيس خبره نه وه کړی بيا ولی دی دومره په غوسه شو؟ په همغه ګنګس انداز مې ورکتل چې جهان په غوسه وويل: دونی مې بد راځی ستا د دی بی فکره خبرو څخه، چې د خبری معنا او مطلب ته نګوری يواځی خوله خلاصه وی او هر شئ چې په خوله دی راغی وايې! ولی ته تر يو مياشت مړه سی؟ ها؟

تازه پوه شوم جهان ولی په غوسه دی هم مې خندا راغلې وه او هم غوسه! دا چې دا څو وقتو کې زما هره خبره يې داسې په زبر او زير کتل سخت زور يې راکوی هيس مې ونه ويل چې جهان په همغه تروش تندی وويل: خبرو ته دی فکر کوه زر واره مې درته ويلې دا وار يې هم يو زرو يو! د مرګ لفظ د بوډا لفظ او په تا يې څه؟! دا الفاظ دی د خولې څخه وباسه ما سخت بد راځی ورنه.

يعنی جهان د بوډا د لفظ څخه بد راځی؟! نه پوهيږم ولې خو مضريت او شيطنت مې په بنور شو او په شيطان لهجه مې وويل: هغه دوه لفظ درسره منم چې زما اشتباه او سهوه وه، خو دا بوډا؟ دا خو حقيقت دی! د 33 کالو سړيانو ته موږ بـو....

لفظ مې پوره شوی نه و چې ناساپه جهان زما زنه کلک خپل لاس کې ونيول داسې چې نږدی وو راماته يې کړی! په غوسه ناک او داسی حال کې چې خپل غاښونه يې د ډير قهر څخه يو پر بل چيچل ويې ويل: اول خو د 33 نه 31 کالو او دويم ستا په نظر زما بوډا کيدل يو حقيقت دی؟ اوه؟ نو ماته غوږ سه په دغه عمر په دغه دقه که وغواړم تنها اراده وکم ستا په سر دری نور شزی هم راوړلې سم او هم تاسو څلور سره سپين سری کولې سم.. په دغه ستا په خبره بــوډا حقيقت باندی...!

د جهان خبرو او د لاس زور د دی سبب شو چې سترګې مې د اوښکو ډکی شی! وايې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان په غوسه کې خپل د زړه خبره کوی او زه د جهان په خبره حیرانه نشوم ځکه پوهیدم چې داسی فکر به په ذهن کی لری! خو دا چی مخامخ یې راته وویل زور یې راکړو خپل په ځان مې افسوس وخوړی او ټول توان او مقاومت مې صفر شو انار مې د لاس څخه وولیدی او د هغه سره مې د سترګو اوښکه هم د جهان په لاس وڅڅیدل! چې جهان زما زنه ایله کړه او سو قدم شاته ولاړی او په لوړ غږ یې وویل:

جهان- لعنت دی په شیطان وی.... استغفرالله و اتوب علیه ...

اوښکې مې یو د بل پسې په تویدو ول، بد احساس مې درلود درد لری چې خاوند دی د واده په اول ورځ د ناز او جان قربان لځایه درته ووایې یو هم نه دری نور بنې دربانده راوړم! زما د اوښکو په لیدو جهان رانږدی شو او غوښتل زما لاس ونیسې چې د جونید غږ مې د دروازی شاته واوریدی چې ناری وهل:

جونید- بابا میلمانه راغله دادا وایې راسه.
جهان- صحیح دی ته ورځه زه راځم اوس.

نه مې غوښتل د جهان سره دی یواځې اوسیږم ناساپه مې زړه ورڅخه ونیول شو، د جونید د تلو مخکی زه هم په تلوار د هغه منحوس ځای څخه ووتلم دومره په تلوار ووتلم چې جهان حتا فرصت ونکړو یو خبره وکړی! منع کول خو لری! زما د وتلو سره جونید په حیرت راوکتل چې ما زر زر خپل اوښکې پاکی کړل او د کور خواته روانه شوم! روان نه باید ووایم د جهان څخه وتختیدل او د کور خواته مې پناه ویوړل!
دهلیز ته داخله شوم او بیرته به همغه هوار شوی خای کیناستلم..!

خو دا ځل د پښو د درد سره د روح او زړه درد مې هم یوځای شوی وو! ما هیس سوک دی کور او دی کلې کې نه پیژندل ما د یو کس په نوم خپل کور، مور، پلار، خور، ملګری شناخته قوم ارمانونه او حتا خپل فکر لا پریخود او راغلم دلته او نن همغه یو نفر زه داسی خپل د ځان څخه وشړلم! پدی فکرونو مې اوښکې بیا په راتلو ول، نور هلته نشوم کیناستلی لځایه پاسیدم او خپل د کوتې خواته راونه شوم، هر خبره چې کوی و دی کړی نور توان او حوصله نلرم د دی خلکو خبرو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کوټې ته ننوتلم د ماښام ځای لا تراوسه هوار وو؟ همغسی کمپل کې ننوتلم او ژړا ته مې ملا وتړل نه پوهیږم سومره به مې ژړلی وه چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او د روقیه غږ مې واوریدی چې ویې ویل:

روقیه- وریندارې ډوډی نخوری؟
خپل ستونی مې صاف کړو ترڅو پوه نشی چې ژړل مې کرار مي وویل: نه اوس مې زده نغواړی.
روقیه خپل خبره لکه چې پورته ښکته کول چې ماته ووایې او کنه؟ خو اخیره یې څه ونه ویل او د کوټې څخه ووتل،

سخته وه چې خپل د ژړا مخه ونیسم بالښت مې د اوښکو څخه لوند خیشت شو، نه ماښام مې ډوډی وخوړل او نه هم لاندی ښکته شوم روقیه راغله راپسی او زما د حال په لیدو یی فکر وکړو زما زړه خپل کورنی پسی تنګ شوی او دلداری راکول د جهان مور هم یوځل راغله او یو څو نصیحت یی وکړل او ولاړه خو زه پاتی شوم او ژړا مې د سهار تر آذانه جهان رانغي او میلمه خانه کې د میلمنو سره ویده شوی وو! ما هم تر سهار سترګه پټه نکړل نور اوښکي نه وه پاتی چې توی کړم، بی حرکت او خاموش د ماشومانو پشان مې ځان تول کړی وو او ځای کی ځملیدلی وم.

کرار کرار مې د زیات ژړا څخه سترګي په پټ کیدو وه چې د کوټې د دروازی د خلاصیدو خرپ او د هغه څخه وروسته د جهان سایه چې کرار کرار زما خواته رانږدی کیدو د خوب مخه ونیول، شاید بیعقل وم او یا هم ماشومه خو ما اوس هم غوښتل جهان راشی او خپل خبری بیرته واخلی او زما د زړه څخه دا غم او خفګان لری کړی! شاید هیڅکله د هغه خبری مې له ذهن څخه لاړی نشی خو دلاری شاید لږ د هغه راکړی زخم او درد حخه کم کړی!

خپل ځنګ کې مې د هغه کیناستل احساس کړل او د زړه درزا مې د کنترول څخه واوښتل، نه مې شو کولي چې د دروغو د ویده کیدلو تظاهر وکړم نو ځکه مې د ژړا څخه په نیولی غږ ورته وویل: د څه لپاره راغلي؟
زما د وینې اوسیدو څخه په حیرت کې شو او ویې ویل: نه یې ویده شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپل مې د ځان څخه لرې کړو چې هغه هم د کوټې ګروپ روښانه کړو په همغه نیولی او غوسه ناکه لهجه مې ورته وویل: مګه مهم ده؟ وایم ولې راغلي؟
جهان خپل غږ راښکته کړو او ویې ویل: هیسسس په کراره غږ دی بیرون ځی.
مخ مې ورنه وګرځه ویې، هغه ته کتل د دی سبب کیدل چې ژړا مې نور هم زیات شې او ورته ګیلې شروع کړم! په داسی حال کې چې مخ مې ورنه ګرځه ولې وو ومې ویل: لاړ دی شې موږ مینځ کې مګه کوم پټه خبره هم شته چې خلک ندی خبر ورباندی؟

لکه ماشوم چې ختا باسي یا هم چل ورکوی جهان زما د سر وینتیانو باندی لاس تیر کړو او ویې ویل: ډاډمنه یې چې زموږ د ټولو خبرو څخه خلک خبر دی؟
غرور مې ویل لاس یې خپل د وینتیانو حخه جلا کړم او ورحخه لری لاړشم خو لعنت دی وی زما په زړه چې غوښتل یې هغه دی ناز راکړی!
#شهاب ?:
- څه غواړی زما څخه؟ اراده دی مګه نه وکړی د دری ښځو ورځه پوره یې کړه دلته څه کوی؟
جهان د اوړی څخه ونیولم او خپل خواته یې راکش کړم او ویې ویل: فکر کوی زه څنګه سړی یم؟ فکر کوی ما خوب کولي شو کله چې پوهیدم ته دلته خفه یې؟!
دا چې زما پوښتنه یې په پوښتنې جواب کول سخت زور راکړو او ومې ویل: زه نور هیس فکر ستا په اړه نکوم دلته راغلې ترڅو زړه راباندی وسوځه وی؟ نو سم وګوره زما حال ته او آفرین خبره دی سم په نښه ولګیده اوس هم ورځه.

جهان خپل لاس خپل و ینتیانو کې تیر کړو او ویې ویل: زه دومره بیغرت شوی نه یم چې خپل ناموس په عذاب کړم او د هغه د آزاره ولو څخه خوند واخلم.
د هغه خبرو زه نور هم په غوسه کولوم دومره چې کنټرول مې د لاس ورکړو او چغو ته مې شروع ورکړل چې جهان په تلوار زما خوله ونیول خو ما همغه حالت کې ورته ویل: درته وایم د کوټې څخه ووځه ورځه همغه کسانو ته چې ستا د یو اشاری په تمه دی، ماته مه نږدی کیږه.

جهان پداسې حال کې چې خپل غاښونه یو پر بل چیچل وویل: هوســې ما مه په غوسه کوه، پدی نیمه شپه نه یم راغلې چې ستا اوښکې بیا توی کړم! ... دا بې صاحب زړه مې توان نلری چې ستا دا خراب حال وګورم، ما هغه خبره هلته ستا د خبری په ضد وکړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاکه مې نور کم مطلب وو او پسته( وروسته) خپل پشیمانه سوم( جهان خبری کول خو ما ضد کړی وو د هغه یوه خبره مې نه آوریدل او یواځې خپل خبره مې کول:

- غواړی په دوه خبرو ماته چل راکړی؟ زه ستا رګ رګ پیژنم پوهیږم هغه خبری دی ده زړه وه اوس هسی وربانډی د دروغو پښیمانه کیږه مه.
جهان کرار وویل: مه څه زما پر عصابو.
خو ما نن شپه د زړه درد تازه شوی وو د جهان د یو میاشت ټول خبری او کارونه مې د سترګو وړاندی مخکې کیدل او اجازه یې نه راکول چې خاموش اوسیږم په همغه لهجه مې ورته شروع کړل:

- ستا په نظر شاید زه ساده یم بیعقل یم خو دومره هم نه یم چې پوهه نشم ستا خبری او حرکات څه معنا لری!؟
جهان- اممم شه ته وو ایه ستا په هغه دوني کک د چرګ مغزو کې زما خبری او کارونه چشی معنا لری؟ هومم آورم!
- همدا چې آرمان مو پوره شو کوم مقصد مو چې غوښتی هغه ته ورسیدی اوس نو زما څخه موړ شوی شاید دا ځل پلان لری یو 10 کلني انجلي ځانت....( خبره مې پوره شوی نه وه چې د وینو خوند مې خوله کې احساس کړو د څو ثانیو لپاره مې غوږونه یو دم بنګ ... غږ وکړو او هیس مې وا نه وریدل!

شونډه مې پری شوی وه! هو جهان زه د لاس په شا په خوله وهلي وم! د وینو سره مې اوښکې هم د سترګو و بهیدل چې جهان په زوره زما مخ خپل خواته کش کړو پداسی حال کې چې خپل په حرکاتو یې د زیات قهر او غوسې څخه کنټرول نه درلود د غضب څخه په ډک او لړزانده غږ وویل: د... دا ت....ا ... تا ته ما ونه ویل هیس کله خپل ځانته دسی توهین او سپکاوی مه کوه! ستا په نظر زه تاته بیغرت بی ناموس معلومیژم یا ځان درته فاحشه معلومیژی چی هر وار دونی کک خبره پورته شته( بښکته) نسې ته زما خواته د یو تیري کونکی او هوس باز انسان ګوته نیسې!؟

زما د کارونو په معنا او مطلب نه پوهیژی؟ فکر کوی زه ځان درنه لری لری کوم چې لاره جوړه کړم بل واده او شزی ته؟ ته فکر کوی زه دونی رزیل او هرمونی انسان یم؟ هاا!؟( د جهان د ها په غږ مې اوږی د ویری څخه و پریدل او اوښکې مې لکه سیلاب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ را وبهید، خو جهان لیونی شوی وو هیس شي ته یې نه کتل نه زما ژړا او نه هم زما د وینو ډک شوندې ته زه یې دومره کلک د لاس څخه ونیولم چې فکر مې کوی لاس مې مات شو!

جهان- یعنی ستا فکر زما په اړه دوغنی( همدومره) دی!؟ چې زه د 60 کالو بوډا یم او ته مې د پیسو په زور اخیستې یې خپل د نفس د خواهشاتو لپاره؟ او اوس هم درنه موړ سوم چم چمکې کوم چې ولاړسم بله شزه وکم؟! یعنی یو وار هم خپل په اړه فکر نکوی؟ یو وار هم ځان سره نه وایې شاید د دی( جهان خپل ځان وهی او وایې: د دی پدر لعنت انسان زړه کې څه خبره ده؟ ولې دسې کوی؟ ما تاته یوه خبره وکړل هغه هم په غوسه او ستا د خبری په ضد باندی!

او تا پوره شپه نه خوب وکې ندی هم د شئ څکه وکې ( مطلب ډوډی دی ونخوړل) یوه خبری باندی تا په ځان ماتم او غم ونیوی، ایله هوایې خبری باندی هغه وخت ته پکر وکه چې زما به څه حال ویې چې لاس تړلې مې د هغه هرمونې سره ګیره کړی؟(د جهان په خبره اوښکې تویه ول مې لیاده ووتل او بی روح جسد پشان مې ورروکتل چې جهان په همغه درد لړونکې لهجه وویل: 45 شپې کیژی چې ما خوب ندی کړی 45 شپې کیژی هر دقه چې سترګې مې د ډیر ستړیا او بې خوبې څخه پټې سوی ته مې د هغه څنګ کی په خوب کې لیدلی یی!

45 شپې کیژی ما ته ځمکې او آسمان ځای ندی راکړی یو دقه مې هغه خبری د دی ( جهان خپل سر کلک ونیوی او ویې ویل: د دی لعنتې مغزو څخه نه وځی، یو هیژی ولې د پخوا په رکم نه یم؟ (د اوښکو څخه په ډک نظر مې ورکتل چې جهان لکه یو لیونی پشان وویل: هر دقه چې خپل زړه په څلور مذهب قانع کړم چې ستا ګناه نه وه او یو غلطی وه ولاړه تیره سوه د هغه خبره مې یاد ته راځی.... ویل یې...

ویل یې ..( د جهان سترګې د اوښکو ډکې شوی او د مغزی رګونه یې راوتلل لکه چې نفس یې نشو اخیستې چې خپل ګریوان ته یې لاس واچوی او خپل کمیس یو څو تنې

په زوره کش کړل چې ګریوان یې څیری شو، پداسې حال کې چې په زوره یې نفس اخیستې ویې ویل: ویل یې ستا د کمې خوا ماینه!؟ ویل یې په نیمه شپه یې ماته دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه کړی وه ما ته یـ... ( جهان خپل خبره نيمه کړه او په داسې نظر يې راوکتل زما خواته چې ټول وجود مې د وحشت څخه ولړزيدی چې جهان بيا وويل: هر وار هر وار چې غواړم در نژدی سم( جهان خپل په زړه وار کوی او په همغه دردناکه لهجه وايي: دا زړه مې نه منې( د جهان اوښکه د دی خبری په ويلو توی شول چې زما طاقت هم خلاص شو او ژړا مې په ساندو بدل شوه، خو جهان نن شپه لکه چې اراده کړی وه ما خپل په خبرو مړه کړی چې بيا وويل:

جهان- ما څه ګناه کړی وه؟ ما هم مينه کړی وه او په پاک نکاح مې غوښتل خپل يې کم خو ... پوهيژی زه هر لمانځه کې د ايمان څخه مخکې چشې دعا کوم؟( ما يواځې ورکتل هيس مې نشو ويلې بغير له ژړا څخه چې جهان رانږدی شو او ويې ويل: زه دعا کوم چې خدايه زما د شزی عزت او حيا وساته، زما د ناموس پرده وکړه...

زه د ايمان څخه مخکې ستا عزت غواړم (بيا پداسې حال کې چې په ګنګس او ناشنا نظر يې ماته راکتل ويې ويل: زه نه پوهيژم څه وکم؟ هم دی غواړم هم دی نغواړم!؟ اوسيدل دی هم درد دی او نه اوسيدل دی هم درد دی! نه دی خپل د ځان څخه لری کولې سم ندی خپله ولی سم! زما مشکل ستا سره ندی زما مشکل د ځان سره دی زما مشکل خپل د زړه سره دی دا( خپل په زړه يې وار وکړو او ويې ويل: دا لعنتی دی هم غواړی او هم نغواړی!؟ يو دقه بې فکره د عالم سم ستا د خندا په ليدو ټول خبری او کارونه مې د ياده ووځې او غرق ستا په تماشا سم

خو ناساپه( خپل سر وهې او وايې: دا لعنتی ټول خبری او کارونه را په ياد کې ستا کوچنی کوچنی خبری زما زړه ته لکه غر غوندی سی او په ساعتو ساعتو ورته فکر کوم چې ولی دسی وويل؟! ولې دسی وکړل؟ ته چې هر وار تندی تروش کوی هر وار ماته وايې بوړا زه فکر کوم ستا فکر کې ه.... هغه دی او ستا زړه زما سره ندی، زور راکوی د مرګ تر حده رسيژم زړه مې غواړی ټوپک راواخلم ډز ډز اول تا وولم بيا ځان!

زه پوهيژم دا خبری به عمری ابد زما د ياده ونوځی ما به تاته ناز درکوی او ته به زما څخه تشتيدلی! او ما ساده ته ګوره ما بيا ويل انجلی ده شرم لری تا زه سلها واری خپل د ځان لری کړم او ما سلها واری ځان پدی خبری ختا باسی چی شرم حيا لری! خو مه وايه چې خبره بل ځای خرابه وه او زه پدی مينځ کې بيغــ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان خپل خبره نيمه کې خوشی کوی او بغير لدی چې زما بد حال ته وګوری له کوټې وځي ....

***

يوه هفته د هغې شپې ځخه تيره شول، داسی يو هفته چې پر ما باندی د همغه ورځو پشان تيره شوه کوم چې حسيب راته تهديد کړی و او ما د مرګ اراده کړی وه! حتا د هغه ځخه لا بتر د هغه شپې خبرو وروسته لکه چې هغه يو کوچنی د احترام او خيال ساتلو پرده چې زموږ مينځ کی وه هغه هم لمينځه تللی وه او جهان د هغه ورځ په سبا راکتل لا نه! خپل د خوب ځای دوړی راځخه جلا کړه يوه کوټه کې لکه دوه مسافره اوسيدو هغه د کوټې يو سر کې زه يې بل سر کی! نه هغه کوم خبره کول نه ما نه هغه کوم غوښتنه درلود نه هم ما!

بس په ظاهر د ټولو مخکې ښه وو خو باطن کې او يواځې توب کې يو بل ته دوه بيګانه کسان شو، د يو هفتې وروسته د جهان مور زما کار راته په ګوته کړو چې څه وکړم څه نه؟ سهار وختی د ټول کور جارو کول،لوښې مينځل، او دری وخت چای دم کول، او کله ناکله د غرمې ديګ پخه ول زما کار وو! دا لا د جهان د مور خبره زما سره مراعات يې کړی وو؟ چې د تناره دوډی ماته نه وسپارلی او د غوا لويشل( د غوا ځخه شيدی ايستل) يې زما په غاړه کړی نه وه! د دوه هفتو کې بابا، ادی، اسما، نيلوفر ټولو سره مې خبری وکړل هر چا چې ويل ښه يې؟

ما به په خلاص تندی ويل هو! څه مې ويلی وايې؟ څه د ويلو لپاره وه؟ چاته مې ويلی وايې چې خاوند مې کوټه کې ځای رانه جلا کړی! چاته مې ويلی وايې چې زما خواته راګوری لا نه خبری کول خو لری! چاته مې ويلی وايې؟ بابا ته؟ ادی ته؟ که آسما ته؟ څه به يې کړی وايې؟ ضرور پوښتنه يې کول ولی؟ او ما څه جواب درلود؟ څه خبره مې د ويلو لپاره درلود؟ هيس .. هيس .. شايد زما دا حال زما د ګناهونو کفاره وی؟ شايد دا زما مجازات وېې چې خدای زما ځخه اخلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دی دوه هفتو پشان د سهار د پنځه بجو څخه لګیا وم دا غټه حویلی مې جارو کول، د ډیر جارو وهلو څخه مې ملا، لاسونه، او پښې درد کول خو چاره نه وه مجبوره وم، حویلې مې نیم جارو کړی وه چې د جهان د مشری وریندارې غږ راغې چې ویل یې راشه دا پیالې ومینځه! مجبور جارو مې پریخود او پداسې حال کې چې خپل ملا مې په لاس موښل د کور خواته ولاړم، مابښام د ډوډی وروسته دوی چای څکلې وه او پیالی خیرنی کړی وه نو مجبور اوس مې باید

مینځلی وایی تر څو بیا ناری کړی وایې؟!

خپل د دست کشو پسی په ګرځیدو شوم خو آشپزخانه کې کوم ځای کی چی ما ایخودلی وه نه ښکاریده! بل جوړه می نه درلود یواځې هم دا یوه جوړه وه په ویری او وحشت مې ورپسی کتل هغه خوا څخه د جهان مور ناری او بغاری شروع کړی وه چې یو دانه پیاله دی خسر ته راوړه! هر سومره چې وګرځیدم پیدا مې نکړو اخیر د ډیر مجبوری څخه مې پیاله همداسې ومینځل، کوم پوډر او ظرف شوی می ورنکړل خو پیالې لږ بد بوی کوی او باید ضرور مې یوځل په ظرف شوی مینځلی وایې!

د مجبوری څخه مې لاس په پلاستیک وتړی او د پیالی مینځلو باندی لګیا شوم چې ناسایه د جهان دویم ورور آشپزخانې ته راننوتی او زما تېکری زما د سر څخه ختا شوی وو! نو ما تلوار وکړو ترڅو ټکری مې په سر سم کړم چې د ظرف شوی څخه ډک لاس مې په مغزی راکش سو! اول کې د زیات تلوار څخه په هیس پوه نشوم خو کرار کرار د مغزی سوځیدل مې شروع شول هر سومره چې اوبو می مینځې هغومره نور هم خراب کیدی! تر مابښام درد می تیر کړو او هیس می ونه ویل او د کور کار مې وکړو..

خو مابښام کوټه کې یواځې شوم او جهان هم نه وو او ورسته راتلې نو په راحته د هینداری مخکی و دریدم او ټکری مې خپل د مغزی څخه لری کړو! د ډیر سوځیدو او خراب میدو څخه رنګ یې شین ته اوختی وو د زخم په لیدو مې سترګو کې اوښکی راټولی شوی، او هغه ورځ می یاد ته راغلل چې ما دست کشی اچول لیاده وتی وه او لاسونه مې زخم زخم شوی وه! او بابا راته ملحم وهلی وو! د هغه ورځ په یاد راوړلو ژړا ونیولم او مجبور د دی دوه هفتو پشان خپل ځای د کوټې کونج خپل بستری او بالښت ته مې پناه ویوړل او ژړا ته مې شروع ورکړل، دومره درد می درلود او دومره ستړی وم چې نه پو هیږم کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې سترګی درنی شوی وه او ویده شوی وم!

په مغزی مي د يو يخ شي په وهلو په ډار له خوبه پاسيدم چي جهان مي خپل سر ته ناست وليدی؟ په تروش تندی لګيا وو ملحم يي زما به مغزی وهل کله چي زما خلاصی سترګی وليدل ملحم يي زما خواته راختا کړو او په غوسه ناکه لهجه يي وويل: دا ملحم پوره خپل په مغزی ووهه او سو ورځو پوری زخم مه لوند کوه، ( او بيايي زما ځنګ ته اشاره وکړل او ويي ويل: هغه دستکشی دی سوری شوی وه ما ويوړل چي نور درته راوړم خو تا ...

هغه خپل خبره نيم کي پاتی کړه او به همغه تروش تندی خپل د ځای چي زما ځخه دوه دری نالي لری آوار کړی وو ولاړی او پداسی حال کي چي هلته يي هم زما خواته شا کول ويي ويل: ادی ته می ويلی سبا ورسره ډاکټر ته ولاړسه چي سم دوا درکی دا ملحم د نن شپی لپاره يی درد کمه ويی.

ما د جهان خواته کتل خو هغه ماته شا کړی وه دروازی خواته يي کتل! ولی؟ اخير کله چی زما ځخه يي بد راځی بيا دا کارونه کوی؟ يعنی زړه يي پرما سوځی؟ هو ضرور همدغه دليل دی! پدی فکر می غوسه راغله او ملحم می د هغه خواته ختا کړو ما د هغه ترحم او زړه سواند نه وو پکار ملحم د جهان پر ملا ولګيدی او هغه په حيرت زما خواته مخ راوګرځه ويي چي ما ورته په غوسه وويل: زړه دی د بل چا لپاره وسوځه وه زه ستا ترحم او همدردی ته اړتيا نلرم.

زما په خبری جهان راوکتل او کرار يي وويل: استغفرالله.
بغير لدی چی جواب ورکړم دا ځل ما ورته شاه وګرځه ول، زړه مي دومره ورځخه نيولی وو او خفه وم چي بي اختياره مي اوښکی په بهيدو شول! دی له کوم خوا خبر شوی وو چي زما دستکشی ځيری شوی وه؟ چي تللی و نور يی راته راوړی وه؟ ضرور رووقيه ورته ويلی ځکه هغی زما دستکشو ته فکر شوی وو! نه نور ما کوم خبره وکړل نه جهان همغسی شا ګرځه ولی ورته ويده شوم.

سهار جهان کار ته د تلو مخکی خپل مور ته يوځل بيا وويل چي زما سره دی لاړشی د دوی د کلي نږدی کلينک ته خو مور يي ورته خپل د پښو درد او د خور راتلل يي بهانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل او زما سره د تلو څخه یې انکار وکړو؟! پدی دوه هفتو کی یو خبری ته می پام شوی وو او هغه دا چی د جهان دویم خور چی ګلناز نومیده هر کله به چی دلته راغله نو خپله خو یې هسی خدای زما څخه نه پوهیږم ولی بد راغلی ول او خبری نه راسره کول د دی د راتلو سره د ټول کورنی اخلاق ترخو ورځو زما سره بد او تند کیدل؟! حتا د روقیه ده ترخو ورځو به سم خبری نه راسره کول! نه پوهیږم ولی؟

د جهان مور چی زما سره د تلو انکار وکړو نو جهان جونید او روقیه ته وویل چې زما سره دی تر ډاکتره لاړشی دی مینځ کی یو زه وم چی خاموش مي د چای پیالی ډکه ول او هیس خبره مې نکول، د ګلنازی مخکی می هم د چای پیاله کیخودل چې هغې په تروش تندی پیاله چای بیرته پتنوس کی کیخودل او په همغه لهجه یې وویل: زه چای نه چیشم( نه څکم.)

هیس می ونه ویل او پیاله چای مې ورڅخه لری کړو چې د جهان مور هم په تروش تندی وویل: ورځه حجاب مجاب دی وکه ولاړسه ډاکتر ته چی وګوری چشی دربآندی سوی؟!

د جهان د مور لهجه بل رکم وه! داسی لکه د جنګ خو ما څه ونه ویل او په کراره خپل د کوټې خواته روانه شوم حجاب مې د الماری څخه راوخیستی او د سینګار میز خواته روانه شوم چې یاد ته مې راغلل سینګار کول دلته د کور څخه د باندی تلو وقت کې منع دی! منع چی څه کوی کفر وو ما هم نشو کولی یواځی کار می چی وکو خپل سترګی می توری کړی.د لوړ چیلکو چې د تلو وخت کی ټک ټک کول او یوځل روقیه راته ویلی وه چی د کور سړیان د داسی چیلکو څخه بد راځی، یو جوړه ساده او بنکته بوټونه مې په پښو کړل.

او لاندی راغلم چې جونید او روقیه مې حویلي کی ځانته په انتظار ولیدل! دا څو هفتو کی یو څه د جونید په خوی او بوی پوهه شوی وم ډیر معصوم او عاجز ماشوم دی، د کور زیاتره کار د دوکان تلو څخه نیولی د غوایانو ته د واښه راوړلو ټول ده کول، دوکان د کور څخه زیات لری وو خو دی بیچاره به د ورځی شل ځل هم دوکان ته تلی او یو شکایت یې لا نکوی! په ګډه د کور څخه ووتلو په حیران حیران نظر می شاوخوا کتل، پدی دوه هفتو کی یو ځل لا د کور څخه نه وم راوتلی چی وغواړم د کور مخ کوڅه لا وګورم کلی خو لا لری!

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسی په حیرت روانه وم چې د کوڅی سر ته په رسیدو یو لوکس موټر زموږ مخکی و دریدی! او د موټر د ښیښی په ښکته کیدو ما ژر خپل د ټکری په څنډه خپل د سترګو څخه رانجه پاک کړل او ځان سره می وویل: که ما دومره شانس درلود اوس باید په امریکا کی وایی نه دلته د یو مغول چنګیز قوم په مینځ کی!

ارباب- ناوی چیرته روانه یی؟
زما لځایه روقیه ورته زما د مغزی زخم کیدو تولو کیسه وکړل! لکه چی د جهان پلار نه وو خبر د دی موضوع څخه چي سر يې وښوره وی او ويې ویل: خدای به خير کی یواځی ځان روان یاست؟
روقیه- نه بابا جونید سره ځو.
د روقیه په خبری ارباب په قهرجنه لهجه وویل: یعنی تاسو داوړه ښزی د دی یو کوچنی په سر د هغه دنیا سر ته روان یاست؟

روقیه- هغه جهان ورور ویل موږ دی ولاړسو.
ارباب په قهر خپل سر وښوراوه او ویی ویل: ناوی یواځی ته ډاکتر ته ځی؟
- هو
ارباب- نو کشینه موټر کی زه دی خپله رسه وم.
په ورختا يي می وویل: نه نه موږ خپله ځو تاسو ولی ځان په زحمت کوی؟
ارباب بد بد راوکتل او ويې ویل: کشینه( کینه) زه دی خپله وړم زه به د هغه جهان سره هم وګورم بیغیرت خپل ځوان ښزه يی یواځی ځان ایله کړی خپل په سر کشینه...

زړه می نغوښتی موټر کی کینم زه خدای د جهان د پلار څخه ویریدم، زړه نا زړه مي د موټر خواته کتل چي هغه بیا وویل: کشینه موټر کی څه استخاره کوی؟

ارباب په غوسه ناکه لهجه دا خبره وکړل او ما نور تردید او زړه نا زړه والی مناسب ونه بلو او په تلوار کیناستم روقیه هم غوښتل کینی چی ارباب ورته وویل: تخو مریضه نه يې! نو مه راځه.
روقیه- خو لالا ویل زه ورسره ولاړسم
ارباب- ضرورت نسته ورځه کورته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارباب نه جونید پریخود او نه هم روقیه یواځی زه یې موټر کې کینه ولم! او هغه خپل موټر چله وی؟! لوکس موټر و د جهان د موټر پشان! په هغه لوکس موټر کی رادیو چالانده وه او یو نعت د موټر په فضا کی خپریدی. پدی لوکس موټر کی یو ریمکس مست غزل په کار وو نه دا نعت! ارباب موټر روښانه کړو او کرار یې وویل: دا موټر می ددی د چوکیو لپاره خوشیژی انسان پکشیکی(پکې) راحته وی. نو نه کیژی چی زه دی پدسی موټر کی کشینم او مژور می په سراچه کی!
- مننه

ارباب- جهان شه اخلاق درسره کوی؟
په حیرت می د موټر له هینداری څخه ارباب ته وکتل؟! خو زر می بیرته سر ښکته کړو او آرام می وویل: هو
ارباب- اممم خو ماته دسی نه شکاری!
د ارباب په خبری مې په ویری او وحشت وروکتل چې دا ځل هغه هم خپل په هغه تور سترګو چې تور والی د جهان د سترګو څخه زیات و خو کم نه د موټر له هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: جهان ماته شه نه معلومیژی! زه یې پلار یم او پلار مور خپل د اولاد په بیری،وحشت او خفګان پوهیژی، جهان دا دوه میاشتی کیژی بل رکم دی!

کارونه، خبری، بی فکری خاموش کیدل یې دا ټول ماته د 9 کالو مخکی رکم شکاری!(په حیران او ګنګس انداز می وروکتل چې ارباب زما په ګنګس انداز پوی شو او ویې ویل: 9 کال مخکی چې ګلدسته مړه سوه او د یو شپی جونید د جهان غیژ کی پاتی سو جهان دغسی ګنګس او ویریدلی وو! او نه پوهیدی چشی وکی؟ او زه د 9 کالو وروسته بیا د جهان سترګو کې هغه بیره وینم او شاید د هغه څخه لا زیات!

ما هیس نه ویل او خاموش مې غوږ نیولی وو، زه تازه خبره شوم چې د جهان ښځه په څه دلیل مړه شوی وه؟ ارباب موټر سرک خواته کړو او بیایی کرار وویل: جهان د کوچني والو څخه د دیني درسو سره زیات شوق وو دونی زیات چې په ۱۷ کلنی کې زما بی اجازی خپل د ماماګانو سره پاکستان ته تللی وو او هلته په یو دینی مدرسه کې درس وایې! زه چې خبر سوم هم حیران سوم او هم وبیریدم! هغه وخت اوضاع زیات خرابه وه او د پاکستان هغه مدرسو کی د دین دځایه زیاتره فدایان او انتحاری حملو د پاره یې دا رکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان نسل تربیه کوی!

په یاد مې دی د ژمی شپه وه د شپې دوه بجې مې حرکت وکړ په بولدک واوښتم او سبا مې جهان لاس نیولی ځان سره راوړی کور ته! نه راتلی زاری کول خو ما په زوره راوړی او ددی د پاره چې ځان سره یې وساتم او نور د پاکستان او مدرسو هوایئ د سره ووځی جر مې ورته خپل ورېره ګلدسته .... خدای دی وبخښی هغه مې ورته وکړل، د جهان نه وه خوښه هغه غوښتل درس ووایی خو ما اجازه ورنکړل مجبور پاتی سو اول ځو میاشتی خفه وو ضد یې کړی وو، خبری نکول مازی بهانی باندی جنګ کوی، خو علم او هغه درسو یې ورته فاید کړی وه چې جنګ او دعوا یې زموږ سره وه!

ګلدسته چشی نه ویل هغه هم خدای دی جنتونه ورنصیب کړی د دیوال ژغ پورته کیدی خو ددی نه! دونی عاجزه وه سل خبری دی کړی وایی د دی انجلی ښخه تا یوه خبره نه آوریدل، جهان ورسره سات تیر وو کتابونه یې د انډیوالانو ښخه راوړل کور کی ویل یا هم نژدی د مسجد مولا ته تللی، خوشحاله خوشحالی وه بس نظر وو که قسمت هر شی چې وو د جونید د پیدا کیدو سره ګلدسته مړه سول،( ارباب ځو ثانی خاموش شو بیایې وویل: ستا نه چشی پټ کم موږ د کلی خلک یو شزه راته ګرانه ده خو تر حد!

ګلدسته زما وریره وه راباندی ګرانه وه د زوی کور مې درباندی جوړ وو خو چې مړه سول پته کړی مو لا نه وه چې ما جهان ته وویل واده درته کوم! ما خپل په فکر د هغه کور آباد کوی د اول وار رکم( ارباب خپل د خبری دی ځای کی یو ژوره ساه واخیستل او ویې ویل: خو جهان دا وار د هیڅا خبره ونه منل نه زما نه خپل د مور نه خور نه وررور د هیڅا دا خبره نه وه چې په ګلدسته عاشق و یا ویل یې که شزه وکم هغه جونید ته مورتوب نسی کولی او زه نغواړم زوی می د میری د لاس لاندی شی.

9 کال یې خپل ځوانی د جونید د پاره خاوری کړل، نور نو موږ ورنه نامیده سوی وو چې ځو میاشتی مخکی شاید خدای زموږ یو دعا قبول کړی وه چې ستا د پلار سره یې ملاقات سوی وو او بیا( ارباب وخندل او ویې ویل: یو رکم په شرم او حیا ماته وویل بابا زما د پاره به مرکه ولاړنسی؟ باور په خدای وکه هغه دقه که د جنت زیری راباندی سوی وایې دونی نه خوشحالیدم لکه سنګه چې د جهان په خبری خوشحال سوم، ما د جهان سترګو کې همغه د 20 کلن ځوانی شور او شوق لیدی، بی کراره وه کارونه به یې سر سر کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل او کش د کابل خواته ...

ارباب خندل او ما سر د شرم څخه لاندی اچولی وو چې هغه د څو ثانیو وروسته وویل: خو اوس خراب سوی بل رکم سوی نه پوهیژم مشکل د چشی دی؟ خو دونی ضرور پوهیژم هر مشکل چی دی په تا باندی ربط لری! نن ما تنها کړی چې درسره یو څو خبری وکم ما نصیحت نزده عمر کې می نه خپل زامنو ته نصیحت کړی نه لورګانو ته! تاته هم نصیحت نکوم ما ته مشکل دی ووایه چې زه یې درته حل کم!

ارباب دا خبر وکړل او موټر یې د سړک کونج کې و دره ویې او پداسې حال کې چې کامل زما خواته راګرځیدی ویې ویل: مشکل دی چشی دی؟زموژ کور دی نخوشیژی؟ د اطرافو څخه دی بد راځی؟ خامخا د شهر څخه راغلی یې شاید زموژ د کور د کارونو سره نه یې بلد مشکل نسته ستا پلار ته مې هم قول ورکړی وو تاته یې هم درکوم جهان راضی کول یې پرما دغه نن ولاړو کورته بستره دی د میره په شا درکوم ویې دیسی کابل ته هلته دی درته کور واخلي، ماته زما د زوی خوشحالی مهم ده کوه قاف ته ولاړسی خو صرف ماته ووایست چی جهان خوشحاله دی! بس زه نور هیس شی ورنه نغواړم

جهان خپل د زوی توب حق زما د پاره ادا کړی زه ورنه نور هیس شی نغواړم بغیر د هغه د خوشحالې، او ها که مشکل دی د کور او کلي سره ندی او خبره ستوی دواړو په مینځ کی خرابه سوی نو زه درته دونی وایم چې خپل میره د لاسه ونیسه یو کونج کې کرار کشینه(کینه) وه او ورته پوره خبره وکه! انسان دی شاید یو شی د یو چا له خولی اوریدلی وی او خبره به یې په زړه نیولی وی؟ لنډ مثال یې زه ستا په باره کې درکم تا چې په دست کشو لوشې پریول زما غوژو ته رنګارنګ احوالونه راتلل یو ویل چې د شهر څخه یې انجلې راوړی د ډیر کبر او غرور لاس باندی دست کشی کوی! ( د ارباب پدی خبره مې په حیرت وروکتل؟ چی هغه په خندا وویل:

ارباب- زه تازه نن خبر سوم چې په حه دلیل تا دست کشی اچول! نو فکر کوه خبره چې د یو خولی او یو سړی نه بل سړی ته رسیژی سل رنګ او سل کیفیت بدله وی! شاید ستوی مینځ کې هم دغسی منافقت او شیطنت سوی وی!؟ کشینی یو د بل سره خبری وکی خپل مشکل حل کې تاسو نور یو دبل څخه رغیندن نکیژی تاسو دواړه نور د عمر تر اخیره یو د بل د ژوند لباس یاست، زما دا خبری د یو پلار پشان وآوره او فکر وربانډی وکه او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا څخه چې یو تعلیم یافته او با سواده انجلی یې د دی امید لرم چې خپل ژوند خپل سم کې نه دا چي کشینی ترڅو یو سوک راسی او ستا ژوند درسم کی.

واقعا هیس فکر می نکوی چې د جهان پلار دی دومره هوشیار فهمیده او مهربانه انسان اوسیږی!؟ منم چې خبرو خبرو کې خپل د زوی خوا زیاته ونیول خو د زړه د خلاصه یې ماته هم نصیحت وکو د یو خیر خوا او یو پلار په صفت! ارباب تر کلینک زه ویوړم ډاکتر زما مغزی وکتو او د یو هفتی دوا یې راکړل کور ته د بیرته تګ وخت کی ارباب نور تیس خبره ونکړل او ماته یې اجازه راکړل چې د هغه په خبرو فکر وکړم! کور ته چې ورسیدو ارباب د ټولو مخ کې وویل چې د دی څخه وروسته زه دی نور هیس کله لوښی ونه مینځم!

د هغه په خبره د جهان د وریندارګیانو څخه نیولی حتا د جهان د مور تندی لا تروش سو خو د ارباب خبره خبره وه او هیچا وربانډی مخالفت ونکړو، دوا په لاس خپل کوټې ته ولاړم د ارباب خبرو زه فکر کې واچولم! او تازه مې د جهان د هغه شپې خبرو ته فکر شو چې ویل یې حسیب ورته څه خبری کړی وه؟ ما حسیب دومره پیژندی چې پوه شم چې سومره کم ظرفیت انسان دی او ضرور د هر خبری سره یې سل نور خبری د ځانه ترلی او جهان ته یې ویلی، خو ګیله می د دی خبری څخه وه چې جهان ولی باور کړی وو د هغه په خبرو؟!

د زیات فکر کولو وروسته دی پایلې ته ورسیدم چې په قهر او غوسه او خفګان هیس نه سم کیږی! هر سومره چې زه ځان خفه نیسم هغومره جهان هم زما څخه لری کیږی د ارباب خبره زه باید خپل ژوند ته یو بل شانس ورکړم او خپل کوښښ وکړم چې خپل ژوند جوړ کړم نه دا چې انتظار وکړم جهان راشی او ټول شیان جوړ کړی! دا ځل د نیلوفر خبره زه باید یو مثبت قدم واخلم ترڅو جهان خپل خواته راکش کړم، کنه کوم مور،خور او حتا همدغه ارباب که وګوری جهان خوشحاله ندی د یو لځایه د جهان خبره دری نور ښځې ورته کوی!

زه باید یو ځل ددغه ژوند لپاره کوښښ وکړم زه باید خپل شانس یو ځل و آزمایم، پدی فکرونو مې بیحده مثبت انرژی واخیستل او دا ځل د یو هدف او یو امید په درلودو لځایه پاسیدم، د کوټې مینځ کې ګرځیدم راګرځیدم نه پوهیدم څه وکړم!؟ داسی خو نکیږی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینم جهان ته ووایم فلانکی فلانکی خبره غلطه وه او دا سمه ده! او اوس راځه آشتی!؟ باید یو سم فکر وکړم داسې چې هم زما غرور وساتل شي او هم جهان بیرته سم شی! خو څه وکړم؟ په همدی فکرونو کې وم چې روقیه کوټې ته راغله او ویې ویل:

روقیه- ډوډی تیاره ده نې خوری؟
- درغلم.
د روقیه سره یوځای د کوټې څخه ووتلم ډوډی خوړل هم دی کور کې عجیب انداز یې درلود سړیان یو کوټه کې ډوډی خوړل او ښځو جلا بل کوټه کی! کوټه ته چې لاړم او سترګې مې په کډو ولګیدو ټول اشتها مې خرابه شوه! ما د کدوګک څخه بیحده بد راتلو وړی وم خو د هغه شین رنګ ته په کتو کانګې مې راتلی بغیر لدی چې څه ووایم لځایه پاسیدم، چې د جهان مور وویل: ولې ولاړه سوی؟

- هغه زما زړه نغواړی.
د جهان مور- وی ولی دی زړه نغواړی؟ تا خو غرمه لا ډوډی ونخوړل!
د هغې په خبره په کراره می وویل: کدوګک مې نه خوښیږی!
د څو ثانیو لپاره هیڅا څه ونه ویل خو ناساپه ګل بی بی په ټوکو وویل: وی انجلی دا د خسر کور دی دلته سوک دسی نه وایې چې فلانکی شی می خوش دی بیستانکی می ندی خوش.( د هغی په خبری می په حیرت وروکتل چې د جهان مور په تروش تندی وویل: که دا دی ندی خوش ورځه آشپزخانی کی وګوری شاید بل شی وی ځانته یې پوخ که.

د سر په ښوره ولو د کوټې څخه ووتلم د جهان مور ښه ښځه وه کله ناکله تنده لهجه یې کاره ول خو زړه کې کوم کینه او بد نیت نه درلود، د جهان دوی د کور په خاصیت دومره پوه شوی وم چې هر شی پوخ شې دوی بغیر له کوم خبری او ناز خوری او عادت نلری چی ووایی دا خراب دی او دا سم!؟ زما خبره د ګل بی بی خبره ډیره بده وه خو زما چې شې زړه ونغواړی نشم خوړلی! د آشپزخانی خواته روانه وم چې د سړیانو کوټی خواته می فکر شو ټول ناست وه ډوډی خوړل، ناساپه یو شیطنی فکر می ذهن ته راغلو جهان د ارباب اندې ته ناست وو او په تروش تندی سوک وایې چې په زوره ډوګی خوړل!

جونید د کوټې څخه راووتې د اوبو جګ یې په لاس و پوه شوم چې غواړی اوبه ویسی نو ځکه ورمخکی شوم او وربا‌ندی غږ مې وکړو: جونید را جګ زه درته د اوبو ډک کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په غږ جونيد راوکتل او کرار يې وويل: يا زه يې خپل ډک کوم.
- ته جګ ماته راکړه زه درته د اوبو ډک کوم ته به ماته يو بل کار وکړې؟ کوی؟
جونيد په ګنګس انداز راوکتل او سر يې د سمده پشان وخوځه ويې چې ما ورته وويل:
ولاړسه جهان بابا ته دی ووايه يو ځل د باندی راشی زما لړ پکار دی، زه آشپزخانه کی یم سمده.؟

جونيد د سر په خوځه ولو په تلوار د کوټې خواته روان شو او ما هم ځان تر آشپزخانی ورسره وی زړه مې بی واره درزيدی ربښتيا ووايم خپل د کار څخه پښيمانه شوم؟! خو اوس خبره د خبری څخه تيره وه، جګ مې د اوبو څخه ډک کړو چې د جهان غږ مې د شالخوا واوريدی: چشی دی پکار وو؟

مخ مې د هغه خواته راوګرځه ويې چې د آشپزخانی دروازی خوله کې ولاړ وو، جونيد هم د هغه شاته وه د جونيد په ليدو می جګ د هغه خواته ونيو چې جهان زما پدی کار خپل شاته وکتل او جونيد ته يې لاره ورکړل جونيد دومره په تلوار زما د لاس څخه جګ کش کړو او ولاړی چې لړ اوبه زما په لاس وڅڅيدل او د جهان غږ چې ورته ويې ويل: په کراره څه تلوار لری.

خو جونيد بغير د دی چې د چا غږ واوری د کوټې خواته ولاړی، د هغه د تلو وروسته جهان په منتظر نظر زما خواته کتل او زه حيران وم اوس څه ووايم؟ يو دقه کې می د ارباب، نيلوفر، آسما، ادی ټولو خبری می مغزو کی وګرځيدل او زما زړه نا زړه توب يې لمينځه ويوړ زه بايد دی ژوند ته يو بل شانس هم ورکړم پدی فکر مې د جهان خواته وکتل او کرار می وويل: زه کدوګک نخورم!

زما په خبری د جهان وريځې د حيرت څخه پورته شوی او رډ رډ يې د څو ثانيو لپاره راوکتل بيا يې پداسې حال کې چې د آشپزخانی شاوخوا اشاره کول کرار وويل: اممم وګوره شايد کور کې بل شئ وی ځانته پوخ کړه.
- نيغواړم.
جهان په حيرت وويل: چشی نغواړی؟
- د کور شيان! اممم ... زړه مې د بيرون ډوډی غواړی!
جهان بغير له کوم خبری کولو په حيرت راکتل چې زه د دروازی خواته ولاړم او د دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه مخکې چې د جهان د اندی ښځه تيره شم ورته مې وويل: د هغه شپې رکم پيتزا غواړم.

دا خبره مې وکړل او بغير لدی چې د جهان حيرت زده نظر ته وګورم خپل کوټې خواته مې قدمونه تيز کړل کوټې ته په رسيدو دروازه مې زر بنده کړل او خپل په زړه چې بی واره درزيدی لاس کيخود، څو دقی هغه حال کې ولاړه وم چې د حويلی ښځه د موټر د روښانه کيدو او بيا د حويلی د دروازی د خلاصيدو غږ مې واوريدی به تلوار د پردی خواته ولاړم او پرده می پورته کړل، هو صحيح ګمان مې کړی وو جهان وو چې خپل موټر يې د کور ښځه وباسی! پوهيدم چې هوټلونه او دوکانونه د کور ښځه ډير لری دی او شايد يو يو نيم ساعت لاره وی!

خو ما له قصد داسی وکړل پريږده لږ زحمت وباسی او لاړشی زما ناز پوره کړی شايد لږ پر خود راشی؟ د جهان د راتلو مخکې می د کوټې ټول نالې ټولی کړل او بيستره کړی مې د کوټې کونج کې منظم ووډل، يواځې هغه دوه نفره نالی مې هوار کړل؟! خپل د شيطنی فکرونو ښځه مې خندا راغلل! په عاجزی او معصوميت نکيری بايد جهان دا ځل خپل په طريقه صراط المستقيم ته راوړم! يو ورځ زموږ د پوهنتون استاذه چې ښځه وه موږ ټولو ته يوه خبره وکړل چی هغه وقت زه يې په معنا سمه پوه نشوم ځکه هغه شرايطو او هغه حال کې می شتون نه درلود خو هغه خبره

اوس همدغه شبيه زما د حالاتو سره مطابقت درلود، هغی ويل کله چې خاوند خپل ښځې ته ووايی چې زه دويم واده کوم! نو يو عام او ساده ښځه دوه کاره کوی! اولې ژاړی او خپل د پلار کورته شايد لاړه شی او خبره خپل د کورنی سره شريکه کړی! دويم ډله ښځې ژاړی خو خاموشه کيږی نه کورنی خبره وی نه هم کوم بل چاته وايې او خبره ځان سره ساتی! پدی وخت کی دواړه ډلو ښځو کار اشتباه دی او 90% فيصده

په همدی ښځو باندی بنه راځی؟! هغه لس فيصد به يې ياد نکړو چې شايد خاوند يې ورسره ټوکی کول يا هم د انجلی کورنی په زور او ګواښ هلک د دويم ښځی کولو ښځه منع کړی! په اصل کی د ښځی اول ماته هغه وخت ده چی خاوند يې ووايی بله ښځه کوم او دا د خاوند مخکی وژاړی! يو قوی او هوښياره ښځه منطقی بحث کوی خپل د خاوند سره نه چغی بغاری وهی! ما د استاذ دا خبری هغه وخت بيخی جدی و نه نيول خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوم سومره پر ځای نصیحت یې کړی وو، په نالې کینم او د جهان راتلو ته په تمه کیږم!

شاید یو ساعت په تمه وم چې د موټر غږ مې د حویلی څخه وآوریدی او بیا مې د زړه ضربان له کنټرول څخه ووتل، یو یو ثانیه مې حساب کول چې جهان راشی او تقریبا څه کم 5 دقی وروسته د کوټې دروازه خلاصه شوه او ما د جهان قد او قامت د دروازی په چوکاټ کی ولید سر یې ښکته کوټې ته راننوتی غوښتل یې چی خپل پټو د اوږی څخه لری کړی چې ناساپه یې نالی ته فکر شو شاوخوا یې خالی کوټې ته وکتل او بیا ناساپه یې پرما چی په دوه نفره نالی ناسته وم فکر شو هک حیران یې زما خواته راوکتل

او ما هم د هغه لاس کې د پیتزا قوطی ته په خوشحالی کتل چې د څو ثانیو وروسته جهان د حیرت څخه راووت او د پیتزا قوطی کرار زما ځنګ ته کیخود، چې ما هم بغیر د کوم شرم او خجالت څخه قوطی راوخیست او جهان ته مې په خوشحالی وویل: مننه.

جهان د سر په خوځه ولو جواب راکړو او د نالې په څنډه کیناستی ما هم څه ورته ونه ویل او خپل پیتزا مې په شوق خوړل شروع کړل، یو څو ګولې پیتزا مې چې وخوړل جهان ته مې فکر شو چې په ځیر،ځیر یې زما خواته راکتل، د بابا خبره مې یاد ته راغلل هغه تل ویل د سړیانو پیژندل او کنټرول کول بیحده آسانه دی هغوی ستاسو ښځو د کارونو هینداره ده! مطلب ته چې هر کار ورسره وکړی هغه هم همغه کار درسره تکرار کوی!

البته دا خبره یې د هغه سړیانو په اړه کول چې زړه کی مینه ولری خو د بیان طریقه او چل نه ورځی! زما په نظر سړیان د ښځو څخه زیات احساساتی او مینې ته اړتیا لری خو هغوی خپل د زړه خبره نکوی او زړه کی ساتی، اخری ګوله پیتزا می د جهان خواته ونیول چې تراوسه یې په ځیر ځیر زما خواته کتل زما په کار هغه راوکتل چې ما په خندا ورته وویل: هوممم داسی دی ورته په خوار نظر کتل هسی زهر نشی راته.

زما په خبری د جهان تندی تروش څو خو پیتزا یې زما د لاس څخه واخیستل د پیتزا خوړلو وخت کی وویل: خدای دی نکوی نوش جان دی سه.
- چای څکی درته دم کړم؟
جهان- که زحمت درته نه وی یو دوه پیاله راته دم که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمده.

دا خبره مې وکړل او په تلوار د کوټې څخه ووتلم د آشپزخانې خواته روانه وم ترڅو جهان ته لږ چای دم کړم چې د آشپزخانې څخه مې د ګل بی بی او زرلشت غږ واوریدو چې ویل یې: و دی لیدی خپل میړه یې پدی نیمه شپه هغه دنیا سر ته واستوی چې ورته شهری خوراک راوړی!

زرلشته- هو نو د قسمت خبری دی یو ته یې دسی په کراره او بیغمه ورکوی او یو ته یې زموږ په رکم په جبر او خواری.
ګل بی بی- رشتیا وایې خبره د طالع او قسمت ده ما ولاکه ټول عمر کې په جهانګیر( د جهان ورور) دسی بیځایه ناز او نخری کړی وی همیشه می د هغه تندی ته کتل چې ویلی وایې ګل بی بی مړه سه مړه کیدم که ویلی وایې ژوندی سه ژوندی کیدم! خو اخیر هغه زما د دونی شه کارو بدله چشی راکړل؟ په سر یې راته ته راوړی!

زرلشته- بس نو د نر جنس بی وفا دی، دسی خبرو ته نګوری، که زما لاس کې وایې ته فکر کوی زه د هغه سړی شزه کیدلم چې پنځه شپږ قد نیم قد ماشومان لری او شزه لری؟

هغوی لا خبری کول چې ما خپل ستونی صاف کړو او آشپزخانی ته ننوتلم زما په لیدو هغوی یو دم خاموش شوی خو ما ورته هیس ونه ویل او چاینک پسی په ګرځیدو شوم، په حساب مې څلور پیالی چای دم کړو او منتظره شوم چې دم شی!
هغوی دواړه بنې هم هلته ولاړ وه او د سترګو لاندی ما ته راکتل اخیر کی د ګل بی بی حوصله خلاصه شوه او پوښتنه یې وکړل: جهان پدی نیمه شپه چیری ولاړی بیا راغی؟

د هغې په خبره مې سترګې د حیرت څخه خلاصی شوی! دا اوس مګر دوی د همدی بحث په اړه خبری نکول! نو بیا ولی داسی غواړی ما په خبرو کړی؟ په کراره غږ مې وویل: نه یم خبره شاید کار یې درلود.

په زړه کې مې ځان سره وویل: هو نو کله چې تاسو ځان داسی ناګاره اچوی فکر کوی ما دسی چلونه نه زده؟ زما په خبری ګل بی بی او زرلشت یو نظر یو بل ته وکړو خو نور څه یې ونه ویل ما هم چای زر دم کړو او د کوټې خواته روانه شوم، چې جهان مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نالې داسې ځمليدلې ولېد چې يو لاس يې په سترګو کېخودلی وو او بل يې خپل ځنګ ته او خولې هم سر ته په بالښت ايخودلی وه، کرار خواته يې نږدې شوم چای مې د هغه ځنګ ته کېخود چې هغه خپل لاس د سترګو څخه لرې کړو

پياله چای مې ورته ډکه کړل او مخ ته مې ورته کېخودل، چې هغه پداسې حال کې چې کيناستې او بالښت ته يې تکيه ورکول ويې ويل: مننه
- هيله کوم.
دا خبره مې وکړل او د سينګار ميز خواته نږدې شوم خپل دوا مې د سينګار ميز له سر څخه راواخيستل او خپل ټکرى مې کامل د سر څخه لرې کړو او خپل مغزى ته په کتو شوم، لږ لږ سم شوى وو رنګ يې د شين والې څخه سور ته تغير کړى وه، خو اوس هم لږ لږ سوځيدى او درد يې کوى، د ملحم په وهلو شوم مغزى مې سم صحيح غوړ کړى بيا وار د ګولې شو د پياله اوبو سره مې ګولی خولی ته واچول

او خپل ځاى خواته راغلم په ټول وخت د کار مې د جهان درونډ نظر خپل په ځان احساس کو، خپل ځاى ځمليدم او کمپل مې سم صحيح په ځان کش کړو، څو دقې کرار کرارى وى خو بيا مې د جهان لاس خپل په ويښتيانو احساس کړو چې زما ويښتيان يې د مغزى څخه راته لرى کړل او کرار يې وويل: ډاکټر چشی ويل؟
ما هم د هغه پشان کرار وويل: هيس ويل يې کوښښ وکړه د داسې کيمياېي موادو څخه ځان لرى وساتې.

جهان- نور چشى ويل؟
- هيس همدا چی دوا دی په وخت او منظم وخوره او خيال ساته.
جهان- بس دغه يې وويل؟
- هو... ها رشتيا ويې ويل دا دوا يو هفته مصرف کړه بيا راسه
جهان-اممم که فايده يې وکړل زه دی ورم کنې زه ګرځم يو بل سم ډاکټر پيدا کوم درته.
- اهوم سمده.

دا خبرى مې وکړل او همغسې شا مې ورګرځه ولی د ويده کيدو کوښښ می وکړو چې جهان هم زما څخه بيرته يو څه فاصله ونيول او د نالى هغه بل اړخ کې و ځمليدی. د نن لپاره همدومره بس دی! يو متل دی وايي اول نوک ځاى کړى بيا سوک! اوس هم د جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ښخه زما اندې ته رانغی د نن لپاره همدومره پرمختګ زما لپاره کفایت کوی، باید هره ورځ همدومره کوښښ وکړم ترڅو د جهان زړه بیرته د اول پشان شې!

همغسی ځملیدلی دومره فکرونه مې وکړل چې خوب وړی وم، سهار د جهان ښخه مخکې زه د خوب راویښه شوم، چې جهان مې خپل اندې ته د خوب حال کې ولیدی د سهار آذانو ته لا وخت پاتی وو پاسیدم د اوداسه اوبه مې جهان ته تیار کړل بیا مې کرار ورباندی غږ کړو: جهان ...!

زما په غږ جهان په تلوار سترګی خلاصی کړل، اول زما د ځای خواته یې وکتل کله چې زما خالی ځای تر سترګو شو په وحشت لځایه پاسیدی چې تازه یې ماته فکر شو چې دی بل اړخ ته یې ناسته وم! زما په لیدو څو ثانی په زبر او زیر راوکتل بیا یې یو هوسا ساه واخیستل او ویې ویل: زاره دی راوچول چشی دی؟
په کنګس انداز مې د هغه دی حال ته وکتل او کرار مې وویل: سهار آذنونه کوی د اوداسه اوبه مې درته ایخودلی.

جهان څو ثانی په ځیر ځیر راوکتل بیا یې وویل: ولې دی دونی ځان په زحمت کوی ما خپل اوبه راخیستل ځانته.
- امم همداسی راویښه شوم ما ویل تا هم راویښ کړم مونځ ته خفه شوی زما په کار؟
جهان- یا ... یا ولی خپه سم؟ شه کار دی وکی کنې زه دونی ستړی وم شاید په خوب پاتی سوی وایې.

څه مې ونه ویل او په خاموش نظر مې ورووکتل چې جهان لځایه پاسیدی، ولې دومره ورختا شو کله چې زما خالې ځای ولیدو؟ هیس جواب مې خپل پوښتنې ته نشو پیدا کولې مجبور ځای کې مې ځملیدم چې جهان مې ولید د تشناب ښخه راووت لاس او مخ یې لوند وو خپل په پتو یې وچ کړل او د دی ښخه مخکې چې په لمانځه و دریږی یو نظر یې زما خواته وکړو چې ما هم خپل کمپل لږ په سر راکش کړو مطلب زه خو درته نګورم!

د هغه د الله اکبر غږ سره مې پتو لږ بیرته د سترګو ښخه لری کړو او ورته په کتو شوم، د جهان مونځ زموږ د مونځونو سره عجیب فرق درلود، هغه د هیچا پشان مونځ نکو! اعتقادی او دینی مثایل نه یادوم هسی حنفی مذهب مونځ یې کوی، مطلب مې د هغه آرمتیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکون، خشوع او خضوع د لمانځه وقت کې وه! داسې مونځ یې کوی لکه همدا چې د هغه د ژوند اخیری مونځ دی او دی دومره په آرمان او اوږد کوی! د هغه د هر تکبیر ویلو سره زما د زړه ضربان پورته کیدل

دومره مې وروکتل ترڅو هغه خپل د لمانځه سلام وګرځه وو، لاسونه یې دعا ته پورته کړل دعا کول یې هم عجیب کیفیت درلود دواړه لاسونه یې لپې کړی آسما خواته نیول او سر یې ښکته کوی! دومره په عاجزی د شونډی لاندی دعا کول چې ما شک درولود خدای به د هغه کومه غوښتنه او دعا رد کړی! د لمانځه خلاصیدو وروسته هغه د ځای خواته راغلو د هغه د څملیدو سره زه لځایه پاسیدم چې جهان غږ کړل:

جهان- چیری؟
خپل د تکړی د کوره ولو حال کې می وویل: ځم حویلی جارو کړم او د ډوډی پخه ولو لپاره جونید واستوم چې لږ لرګی راوړی!
جهان- اممم دونی ژر؟ لا تازه د سهار آذنونه یې کړی؟!
- ارباب د سهار لمانځه وروسته چای غواړی که تیار نشې بیا ستا مور خبری کوی.
زما په خبری جهان د ویده حالت څخه پاسیدی او کیناستی په تروش تندی وویل: څه وایې؟

- سوک؟
جهان- ادی!
غوښتل مې پاسیږم چې جهان د لاس څخه ونیولم او بیرته په ځای کینولم او په همغه تروش تندی وویل: وام زما مور تاته چشی وایې؟
- هیس! ستاسو مور څه نه وایې یواځی کلـــ( خبره می نیمه کړل بده وه کینم جهان ته د هغه د خور بد رفتاریو ګیله وکړم! اوس به وایې شپه آشتی وکړل نن بیا زما د کورنی غیبت کوی! خپل لاس مې ورنه جلا کړو او د کوټی څخه د وتلو حال کې مې وویل) هیس نه وایې همداسی یوه خبره مې وکړل.

دا خبره مې وکړل او په تلوار د کوټی څخه ووتلم د همیشه پشان مې حویلی جارو کړل چای مې دم کړو جونید بیچاره مې د خوب پاسه وی او د وابنه و لرګیانو پسی مې واستوی، بیچاره ماشوم ګنګس ګنګس په لاره روان وو! نه پوهیږم ولې دا ټول کارونه باید یواځی جونید وکړی؟ د جهان د مشر ورور زوی د جونید څخه زیات غټ و ماشالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان وو هغه به تر غرمې خوبونه کول خو جونيد به د سهار په آذان کار ته راويښ کېدی! يوه ورځ جونيد دوکان ته نه تلو او زرلشتي په زوره استوی، ما د جونيد خوا ونيول او يوائځې دومره مې وويل:

چې بشير د ګل بی بی مشر زوی چې د جونيد همزولی دی ما ويل هغه واستوه جونيد ستړی دی دا اوس له دوکان راغي! زرلشتي دومره خبری هم ماته او هم جونيد ته وکړل چې د حيرت څخه مې خوله خلاصه پاتې شوه، اخيره د جنګ ختم کولو لپاره جونيد پيسی واخيستل او دوکان ته ولاړ! زړه مې غوښتل دا خبری جهان ته وکړم زما په نظر جهان ددی خبرو څخه نه وو خبر! جهان به د سهار په آذان له کور وتی او ماښام آذان راتلی د جونيد سره يی هم يواځې يو ستړی مشی او پيسی ورکول او پوښتنه کول و چې کوم شئ ته اړتيا لری کنه؟

نور کوم خاص بحث يې نه درلود چې ورسره وکړی ترڅو جونيد خپل د زړه خبره وکړی دا دومره لږ وخت کې چې راغلی وم د جونيد سره مې خاص تعلق خاطر پيدا کړی وو، نه پوهيږم دليل يې شايد د مور مرګ د ده په پيداينت و چې حتا مور يې وه لا نه ليدل يا هم خپل د جونيد معصوم قواره او عاجز اخلاق يا هم شايد دا چې د جهان زوی وو! او ما هر هغه څه ته اهميت او ارزښت ورکو چې د جهان نوم ورباندی ياد کيږی!

جونيد تنور ته لرګی او غوايانو ته واښه راوړل جهان هم تللی وو کار ته، د ټولو څخه اول مې ارباب ته چای دم کړو بيا مې جونيد ته ډوډی ورکړل کتابونه مې ورته په بکس کې کيخودل دريم صنف کې و د رياضی په درس کې لږ مشکل درلود هغه مې هم ورته حل کړو البته په سخت! ما خپل رياضی کې هميشه مشکل درلود يواځې په جمع تفريق پوهيدم تقسيم مې لا سم نه وو زده!؟ د تلو وقت کې هم د کور تر دروازی ورسر ولاړم د دی څخه مخکې چې لاړ شی ياد ته مې راغلل چې ويلی وه استاذ ورنه روپی غوښتی وه ترڅو صنف ته يو چتي پکه واخلی، او جونيد پرون شپه زما په نظر جهان ته دا خبره نه وکړی!

ځکه جهان د شپی له سره چې کوټی ته راغلو او سهار هم وختی لاړو، نو پوی شوم ولی جونيد حالات لږ نيول شوی غوندی وو د شا لخوا مې ورپسی ناری کړل: جونيد! زما په غږ هغه راوکتل او ما ورته سل روپی ونيول د پيسو په ليدو حيران حيران راکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما په خندا ورته وویل: واخله جهان بابا دی ویل تاته درکړم زما لیاده وتی وه.

زما په خبری د هغه په خوله مسکا راغله او پیسی زما له لاسه واخیست، دومره خوشحال وو چې یو ناسایه حرکت کې زما لاس ښکل کړو او یو داسی کلمه یې ماته له خولی ووت چې زما زړه یې ناساپه د وهلو ځخه و دره ویې.
جونید- مننه موری.

هغه ولاړ خو زه ترواسه هملته هک حیران ولاړه وم، او دهغه ویل شوی لفظ مې مغزو کې ګرځیدی" مننه موری" د حویلی دروازه مې بنده کړل همغسی ګنګس انداز باندی د کور خواته روانه شوم تر غرمی پوه نشوم څه می وکړل څه مې ونکړل! د ګل بی بی د کوچنی لور په غږ لږ د فکرونو ځخه را ووتلم چې ویل یې جهان کاکا راغلی او ډوډی غواړی! اول ځل وو جهان د غرمه ډوډی ته راتلو نو د غادت مطابق د غرمه ډوډی خوړل شوی وه او ما یواځی لږ قورمه جونید لپاره ساتلی وه او جهان ته هیس نه وو پاتی مجبور هګی می ورته پخې کړل، دومره ګنګس وم چې پوه نشوم

هګې ته مې د مالګې لځایه سوډا اچولی؟! هګې مې جهان ته چې کوټه کې ناست وو ویوړل سرخان مې هوار کړو او زه د چای راوړلو لپاره آشپزخانی ته لاړم، چای مې چې راوړو جهان مې د ډوډی خوړلو حال کې ولید پیاله مې ورته ډکه کړل او غوښتل مې چې پاسیږم خو جهان د لاس ونیولم او خپل مخ ته یې کینولم د ډوډی خوړلو حال کې وویل: تر ډوډی خوړلو دلته زما مخ ته شینه( کینه) چې ستا په لیدو دا د سوډا ډک هګې هم په جلا خوند او کیفیت لری!

د جهان په خبری مې په حیرت د هګې خواته وکتل، څه سوډا؟ غوښتل مې د هغه له مخ ځخه هګې واخلم چې جهان په خندا زما لاس ونیوی او ویې ویل: مه کوه وژی یم په کراره مې ډوډی خوړلو ته پریژده.
- تاسو ویل سوډا ده پکی؟ نو بیا ولی خوری؟
زما په خبری جهان خپل سر راپورته کړو او ویې ویل: په قصد دی اچولی وه؟
په حیرت او تلوار مې وویل: نه پخدای فکر مې نشو ورته د مالګې ..
جهان- بس صحیح دی نو تا کوم قصد نه درلود اوس هم فکر وکړه مالګه دی اچولی وه تمام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه خو ...
جهان- پرېږده دا خبرې ولاړسه ځان تیاره که.
په حیرت مې وویل: د څه لپاره؟
جهان- نن وختي راغلم ځکه چې بابا راته ویل د کاکا کور مې موږ ته میلمستیا کړې د پښې خلاصه ولو دپاره( دا یو رسم او رواج دی زیات افغانان یې لرې مخصوص د اطرافو ده چې ناوې چې کله واده شي بیا د زوم خپلوان ناوې زوم ته میلمستیا کوي او غواړي او دغه میلمستیا ته د هغوی په ژبه پښه خلاصه ول وایې!)

- ماته خو هیچا ونه ویل؟
جهان- امم شاید دیاده یې وتلی!
څه مې ونه ویل او لځایه پاسیدم ځانته یو جوړه کالي مې راوخیستل او دی فکر کې شوم چې ولې دومره ناوخته؟ پښه حلاصه ول موږ د ناوی به دریم ورځ کو نه دوه هفتې وروسته؟ ځان سره مې وویل شاید دا هم د دوی کوم رواج وی! هسې د رواجو او رسمونو څخه ډک دی، حمام مې وکړو او تر ماذدیګر لګیا وم ځان مې جوړ کو، د جهان لپاره مې یو جوړه سپین کالي او تور واسکټ کیخودو ترڅو واچوی خپله مې هم یو جوړه هندی کالي چې ګلابی رنګ یې وو واغوندل

زړه مې غوښتی جونید هم لځان سره بوځو خو نه پوهیدم دا خبره کول جهان ته مناسب وه کنه؟ آخیره په سل زړه نا زړه مې په کراره جهان ته چې خپل په موبایل کی لګیا وو ومې ویل: هغه ما ویل جونید ځان سره بوځو..!؟
جهان د موبایل څخه نظر واخیست او ماته یې په کتلو هغه هم کرار وویل: ستا زړه څه غواړی؟ ویسو کنه؟
په تلوار مې وویل: ځان سره یې بوځو دلته تنها دی.
زما په خبری د جهان په شونډو نری مسکا راغله او ویې ویل: ته د هغه غم مه کوه جونید اول سیټ د موټر د وخت ځانته نیولی هغه بل پرون یې ویل زه ځم د نیکه کورته!

د جهان په خبری یو دم د حرکت څخه وولیدم او ټول ذوق او شوق مې چې میلمسیتا ته درلود لمینځه لاړو، د نیکه کور؟ مطلب دا د جهان د ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



#شهاب ?:
خسر کور راتلی؟ د ګلدسته کور؟ نه پوهیږم خو ناساپه مې بد احساس پیدا کړو فکر مې کو جهان خپل د خسر کورته دومره خوشحال دی؟ بد احساس لری چی د هغه چا کورته لاړشی چی ته یې په لور بنه راغلی یې؟ او دا چی لور یی مړه شوی هم ده بیخی زور غواړی! په کراره او نیولی غږ می وویل: جهان!

جهان راوکتل او کرار یی وویل: جان!
خپل خبره می پورته بنکته کړل او ومی ویل: نکیږی زه لاړنشم؟
زما په خبری د جهان تندی تروش سو او ویی ویل: ولی؟ څه وسو یو دم؟
- هیس ...! هسی لږ سر می درد کوی د شور ماشور حوصله نلرم.
جهان څو ثانی په ځیر ځیر زما خواته راوکتل بیا خپل لځایه راپورته شو زما خواته راغي او خپل لاس يي زما په تندی کیخود او ویې ویل: تبه خو هم نلری بیا ولی دی سر درد کوی؟

هیس مې ونه ویل او سر مې بنکته واچوی سترګی می د اوبنکو ډکی شوی، د شرم ځای و چی ووایم ما ستا د مړی بنځی سره بخیلی وشوه؟ او زړه می نغواړی د هغی د پلار کورته لاړشم او بد احساس لرم! هیس می ونه ویل چی جهان زما سر خپل په لاس راپورته کړو څو ثانی په ځیر ځیر زما خواته وکتل بیا یې کرار وویل: زما زړه هم نغواړی ولاړسم، خو مجبوری ده اول د بابا خبره د تربور او قومی خبره دی او بل زه د هغی خدای بخشلی په لقب او نوم دا وار هغه کورته پشه نه ایژدم بلکی ستا د میرہ په صفت اول ځم او خپل د کاکا او دویم خپل د خور د سترګو هلته ځم نور هیس.

یعنی پوی شوی وو زما د خفه کیدو په دلیل؟ هو ضرور پوی شوی وو چی داسی غوبنتل دلداری راکړی! دروغ ولی ووایم زړه می خوشحاله شو د جهان په خبرو او هغه بد احسای می لمینځه لاړو د رښتیا هم چی خبری معجزه لری! ځان می تیار کړو او ماذدګر خواته د جهان جونید او د جهان مرر سره موټر کی سپاره د جهان د کاکا د کور خواته روان شو لاره لری وه ځکه وخت مو حرکت وکړو، مخکی د انارو او نور میو باغونه مو مخ ته راغلل او ډیر بنایسته طبعیت وو، جونید به هر خوا ګوته نیول او ماته به یې هغه ځای رامعرفی کوی، تر نیمی لاری د جونید خبری او معرفی کول وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیم ساعت وروسته چی موټر پاخه سړک خواته په حرکت شو جونید هم خاموش سو!
لکه چی د دی څخه هغه طرف لاره ورته معلومه نه وه؟ د هغه په خاموشه کیدو جهان په
خندا وویل: څه وسو کوچنی قاچاقبره؟ نور د ترکی لاره نده درمعلوم؟
د جهان په خبری ما او د جهان مور کرار وخندل چې جهان د جونید چی د هغه څنګ کی
اول سیټ کی ناست وو غومبری کش کړل او په خندا لګیا شو دا ځل جهان ورته آدرس او
معرفی ورکول تر یو ساعت چی هلته رسیدو د ماشام آذنونه هم وشول، کرار کرار بیا د
پاخه سړک څخه خام او کنډ وکپر سړک ته ورداخل شو او د څو کوڅو تیره ولو وروسته
جهان د یو غټ کور مخکی موټر و دره ویې.

د موټر دریدو سره زما د زړه درزا هم پورته شوه، احساس می کوی د جنګ میدان ته
روانه یم! یا هم راغلی یم خپل بنه وګورم؟ هر شی چی وو خو بد احساس می درلود،
جهان او جونید د موټر څخه ښکته شول ما هم غوښتل چی ښکته شم چې د جهان مور
کرار راته وویل: ولی دی خپل طلاوی ندی په لاس کړی؟ خرڅ کړی خو دی ندی؟

په حیرت مې د جهان مورته وکتل او ومی ویل: ولی خرڅ کړم؟
جهان مور- څه پوهیژم شاید زړه دی نغوښتل!
په تروش تندی می وویل: نه نمیدی خرڅ کړی، ما طلا زیات نه خوښیږی ځکه نه اچوم.
د جهان مور داسی خپل شونډه وچیچل لکه چی ما کوم کنځل یا بده خبره کړی وی بیایې
وویل: طلا وانچوی په ځان دا خلک فکر کوی ناوی خپل طلا خرڅ کړی او اوضاع یې
خرابه ده.

- جرینګ جرینګ غږ کوی، عصاب می ورته خراب کیږی او زما لاس هم خوږ کوی د
طلا سره حساسیت لرم!
جهان مور- اول همداسی وی خو وروسته عادت کوی، په لاس کړی نور طلاوی دی
صحیح دی؟
- سمده په سترګو.
جهان مور- ټل یې په لاس کوه کنه درنه خفه کیژم.
- د کور بیرون یې هم په لاس کړم؟ مثال ډاکتر یا خرید ته چی ځم؟

جهان مور- هو د فیروز خان ارباب مژو د جهان خان شزه ټل باید لاسونه د طلاو ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی کنه خلک به چشی وايې؟ چی خان صیب خپل مژور ته طلا نده اخیستی؟( اصلا بحث کول د جهان د مور سره بی فایده وه د هغې فکر په همغه قدیمی وختونو کی بند پاتی وو مجبور د سر په خوځه ولو می یواځی خبره ورته تایید کړل چی خفه نشی او د موټر څخه ښکته شو د جهان د کاکا کورته په ننوتلو د کور ښځی زموږ. مخکی راغلل او ما و جهان باندی شیرنی و شیندل

جهان د میلمه خانی خواته روان شو او ما و د جهان مور هم د ښځو سره، یو جماعت ښځی او ماشومان مو مخ ته راغلل چی ما یواځی په ښځو کی د جهان خور ګلنازه او ماشومانو کی د ګلنازی مشره لور چی د اته کالو وه وپیژندل، د ټولو سره می سترې مشی وکړل او د جهان د مور څنګ ته په نالی کیناستم، ټولو ماته داسی راکتل لکه چی د فضا یا بل کوم ناشناس کوریځ څخه راغلی یم؟

پیغلی انجونو د سترې مشی وروسته په کار لګیا شول د جهان مور هم د سپین سرو ښځو سره په خبرو لګیا شوه، ګلنازه هم چی زما د وینو تګې وه! ولاکه سم سترې مشی لا راسره کړی وی مثال د خبری ورینداره یې یم! زه یواځی پاتی شوم! کاش روقیه راسره راغلی وایی؟ خو افسوس چی روقیه د دی کور اینږور یاد کیدل او دوی دا رسم درلود چی د واده تر ورځی جنی به د خسر کور ته نه ځی!؟ دوی هم عجیب خلک دی خپل دوه خویندی د کاکا زامنو ته ورکړی او دوه د کاکا لورګانی خپل ځانونو ته کړی؟

البته اوس یوه حسابه کیږی ځکه چی د جهان ښځه مړه وه!؟ یواځی پاتی وم مجبور د یواځی توب څخه می د ګلنازی څلور کلن ماشوم سره خبری او مجلس شروع کړو؟! د جهان مور به هر یو دقه وروسته زما خواته راکتل او زما د طلاو څخه د خالی لاس په لیدو به یې تندی تروش کیدی! وایې خدای هر بنده په یو جلا عذاب او امتحان اخته کوی؟ او د جهان د مور عذاب زما په نظر طلا وه؟!

ډوډی وقت شو سرخان د بیلا بیلو خوړو او رنګونو ډک شو، دویم ګوله مې کړی وه یا هم لاس کی می وه چې د جهان د کاکا ښځه چی د عمر څخه بیحده مشره وه ویې ویل:ان شاءالله بل کال دغه وخت د دسترخوان په سر د سردار زوی وزغلی راوزغلی او موږ ورته مه کوه مه کوه وو ایو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیرت مې د جهان د کاکا ښځې ته وکتل! دهغې په خبرو تولو ان شاءالله او خدای دی وکړی ویل شروع کړل! اوس ماشوم غوښتل یو تازه ناوی ته ښه دعا ده خو دا چې د زوی خبره یې ورسره یوځای کړل خوښه می نشول، دا د خدای ورکړه ده جنی او هلک ماته فرق نه درلود او د دوی خبری ما ته دسی ښکاره شول لکه چې د جنی د نوم څخه یې لا کرکه کیدل! طاقت می ونشو او د جهان د کاکا ښځې ته مې وویل: که ماشوم دا اوس هم پیدا شوی وایې تر کاله منډی نشو وهلی زیات چالاکې کړی وایې په لاس او پښو یې ځان کش کوی!؟

زما په خبری د ګلناز ایندرور د خندا څخه شنه شوه یو څو نور ښځو هم وخندل او د جهان مور زما پښه کلک چونګاری کړل ترڅو چوپه شم او کرار یې وویل: دا یو لفظ دی چی وایو تر کاله د خیر دعا معنا لری!

ګلنازی خپل کینه دلته هم وخودل او په مسخره لهجه یې وویل: تاسو ماشالله د کوچنیانو په تربیه کی آموخته معلومیږی( اشاره یې زما څو دقو مخکی کار ته وو چی ددی د څلور کلن ماشوم سره می سات تیره وو) د نورو ده نه یم خبره خو ستا کوچنی زه بیریږم د کال په سر زغاستل چې څه کوی خبری ونکی!؟

د ګلناز خبرو ته ما یدی څو وقتو کې تل ځان خاموش نیولی وو او جواب می نه ورکوی خو نن زه د هغې کور کې د هغې د وریندار په صفت میلمنه وم او دا جواب یې هیس زما په مزاج ښه ونه لګیدی او جواب مې ورکړو: د ماشومانو تربیه آموخت او تمرین ته اړتیا نلری بلکې عقل او شعور ته اړتیا لری ځکه ماشومان زموږ د کارونو او خبرو هینداره وی.

د جهان د کاکا ښځې په لوړ غږ د جهان د مور نوم واخیست او ورته ویې ویل: ناوی دی هوښیاره شکاری!( د جهان د کاکا ښځې خواته مې وکتل یعنی طعنه او پیغور یې راکړو؟ بیا مې د جهان د مور خواته وکتل هغی بغیر لدی چی خپل سر پورته کړی جواب ورکړو: شزه د سړی، او سړی د شزی لپاره جامه ده دواړه باید یو اندازه او برابر وی ترڅو یو کور آباد کړی.( دوی دواړو اوس ما ته طعنه او پیغور راکوی یا تعریف یې کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان د مور د خبرو په تایید د جهان د کاکا ښځې وويل: یو ښځه شاید ملکه ويې خو خپل پادشاه میره خپل پر بیعقلی تر غلامی او نوکری ورسره ويې، او یو ښځه شاید بی سواده او غریب وی خو خپل پر هوښیارتیا او عقل خپل خاوند تر عرش رسه ولې شی، سړیان د یو ښځې د لمني څخه پورته کیږی څه مور ويې څه ښځه، ډیر ښځو بغیر له میړو څخه ژوند کړی او ماشومان یې غټان کړی او دنیا ته یې مخکی کړی

خو ډیر کم سړیانو بغیر له ښځی د شتون څخه خپل ژوند مخکې وړی! ښځی بی سړیانو هم ژوند کولی شی خو سړی په آسانی نسی کولی، هیڅکله د واده لپاره ناوخته نده هر کله چې یو سم دینداره او کورنې لرونکی جنی پیدا کړل واده وکړی تلوار ښه کار ندی.

د جهان د کاکا د ښځی خبری پر ما هم ښه ولګیدی هم بد! خو نور څه مې ونه ویل ډوډی وخوړل شوه او چای راوړل شو، بیا همغه چل وسو ټولو ځانته یواځې یواځې ډله جوړه کړی وه او زه یکی تنها پاتې وم! خو نور می نه ماشوم سره خبری وکړل نه هم مشر سره تر هغه وخت یواځی کیناستلم چې د جهان د کاکا ښځې یو شې زما خواته ونیو او د جهان مور په تلوار ماته وویل: ناوی واخله لاس ډالی لاس کی سوک نه پاتی کوی!

د هغی په خبره ما هم تلوار وکړو او د جهان د کاکا د ښځې د لاس څخه مي هغه پلاستیک واخیست دا د دوی رسم وو ناوی چې میلمستیا ته بوځی نو یو جوړه کالي ناوی او زوم ته ورکوی! یو ساعت نور هم لکه جهنم پشان پر ما تیر شو تر دی چې د جونید غږ راغی او ويې ویل چې جهان بیرون موږ ته په تمه دی، د ټولو څخه اول زه لځایه پاسیدم حجاب مې په تلوار واغوستو که زما زړه وایې بیخی مې د چا سره خدای پاماني هم نکول او مستقیم الفرار! خو دا کار اوس زما د موقعیت او ځای سره خوند نکو زه د

جهان میرمن په حساب راتلم باید سم رفتار مې کړی وایې؟!

د یو یو نفر سره مي خدای پاماني وکړل او د کور څخه ووتلو جهان د موټر څنګ کی موږ ته په تمه وو جونید نه غوښتل راشی او غوښتل یې شپه وکړی خپل د نیکه کور ته خو نه جهان اجازه ورکړل نه هم زما زړه وو چې پاتی شی اخیره مو په زوره لځان سره ویوړ، موټر حرکت وکړو د لاری نیم کی جونید ویده شو ما ته هم سخت خوب راتلو خو سترګی مې په زوره خلاص نیولی وه، د جهان مور زما سره خبری نکول لکه چې راڅخه خفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه لدی چی د جهان د کاکا د ښځې جواب مې ورکړی وو؟! په هر حال ماته کوم فرق نه کو ما خپل د زړه خبره کړی وه او پښیمانه نه وم ورباندی.

کور ته په رسیدو جهان جونید په غېږ کې د هغه تر کوټې ویوړ او زه هم خپل کوټې ته ولاړم زر زر مې خپل د مخ څخه آرایش پاک کړو او دومره سترړی وم چی ځایونه مې هوار کړل او پریوتم، څو دقی وروسته جهان هم راغلو هغه داسی خپل ځان زما څنګ ته په نالی ختا کړو جی ما په ویری ورکتل او هغه وویل: دسی سترړی سوم چی مه وایه! دری ساعت د بوډا ګانو مجلس ته مې غوږ نیولی وو! هغوی هم لکه بی بی سی رادیو پشان بنګ بنګ وو!

زړه مې غوښت ورسره ټوکی وکړم او ووایم ته هم بوډا یې خو! خو د هغه شپې په یاد راوړلو خوله مې بنده کړه او یواځې یو اهوم مې وویل چی جهان څملیدلی خپل مخ زما خوا ته راوګرځه وو او ویې ویل: تا ته خو چا چشی ونه ویل؟

ما هم وروکتل زړه مې غوښتل یو څه لږ زړه مې ورته تش کړم او ورته ووایم چې نن ټولو څنګه زما حق کې زیاتی وکړل! او زما سره یې تند رفتار وکړو، خو یو دلیل مې خوله بنده کړه او هغه هم په نوم د جهان کورني! هو هغوی که ښه وه که بد وه د جهان خپلوان او کورني حساب کې راتلل او ما نشو کولی د خور غیبت او ګیله دی ورور ته وکړم، زما په سکوت او خاموشی جهان لږ نور هم رانږدی شو او پداسې حال کې چې زما لاس یې خپل لاسونو کې نیوی کرار یې وویل:

جهان- ولی دسی چوپه سوی؟ ماته رشتیا ووایه چا خو درته کم بده خبره ونکړل؟
- ته څه فکر کوی؟
جهان- یعني ویکړل؟
- اممم ستا کورنی ده ته یې زما څخه ښه پیژنی زه څه ووایم؟
جهان- زه د کاکا په کورنی کی د هیچا د خولې څخه بیره نلرم بغیر د ګلناز د ژبی څخه! د هغې ژبه سم د مار نیش دی، هغی خو چشی درته ندی ویلی؟

په حیرت وم لدی چې جهان دومره ښه کینه یې او چینجن انسان پیژنی! هغه ته هم خپل خور معلوم ده خو ولی؟ همدغه پوښتنه می د جهان څخه وکړل: ولې په ټولو باور لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماته يې څه ندی ويلی او هغه وخت خپل په خور باور نلری؟

جهان يو ژوره ساه واخيسته او ويې ويل: بس نو پيژنم يې.
- هوم.
جهان- شه نور ځنګه وه؟ قيصه راته وکړه چشی دی وکړل چشی دی ونکړل؟ سوک دی خوش سو؟ د چا څخه دی بد راغلل؟ ته ولی د نورو شزو رکم مجلس نکوی کله چې يو واده يا ملمستيا ته ولاړسی بيا تر يو مياشت د هغه ورځې په کيسه کولو خپل سات تيره وی!
- اممم څه ووايم نه پوهيږم!

جهان- څه ووايې نه پوهيژی؟
- اهوم.
جهان- اممم صبر زه درته ووايم بيا ته ووايه صحيح دی؟
- سمده.
جهان- زه چې ولاړم د هغه تورشک(شيرنی) ويشتلو څخه که تير سم ميلمه خانې ته چې ننوتلم مشر کاکا په غضب د مجلس سر کې ناست وو ماما مې هم اندی ته و ما يو سلام وکې او د دی نورو ميلمنو سره مې ستړی مشی وکړل کاکا ته چې ورسيدم غوشتل مې د تل پشان لاس يې مچ کم خو هغه ما ته غيژ راکړل؟!

جهان خپل د خبری دی ځای کی خاموش شو چې ما په هيجان ورروکتل، زړه مې ويل کاکا يې ورته ضرور يو خبره کړی! په هغه تک توره شپه کی يواځی د جهان نفس مې آوريدی شو او لاسونه مې ورنه احساس کولی شو نور مې څهره ورڅخه نشو ليدلی خو پوهيدم چې ضرور يې تندی تروش دی د څو ثانيو خاموشی وروسته جهان کرار وويل: ما د اول د دی کاکا سره مې جوړه نه وه، هغه متل دی وايې پنځه ګوتی يو برابر ندی زما دا کاکا هم زما د نيکه په زامنو کی د ټولو سره بيل وو!

دا کاکا مې د نور کاکاګانو او ماماګانو پر خلاف ډير دنيا طلب او توربور او نام ونشان او دی خبرو ته بيحده توجه کوی، دا کاکا می د پلار څخه ډير مشر دی او د دی لځايه چې نيکه می د کلي اربابی ده ته ورکی نيکه مې د کلي اربابی او خانی خپل دويم زوی ته ورکړه! مطلب زما پلار ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیرت می وویل: ولی؟
جهان خپل لاس زما په مخ تیر کړو او ځو ویښتیان مې چې په مخ راغلي وه هغه یې ورشخه لری کړل او کرار یې وویل: دا مشر کاکا می په ځواني کی ډیر لوفر،بدماش او شوقی انسان وو! نور خبری لا یو خواته هغه باندی زه کار نلرم هغه د ده او د خدای مینځ کی معامله ده! دا کاکا می چی د 20 کالو تازه ځوان سوی وو زما د نیکه او د نور ټول کورنی خلاف زما یو عمه وه هغه یې یو بیګانه سړی چې نه مو نوم ورنه پیژندی نه نشان! خپل په سر ورکړی وه!

په حیرت می وویل: ځنګه یې ورکړی وه؟
جهان- یا هغه رکم چی ته فکر کوی هغه رکم نه یادوم خرڅه کړی نه وه خو د ټولو په بیخبری کی زما عمه یو بیګانه کس ته په نکاح ورکړی وه او همغه شپه یې د کندهار باسلی وه!
- بیا څه وسول؟
جهان- څه به سوی وایې زما دا کاکا نیکه عاق کړی!
- عاق کړی؟

جهان د امم په ویلو خپل سر زما پر بالشت کیخود او په داسی حال کې چی یو لاس باندی زما ویښتیانو کې ګوتی وهل ویې ویل: د پلار د خوا د زوی عاق کیدل ډیر غټ ګناه ده وایې خدای به د شب قدر په شپه د روژی میاشت کی ټول کسان چی هر رکم ګناه یې کړی ویې وبخشی خو عاقق کړی اولاد نه بخشی.
- بیا څه وسو؟ یعنی هغه عمه مو پیدا کړل چاته یې ورکړی وه؟ ولی؟

جهان- نه یم خبر هغه وخت زه لا بیدا نه وم او دا ټول خبری می هم د مشرانو له خولی آوریدلی.
نا ساپه د ارباب هغه خبره مي پیاد شول چې ویل یې" فکر کوه خبره چې د یو خولی او یو سړی نه بل سړی ته رسیژی سل رنګ او سل کیفیت بدله وی!" دا خبره ما جهان ته وکړل چې هغه په خندا وویل: دا جمله دی سونی د بابا د خبرو رکم وه، زه

پدی موضوع د کاکا سره مي شاټ نه یم ستا خبره خبری تر خبری بدلیژی هغه موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شاید ځانته داستان درلود، په مجموع کی زما کاکا ډیر ښنګه ووایم! اممم یغنی ځوانی کی ډیر عیاش وو او اوس چی خپل د زور او توان ولیدلی نو د دی لځایه چی توبه وباسی ایله چینجنی خبری کوی او موږ د کاکا زامن یو بل سره په جنګ اچوی.!

- په څه دلیل؟
جهان- الله اعلم نه یم خبر بس دغسی کار همیشه کوی.
- چی دسی انسان دی بیا تاسو ولی خپل دوه خویندی د هغوی کور ته ورکړی او تاسو هم ورنه لورګانی کړی؟
جهان- هی هی هغه هم ځانته داستان لری څه یې کوی تنها دونی درته وایم چې ما د کاکا د کور سره می جوړه نده، نو کوشش وکه ډیر رفت او آمد ورسره ونکی.

- اهوم ... ربنتیا و مو نه ویل؟
جهان- چشی؟
- دا چی کاکا مو چی کله غیږ درکړل څه یې درته وویل؟
جهان څو ثانی خاموش څو بیا په کراره وویل: هیس بس یو خبره وه چی هغه د قه کی جواب هم وخوړی.... شه اوس ته ووایه چشی دی وکړل؟
د هغه په خبره به نیولی غږ مې ورته وویل: هیچا راسره خبری ونکړل!
جهان- ولی؟

- نه پوهیږم ټولو دسی راته بد بد کتل هیچا راسره خبری نکول! هغه ټول مجلس کی یواځی ناسته وم!
پدی آخیری خبری خپل زړه می لا په ځان وسوځیدی دومره په عاجزی می وویل! چی جهان د څو میاشتو وروسته خپل غیږ ماته خلاص کړو او پداسی حال کی چی زه یې خپل د سینی پوری نیولم زما د غوږ اندی ته یې وویل: بلا دی د ټولو پسی سی په غم کی یې؟ بیخی دی خبری نکوی..
- اهوم.

جهان د دی لپاره چی ما د هغه غمژن حالت ښخه راوباسی ویې ویل: اصلا زه یو پیشنهاد لرم درته منې؟
- څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان- یا نو اول دا راته ووایه چې د معاملی نفر یې کنه؟
- ځنګه معامله؟
جهان- دسی معامله چې دواړه خواته یې ستا فایده ده!
- خو ووایه څه؟
جهان- اممم زه دی سبا وړم چکر ته هغه هم ستا د انارو باغ ته خو یو شرط لرم؟
- څه؟
جهان- هغه بیا سبا درته وایم!

- نه اوس ووایه څنګه شرط؟ کنه بیخی نه ځم.
زما په خبری جهان وخندل او ویې ویل: یا نووو ستا د تلو یا نه تلو تصمیم زما په لاس کیدی تللو کیدی خو ضرور وړم یواځی هغه شرط بیا ستا په غاړه پریږدم چی منی کنه؟
- خو اوس ووایه څه شرط دی؟ کنه ما ته تر سهاره خوب نه راځی!
زما په خبری جهان به لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ای زه جار خپل د دونی بی صبر شزی سم! و می ویل خو د معاملی دواړو سر کی ستا فایده ده زه ستا بد کله غوشتلی سم؟
د جهان په خبرو د شرم څخه می مخ تک سور شو خو نور مې څه ورته ونه ویل.

***

سهار می د تل پشان چای دم کړو تنور ته می لرګی ورواچول د جونید د مکتب شیان می وربرابر کړل، وابنه مې تر غوجلی د جهان د مور لاس ته ویوړل خو غوایانو ته نږدی نشوم ډاریدم ورنه، د جهان هغه تور آس ته می هم وابنه واچول د جهان خبره رښتیا ثابته شوه اس په دری هفتو کی زما سره عادت شو او زما او د جهان د لاس نه بغیر د هیچا د لاس څخه وابنه نخوړل! خلاص چی چیرته وه ادی؟ چی وګوری هغه هوسی چی د ډیر ناز د غرمی په دولس بجو راویینه کیدل او کار ته یې لاس نه وهی اوس د مولا په آذان راویینه کیږی او د یو لښکر قوم کار کوی! په ریینتیا هم چی وقت او شرایط انسان بدله وی.

خپل کارونه می خلاص کړه او جهان ته په تمه وم ترڅو راشی او باغ ته لاړشو!
خوشحال وم او د ماشومانو پشان شوق می درلود چی وګورم هغه باغ څنګه دی؟ او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی زما په نوم وو نو زما تلوسه یې ورته نور هم زیاته کړی وه! جهان د غرمه د آذان وروسته راغی او کله چې زه تیار چمتو ولیدم نو په خندا یې وویل: ای ماشالله ته دونی تکړه وی او زه خبر نه وم!؟
- خود نو تکړه یم خو زما د لیاقت لیدلو لپاره د بصیرت سترګی پکار دی!
جهان- بی له شکه ستا په لیاقت کی موږ کوم شک نلرو آغلې.

نه پوهیږم ولی خو ناساپه د جهان د آغلی په لفظ می زړه خراب شو آغلی تل ماته حسیب ویل! کرار می ورته وویل: ماته آغلی مه وایه.
جهان- ولی؟
- همداسی نه می خوښیږی دا لفظ.
جهان څو ثانی راوکتل بیا یې په تروش تندی وویل: صحیح دی.
لځایه پاسیدم او جهان ته چې د کوټی دروازه کې ولاړ وو ومی ویل: زه څم د جونید ډوډی د سرخان سره ورته په آشپزخانه کی کیږدم هسی نه راشی د مکتب څخه او سوک ډوډی ورنکړی او وږی پاتی شی!

جهان- اممم نه پاتی کیژی وژی دونی ژوندی بنی ادم به پیدا سی چه ده ته یو ګوله ډوډی ورکړی.
- یا زه باید خپل یې ورته تیاره کړم.
جهان- چشی دی وویل اوس؟
په حیرت می د جهان خواته چې په خندا یې ماته راکتل ومی کتل او ومی ویل: ومی ویل نه زه باید خپل ورته ډوډی تیاره کړم!
- یا یا د هغه نه مخکی دی یو لفظ ووایی؟

په حیرت می وویل: هیس می هم ونه ویل؟!
جهان په خندا وویل: زموږ لهجه دی وکړل نازولې د "نه" د ځایه دی "یا" وویل!
په حیرت می د جهان خندانه څهری ته وکتل او ومی ویل: شاید دا څو وقته می زیات دا لفظونه آوریدلی ځکه ناساپه ستاسو لهجه می وکړل.!
جهان په خندا راکتل چې زه یې له څنګ تیره شوم جونید ته می ډوډی برابره کړل ترڅو کله چی د مکتب څخه راشی ویخوری، ما ځان سره یو څو پیالی او د چایو ډک ترموز راوخیستو نور شیان می راونخیستل ځکه جهان ویل هلته شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د باغ خواته په موټر کی روانشو البته و به نه وایم هغه خبری چی د جهان مور او وریندارګیانو په پسپسک انداز یو د بل په غوږنو کی زما په اړه کول! نه پوهیږم دی خبری کی اوس څه مشکل وو چې زه دی خپل د خاوند سره باغ ته په چکر ولاړشم؟! د لس دقو تلو وروسته جهان موټر د یو ښایسته باغ مخ کی و دره ویې او د ښکته کیدو حال کی وویل: ته مه راشته( راښکته) کیږه زه دروازه د باغ خلاصه کوم موټر د ننه ننباسم.

د سر په ښوره ولو می د سمده جواب ورکړو، جهان د باغ لویه دروازه خلاصه کړه او موټر یی دننه ویوړ، د موټر سره به ښکته کیدو د حیرت می سترګی خلاصی پاتی شوی یو کامل شنه فضا د انار د ونو ډکه! دومره په ترتیب او منظم درختی شاوخوا کینول شوی وه چې انسان فکر کو جنت ته راغلی! د باغ سر او بر ماته نه ښکاره کیدو په حیرت حیرت می شاوخوا کتل او ترموز پیالی می هم لاس کی وه چې جهان زما د لاس هغه واخیستل او ویې ویل: لاندی هم ګوره دلته د اوبو کوچنی ویالی دی هسی نه پکشې( پکی) غوزاره نسی!

بغیر لدی چې د جهان خبره په غوږ ونیسم په شوق باندی په باغ کی په ګرځیدو شوم یو څه چې مخ ته ولاړم د باغ په یو څنده کی می په یو کوچنی کوټې چې خام دیوالونه یې وه نظر پریوت او د جهان خواته په کتو چې زما شاته کرار کرار راروان و ترڅو که زه وغورزیدم ما راګیر کړی و مي ویل: هغه څه دی؟
جهان زما د لاس د ګوتې په تعقیب هغه کوټی ته پام شو او کرار یې وویل: هغه کوټه ده کله ناکله پخوا د ملګرو سره راتلو دلته مو باڼدار کوی بیا شپه هم دلته پای کیدو.

د پوهیدو په انداز می سر پورته ښکته کړو او بیا روانه شوم، یو څه چې نور مخکی ولاړم نو یو خالی فضا چې شاوخوا یی درختی وه او دلته چمن و نظر ولګیدی یو فرش هم ټول شوی هلته ایخودلی وه جهان وویل چې فرش آوار کړم او ما هم په تلوار هغه فرش هوار کړو جهان ترموز او پیالی هملته په فرش کیخودل او ماته یې وویل: ته یو دوه دقی و دریږه زه درته اوس د هغه کوټی نه نالی راوړم، جهان دا خبره وکړل او د هغه خام کوټی طرف ته روان شو د څو دقو وروسته د یو نالی او دوه بالښتو سره راغی نالی به فرش هواره کړل او بالښت یی هم په سر ورته کیخودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ماته چې ولاړه وم ویې ویل: راځه شینه
د هغه په خبری می کرار خپل د چپلکو بند ختا کړو او په نالی کیناستم چې جهان هم زما د کار مطابق خپل بوټونه د پښو وباسل او زما څنګ ته کیناستی، ما شاوخوا کتل او د مخامخ فضا د ښایست څخه نه مړه کیدم! چی جهان پیاله او ترموز ځان خواته کش کړو او د پیالو ډکو حال کی وویل: لڅ سترپیا چی دی کمه سوه د باغ تر اخیره یو څه چکر وهو او کم انار چی پخ سوی هغه به هم راوشکو ترڅو سبا یې کورته ویسو.

د جهان په خبر په حیرت می وویل: سبا؟ یعنی نن نه ځو کورته؟
جهان- یعنی دونی جر د دی باغ څخه دی زړه ونیول سو چی غواړی کور ته ولاړسی؟
- نه زما مطلب دا نه وو یعنی وایم دلته شپه کو؟
جهان- هو نو دلته شایسته فضا ده خلاص هوا ده ما غوښه راوړی اور به بل کو کباب به جوړ کړو او دلته به شپه تیره کو زه خو دغسی کار ته چکر وایم!
هیس می ونه ویل چی جهان وویل: اممم ښنګه خوشه دی ده؟

زړه می د جونید پسی وو چی اوس به څه کوی؟ د هغه مور احساس می درلود چی خپل اولاد یی کور کی یواځی پریخودلی او خپل تللی چکر ته؟ زما په خاموشی د جهان تندی تروش سو او ویې ویل: تاته وایم چشی مشکل دی چی دسی مروره سوی؟ دا ځای دی خوش نسو که سنګه؟

- ځای می خوښ شو هغه ...( نه پوهیدم څه ورته ووایم؟ که ویلی مې وایې د جونید لپاره په اندیښنه یم! هغه به هم ویلی وایې زوی زما دی تشویش یې ستا دی؟ د دی لفظ د آوریدلو څخه ډاریدم نوځکه هیس مې ونه ویل چې جهان دا ځل په کراره لهجه وویل:

جهان- ګوره زما د میژی وریه کله چې یو خبره یو شئ دربا‌ندی بد ولګیدی ډاریک ماته ووایه دسی خاموشه کیژه مه! کنه هغه وخت زما زړه کی سل خبری ځې راځی او سل بیځایه فکر کوم!
د جهان د خبری په اول لفظ حیرانه وم! او اخیره مي صبر ونشو او پوښتنه مي وکړل: دا د میړی وری څه معنا؟
زما په خبری جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ګوره شه زموږ د پاره دا لفظ شه معنا راکوی ځکه موږ اطرافی خلک یو او دغه خبری راته مهم او د ژوند دی! خو شاید ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لهجې اصلی معنا دی خوښه نسی؟

- ميره خو پوهيږم څه ته وايې خو دا ورى څه معنا؟
جهان پداسی حال کی چې په خندا يې ماته راکتل ويې ويل: د اطراف خلکو ته مهم او د ځان او کورنی څخه ګران ميژه او غوايان وی! ځکه د دوی ژوند په دغه حيواناتو مخ ته ځي نو ځکه کله چې يو نفر وربانډی ډير ګران سی نو ورته وايې زما د ميږی وريه!
مطلب کوم شې باندی چی زما ژوند تير کيږی او ماته مهم دی ته د هغه بچی يی؟ يعنی زما د ژوند د مهم شی يو ټوټه او برخه؟

په پوره توجه می د جهان خبری وآوريدل بيا می ورته وويل: اصطلاحی معنا چی تاسو ورته وکړل ښه وو ګوزاره يې کول! خو لغت ې زما په نظر ډير بد دی! ځکه انسان د حيواناتو سره سم کول او د هغه بچی غږ کول زما په نظر د هغه مقام او حيثيت ته توهين په حساب راځی؟!
جهان هم نری مسکا په خوله زما خبرو ته غوږ نيولی وو کله چې زما خبری خلاصی شوی هغه کرار وويل: ستا خبره زه منم رښتيا وايې بس يو اطرافی لهجه ده خوش دی نسو نور نه درته وايم ته امر کوه يواځی.

د جهان پدی خبری په شرم می وويل: داسی مه وايست ما يواځی خپل فکر بيان کړو د هر چا خپل لهجه او نظر دی او د احترام وړ.!
جهان- شايد د هر چا دپاره د هغه نظر وی خو زما د پاره ستا نظر زما نظر دی ته چی هر شی ووايی زه هغه ته صحيح وايم.
هيس مې ونه ويل او سر مي ښکته واچوی چی جهان وويل: فکر دی يو خبری ته سوی؟
په ګنګس انداز می وروکتل او ومی ويل: کوم خبری ته؟
جهان- دا چې ته هميشه ما په نوم ناری کوی!
په حيرت مي وويل: نو څه ناری کړم؟

جهان- اممم هر شی چی دی زړه وی خو نوم مه اخله شه ندی!
- ولی؟
جهان- د اسلامي لحاظ ګناه لری شزه دی خپل ميره په نوم ناری کړ!
په همغه حيران لهجه مي وويل: رښتيا وايست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان- هو ولاړی ما خو دغسی آوریدلی!
- عجیب ده!؟

جهان جواب رانکړو او خپل د چای په څکلو شو د ماښام د آذان مخکی مو د درختو څخه هغه انار چې پاخه شوی وه راوشکول او ما ټول یو دسمال کی وتړل او دومره ډیر می وخوړل چی جهان راته وویل پام کوه مریضه دی نکړی؟ خو ما د جهان خبری ته هیس توجه ونکړل او هر انار چی زما په نظر خوند یې تروش و هغه مې خوړی؟! د ماښام د لمانځه وروسته جهان د موټر څخه راوړی غوښه راوړه او د انګار او اور د بل کولو وروسته د کباب په پوخ کیدو لګیا شو، زه یې هم خپل څنګ ته کینولی وم هر نوی کباب به چې سور کوی ماته به یې راکوی خو زما هیس زړه نه غوښتل ځکه په انارو می ځان موړ کړی وو، خو بیا هم جهان یوڅه په زوره راباندی وخوړل!

تر ډیره د اور څنګ ته ناست و او د اور لمبی ته مې کتل چې جهان د شالخوا خپل پټو زما پر اوږو واچوی او زه یې د ځان خواته کش کړم پداسی حال کې چې زه یې غیږ پوری نیولم ترڅو یخ می ونشي ویې ویل: ستا په نظر ولاړسو کوتی ته که دلته پریوځو؟
- اممم ستا څه نظر دی؟
جهان- زه خو وایم کوتې ته ولاړسو دلته هوا نیمی شپې خواته بیخی زیاته یخه کیږی هسی مریضه به سی.!
- اهوم صحیح دی کوتې ته به لاړشو خو اوس نه!

جهان- نو کله؟
- هر وخت دا د لرګیو اور مړ شو بیا!
جهان- اهوم ستاسو شهریانو خبره رمانتیک فضا ده!
- اهوم.
جهان- ته ولی ټل خاموش یې او خبری نکوی؟
- نه مې دی زده!
جهان- خبری زده کول نغواړی کله چې یو نفر درباندی ګران وی بغیر د کوم خاص موضوع څخه په ساعتو دغسی خبری کوی!شاید زه تاته هغه د زړه کس نه معلومیژم جی خبری نه راسره کوی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل مې خپل سر د جهان د سینې څخه پورته کړم او جواب ورکړم خو هغه د دې کار څخه منع کړم او بداسې حال کې زه یې خپل اولې ځای یعنې غیږ ته رابللم کرار یې وویل: بغیر د دې چې خپل د ځایه ولاړسې دغسې هم خبرې کولی سې.
ځو ثانې خاموش وم او خپل خبرې مې لځان سره پورته ښکته کول اخیر سل زړه مې یو کړل او ومې ویل: زه ستا د غوسې څخه ویریږم! فکر کوم که خبرې وکړم ستا په مزاج به ښه ونه لګیږی او...

جهان- خبرې تر خبرو فرق لری ته د خبرو لځایه طعنه وهی لکه د مار پشان دی دا ځینی خبرې نیش وهی!
- اهوم نو زما خبرې همدغه دی جان او قربان می نزده.
جهان و خندل ځکه سینه یې زما د سر لاندی ښکته پورته شوه بیا یې وویل: اوس ما هم ستا نه جان او قربان ندی غوښتلي دغسې عادی خبرې راسره وکړه.
- لکه څنګه؟
جهان- لکه امممم سونې وخت کیږی موږ واده کړی ته یو وار لا زما مخ ته نه راځي کله چې د شپې له کاره راځم، یو وار دی لا تر اوسه زما څخه پوښتنه نده کړی چې چیرې وی؟ چشی دی کول؟ ډوډی دی خوړلی؟

ستا په نظر شاید زما خبرې بې منطق او بیځایه شکاره سی، خو زه غواړم کله چې د سهار په آذان د کور وځم او ماشام ستړی هلاکه د کار راځم نو په خوشحالي راسم چې یو سوک راته انتظار دی د کور چراغ می روشانه دی! نه دا چې زړه کی می لخ لخ وی چې څه به یې کړی ویی؟ اوس بیا به په غوسه وی؟ بیا به یې تندی تروش وی؟ زه غواړم دا د ځو کالو د یوا ځي توب او تنهای خاطرې ته راته خپل په خندا او ورین تندی له یاده وباسی، ته زما خواته یو قدم مخکی راسره زه درته زر ګام درزغلم.

ته لږ دونې کک زما زړه ته وګوره او زما خاطر وساته بیا ته ووایه جهان مړ سه که مړ نسوم درته انسان به نه یم.

جهان دا خبرې وکړل او خاموش سو، هغه زما څخه اضافه شی ونغوښت هغه یوا ځې خپل حق کوم چې پر ما درلود هغه راته بیان کړو، رښتیا هم چې سړیان د مینې تږی دی او تل غواړی یو څوک ورته پام او توجه ورکړی! دا چې وایو ښځي احساساتی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړیان نه! دا هسی خبره ده سړیان د ښځو څخه زیات احساساتی دی، نور می هم ځان د جهان غیږ ته نږدی کی او ومی ویل: امهم تا ویل شرط لری څه شرط دی درلود؟

جهان- امهم مطلب بهانه راوړل زما خبرو ته؟! خیر مشکل نسته خدای به خیر کی.
- نه بهانه نه راوړم ستاسو خبری می واوریدل فکر به وربادی وکړم اوس دا راته ووایست چی څه شرط مو وو؟

جهان زه خپل د غیږ څخه جلا کړم او پداسی حال کې چی هغه تور سترګو کی د اور لمبی پورته ښکته کیدل کرار زما لاسونه ونیول او ویې ویل: ما دا د اوس وقت هلکانو رکم د مینی الفاظ نزده چی درته په خوله بیان کړم او نه مې هم د لیلا د زلفو په خاطر شعرونه ویلی! زه یو اطرافی ساده سړی یم او خپل په چم به درته ووایم: ته زما ځان یې ستا هره خبره چی د خولی راوځی ډاریک زما په زړه لږیژی، پر ما ناز وکه نخری وکه زه یې ټول درته وړم حتا جنګ وکه شنزل وکه زه ولاکه درته شی ووایم د دی ټولو خبرو سره زما زړه کی اوس هم لږ شک او بد احساس سته!

زه غواړم دا لږ شک او تردید هم لمینځه ویسم ( جهان لږ شانتی خاموش سو بیا یې ناسایه وویل: زما سره نکاح وتړه؟ او دا نکاح د نورو سره فرق لری ما دواړه وار د نکاح وخت کی ستا څخه مخامخ "هو" خپل په غوږونو وا نه وریدل خو دا وار شرط می همدغه دی مخامخ زما نکاح ته "هو" ووایه!
په حیرت می وویل: نکاح؟

جهان- هو زه تراوسه فکر کوم دا ټول خبری او کارونه او ستا راضی کیدل په زوره سوی غواړم خپل په غوږونو ستا د "هو" جواب واورم ترڅو دا زړه مې کرار پیدا کړی!
- بده نده لاړشو مولا ته ووایو راشه زموږ دریم ځل نکاح وتړه؟
جهان- چا ویل مولا ته ځو؟
- خو ته وایې د سر نکاح وتړو؟
جهان- زه وایم خپل په غوږو باندی ستا د "هو" جواب غواړم واورم! نه د مولا د خولی؟!
دغه زما شرط دی. منی که نه یې منی؟

په ګنګس او خاموش نظر مي جهان ته کتل! او نه پوهیدم څه جواب ورکړم اخیر مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وويل: هر ځنګه چې ستا خوښه وی که د دريم ځل نکاح تړلو باندی ته خوشحاليږی
او زړه دی آرامه کيږی دا خو آسانه خبره ده.
زما په خبری جهان په خوشحالی وويل: يعنی زما سره نکاح تړی؟
- مورږ نکاح تړلی يواځی همغه نکاح تازه کو!

جهان- صحيح دی نو راځه!
په حيرت می وويل: چيرته؟
زما د جواب لځايه جهان يو څو ثانی شاوخوا وکتل بيا لکه چې اراده يې بدل شول ويې
ويل: يا دغه ځای سم دی صبر زه يو څه نور لرګی هم راوړم اور تازه کړم.( جهان دا
خبره وکړل او د لرګيو پسی د هغه خام کوټې خواته روانشو خو دومره تياره وه ماته نه
ښکاره کيدی، زه ناسته وم او د اور لمبو ته چې د خاموشه کيدو حال کی وه سترکی نيولی
وه چې جهان د تازه لرګو سره راغی او اور يې له سر بل کړو کلخ چې د اور لمبی په
مستی باندی د آسمان خواته پورته شول جهان بيرته زما ځننګ ته راغی او ويې ويل:

جهان- شه نو ځنګه تياره يې؟
په حيرت می وويل: څه ته؟
جهان- دونی جر دی دياده ووتل زما خبری ليونی مې؟
ګنګس انداز می ورکتل چی جهان وويل: نکاح يادوم درته!
د هغه پدی خبره می سترکی د حيرت څخه خلاصی شوی او ومی ويل: نکاح؟ اوس پدی
نيمه شپه مولا د کومی خوا کوی؟ شاهيدان؟

زما په خبری جهان وخندل او پداسی حال کی چی زما لاسونه يې خپل لاسونو کی نيول
او هغه تور سترګو کی د اور لمبی په نڅا ول ويې ويل: زه درته خطبه د نکاح وايم خدای
او دا ليونی زړه مې هم شاهيد په توګه نيسم بس ندی دونی غټ شاهيدان؟ دا نکاح غواړم د
زړونو د يو والې نکاح وی نه د خلکو د خولی خوږه کولو او مبارکی اخيستلو! نن پدی
نيمه شپه زه غواړم دوه زړونه يو د بل په نوم کړم نه يواځی نومونه؟

په حيرت می ورکتل د څو ثانيو وروسته مې وويل: هر رکم چی ستا زړه آرم کيږی
همغسی وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان په خوشحالی راوکتل پداسی حال کې چی زما لاسونه یې کلک خپل د ګوتو مینځ کی نیول په عربی باندی د نکاح خطبه ویل شروع کړل؟! زه د حیرت ورته خلاصه خوله ناسته وم جهان خپل په ښایسته غږ ځو دقی عربی الفاظ وویل چی زه صرف همغه یو لفظ باندی پوه شوم هغه چی فرمایی: نکاح زما سنت دی او هر یو چی زما د سنت ځخه مخ وګرځه وی هغه زما د امت ځخه ندی؟! د ځو نور الفاظو وروسته جهان په پښتو وویل: آیا تا جهان خان سدوزی ولد فیروز خان سدوزی چي پدی نوم بل زوی لری په مکرر او یاد شوی مهر بغیر له کوم زور او زیاتی او جبر ځخه خپل په زړه او پوره هوش او حواس د میره په حیث قبول دی؟

شاید موږ دواړه د لیونتوب اخری حد ته رسیدلی وو چی نیمه شپه ناست وو او خپل نکاح مو خپل تازهه کول! خو ماته دغه لیونتوب او ماشومتوب د جهان سره خوښ وو، مخامخ می د جهان سترګو ته چي په خوشحالی زما د جواب په تمه وو نظر واچوی او په کلک داسی ډاډمن لهجه چی نه می اول وار د کوژدی وخت کی ویلی وه نه هم د واده په ورځ! و مې ویل: هو زما قبول دی.

جهان ځو ځله هغه الفاظ تکرار کړل او ما هم هغومره وار ورته یو کلک "هو" وویل چی جهان زما تندی او لاسونه ښکل کړل او په خوشحالی خپل جیب ته لاس کړو او ویې ویل: ستا مهر زما په غاړه پور دی اوس خو دم په دستی نلرم ټول درکړم خو دغه ګوتمی خپل د مهر په یو حصه کی قبول کړه د نن لپاره!

په حیرت می د جهان لاس کی یو مردانه ګوتمی چی فیروزه یې رنګ یې وو او شاوخوا میده نور غمی په کی کارول شوی وه وکړل او په حیرت می وویل: دیته کوم اړتیا نشته دا ستا ګوتمی ده لاس کی کړه!
جهان- شه خبره نده انجلی ته مهر یې ورنکړی اوس زما سره نور شی نسته دغه ګوتمی ستا د مهر په اندازه ارزی تر سبا چی کورته ځو لخیره دا خپل د مهر په حیث ځان سره وساته.( په یرت می ګوتمی ته کتل زړه می نغوښت واخلم خو جهان نه منل مجبور د لاس ځخه می ورنه واخیستل

چی جهان په همغه خوشحال انداز زه خپل غیږ خواته کش کړم او اول ځل وو چی ما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان له خولی قولونه، آرمانونه، وعدی، د خوشحال راتلونکی ډاډ! او داسی نازونه چی هیڅکله یې نه وه راکړی وا مې وریدل؟! یو دقه کی سوک وایې دا عربی الفاظو جادو وکړو چی هغه تریخ او تروش تندی جهان یې پدی خوش اخلاق او نرم خوی جهان بدل کړو! تول شپه جهان زما څخه د کعبی پشان طواف وکړو او د یو ښایسته او آرام ژوند ډاډ یې راکړو داسی چی هره خبره یې زما په زړه لګیده او ما وزری کول او آسمانو ته مې الوتنه کول..

سوک وایې چی خبری دنیا نشی بدل کولی؟ زه خو وایم الفاظ او خبری قوی ترینه وصلحه ده چی هم انسان د پینو اچولی شی او هم وزری ورکولی شې ترڅو پرواز وکړی! د جهان په الفاظو د محبت او مینې ډک لاسونو زه تر عرش ورسه ولم او ذهن می یواځی د یو لفظ په محور څرخیده جهان! د هغه وعدو او قولونو زه د دی نړی څخه جلا کړم او یو تخیلی نړی ته داخل کړم، یو دم می د دی څو میاشتو غم او خفګان د وجود څخه ووتی او راحت احساس مې پیدا کړو!

د جهان غیږ کې وم او هغه راباندی خپل قوی نارینه لاسونه حصار کړی وه ترڅو یخ مې ونه وهی دواړو بغیر له کوم خبری څخه د آسمان ستورو ته کتل! نن شپه راته د آسمان ستوری هم بل رکم ښکاره کیدل! داسی لکه چې یو محفل او جشن وی او دوی پکی نغمې وایې! سر مې د جهان په سینه ایخودلی وو او هغه کرار کرار خپل په ګوتو زما ویښتیان اړول چې په کرار غږ مې ورته وویل: جهان!

زما د غږ پشان هغه هم کرار جوای رانکړو: جان جهان چشی وایې؟
خپل سر مې د هغه د سینې څخه پورته کړو او ومې ویل: کله ځو کابل ته؟ دلته زما زړه تنګ دی!
جهان زما د مخ ویښتیان د غوږ شاته کړل او همغه کرار لهجه باندی وویل: اوس نکیژی نه مې هلته کور نیولی نه مې خپل کار او بار برابر کړی اوس ولاړسو مجبور ته خپل د پلار کور کې پاتی سی، ترڅو زه خپل کارونه کابل خواته کوم او یو کور او ځای اخلم ډیر وخت نیسی او زه دونی طاقت نلرم چی ستا نه جلا خپل وخت تیر کړم!

- ستا په نظر سومره وخت کی ستا کارونه برابر کیږی؟
جهان- اممم شاید پنځه شپږ میاشتی وقت ونیسی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دومره ډیر؟؟
جهان- امهم ځکه غواړم کامل خپل کار د کابل خواته واړوم ترڅو یو دقه لا د مجبوری ځخه دیخوا رانشم او ته یواځی پاتی نشی!
- خو زما زړه د ادی بابا پسی تنګ شوی!

جهان- یو میاشت پسته(وروروسته) روژه ده بیا اختر دی لخیره نو ته خو نغواړی اول اختر او اوله روژه د واده نه بعد د پلار په کور تیره کړی؟
- نو څه کیږی؟
جهان- بده خبره ده زه دی یو میاشت د واده بعد هم د خسر په کور چاپه واچوم چی چشی دی شزه می دلته ده!
په شیطنت مې وویل: نو تاسو څه کوی؟ تاسو خپل کار کوی زه هم روژه کابل کی تیره وم دلته نکیږی!

جهان- ولی دلته نکیژی؟ ډوډی نسته که کور نسته چی نکیژی؟
- دوړه شته...( کرار می وویل:خو کار هم زیات دی.
زما پدی خبری جهان زما سر خپل د سینی څخه پورته کړو او زما سترګو ته په کتلو یې وویل: ډیر کار درباندی کوی؟ ستړی یې؟
-اهوم.
جهان- ولی دی ماته اول نه ویل؟
خاموش شوم او هیس مې ونه ویل چې جهان وویل: نن چی ولاړو زه د ادی سره خبری کوم.

په تلوار می وویل: نه داسی کار ونکړی!
زما په داسی لهجی د جهان وریځی له حیرت پورته شول او ویې ویل: ولی؟
- اخ ستاسو مور به بد فکر وکړی هسی ارباب چی تولو مخکی وویل چی نور دی زه لوبنی ونه وینځم ځکه لاسونه می خراب کیږی تولو دسی بد بد راکتل او یو بل غوږونو کی زما په اړه پسپسک کوی..
زما په خبری جهان په لوړ غږ وخندل او پداسی حال کې چی بیرته زما سر خپل په سینه ایږدی ویې ویل: د شزو کار دغه پسپسک دی هر کار وکی دوی خپل دغه کار نه پریژدی نو زما منی دا ستاسو شهریانو به لهجه سر ای رکم مردم جمپ هم نګیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار لمانځه وروسته د تلو اراده مو وکړل ما د پرون د درختو راشکول شوی انار راوخیستل او موټر د کور خواته حرکت وکړو، ښه احساس می درلود جهان راته د هر باغ او سم ځای څخه به چی تیریدو نوم اخیستو او را پیژندی، ټول لاره تر کوره جهان زما لاس کلک نیولی وو او ځان سره لګیا وو یو شعر یي وایې که سندره؟ نه وم خبر خو خوشحال وو، کورته په رسیدو جهان د موټر هرنګ ووهی او جونید لکه چی زموږ د راتلو په انتظار د دروازی شاته ناست وو؟ ځکه همغه دقه یې دروازه خلاصه کړه.

په خوشحالی د موټر ښکته شوم او د جونید خواته روانه شوم کوم انار چی زما په نظر د ټولو څخه سم او خوندور وه هغه می د جونید لپاره بیواځی کړی وه، انار می د هغه خواته ونیول خو هغه سر ښکته اچولی وو او ماته یې نه راکتل!
- جونید.
زما په غږ هغه سترګی راپورته کړل خو تندی تروش وو، ای چی سومره په همدی ماشومتوب کی د جهان پشان اخلاق او خوی لری تندی خپل د پلار پشان تروش کړی وو او خبری نکول لکه چی خفه وو؟ څو دانی اناره می د هغه جیب کی واچول او یو دانه می هم په زوره په لاس کی ورکړو او په مهربانه لهجه مي ورته وويل: زما څخه مرور یې؟

د دی څخه مخکی چی جونید جواب راکړی جهان موټر و دره ویي او زموږ خواته راغی د جونید په لیدو یې په خندا وویل: ګوره هلک تندی به نه تروش کوی وی مي نه وړی ځکه هغه بل وار چی باغ کی مو شپه کړی وه تا ټول شپه نه خپل دی خوب وکی نه دی موږ پریشود( پریخودو) او اخر هم مریض سوی، نو ځکه می دا وار ویي نوړی.

جونید بغیر لدی چی د جهان خبرو ته توجه وکړی ما ته یې د اوښکو ډک نظر راوکتل او ویې ویل: خیر دی چیری مه ځه.!
د جونید پدی خبره ما او جهان دواړه ورته په حیرت وکتل! چی جهان څو قدم په تلوار د جونید خواته نږدی شو او پداسی حال کی چی په ځمکی ګونډه وهل ترڅو د جونید هم قد شی ویې ویل: چیری ولاړنسی؟ موږ خو نور چیری نه ځو یو پرون شپه ولاړو چی هغه هم وګوره د مولا په آذان ستا د پاره جر راغلو!

جونید په همغه معصوم انداز وویل: هغه ګلناز عمه ویــ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



جونید خپل خبره پوره کړی نه وه چې د کور تول ښځې او ماشوم راووتل؟! داسی موږ ته کتل لکه چی یو غټ جرم او ختا مو کړی وی؟ جهان د ځمکی راپورته شو، او تندی وار له واره تروش ځو لکه چي پو هیدی څه خبره ده؟! خو زه هک حیرانه د انارو دسمال په لاس کی ولاړه وم! جهان جونید لکه یو ۵ کلن ماشوم خپل غیږ ته پورته کړو او د سر په اشاره يې ماته وویل چی ورپسی شم، زه هم بی اختیاره د هغه پسی شوم

د د هلیز مخکی جهان جونید ښکته کړو او پداسی حال کی چی موږ دواړو ته یې د پورته منزل او کوټی خواته اشاره کول ویې ویل: تاسو دواړه ولاړسی کوټې ته زه هم اوس درځم.
بغیر له کوم خبری هک حیرانه می د جونید لاس ونیو او خپل کوټی خواته روانه شوم یعنی څه خبره شوی وه چی پدی سهار وختی دوی داسی حال جوړ کړی وو؟ چا غوښتل ما د کور ښځه وشړی چی جونید دومره ویریدلی وو او ویل یې مه ځه؟
دویم زینی ته موږ دواړو قدم لا نه و اخیستی چی د ګلناز کینه او د کرکی ډک غږ مې واوریدی چی جهان ته یې وویل:

ګلناز- افرین دی ویې پر تا لالا سل آفرین دی وی پرتا! ته هم ځانته عالم او با سواده وایې؟ جهان په یو نیولې او ډډ غږ وویل: ولای تراوسه خو ما دسی ندی ویلی چی زه مولوی یم! دا خبره پر ما مه تړی اول او دویم بیا چا ستا پوزه درکش کړی چی اور یې زما او زما د کورنی ښځه وځی؟

ګلناز په ژړا وویل: ستا د کورنی ښځه؟ اوه نو تا خو زه خپل د کورنی د لیست ښځه باسلی یم زه خو ستا په کورنی کی نه راځم که راتلم نو تا به دسی کار زما د ژوند سره نکولی!
جهان په غوسه ناکه لهجه ورته وویل: ګلنـــاز خبره مه کش کوه ماته د هندی فلمو بازیګره د ځان ښځه مه جوړه وه مطلب خبره دی کوه چشی غواړی؟
ګلناز- چشی غواړم؟ خپل حق غواړم!
جهان- د چشی حق؟

ګلناز- خپل د ژوند حق غواړم.
جهان- ما ستا د ژوند سره چشی کړی چی تا زما ګریوان نیولی؟
ګلناز- ولی دی دا شهری انجلی وکړل؟ ولی دی پرما غم جوړ کی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیر حیرت څخه می خوله خلاصه پاتی شوه! ما پدی څه غم جوړ کړی؟ غوښتل می غوږ ونیسم او پوه شم څه چل دی؟ خو جونید په تروش تندی د لاس کش کړم د کوټي خواته او ما یواځي د جهان د ډیر قهر او غضب څخه یوه جمله واوریده: زما واده پر تا غم جوړ کړی؟

غوښتل می خپل لاس د جونید څخه جلا کړم او د هغوی خبرو ته غوږ ونیسم خو جونیدی د جهان په شان په تروش تندی وویل: جهان بابا وویل تاسو کوټي ته ولاړسی نو شه ندی چی خبرو ته یې په پټه غوږ ونیسو بده خبره ده.

د جونید په خبرو په حیران نظر می وروکتل! دا دومره کوچنی ماشوم دومره خبرو باندی پوهیدی؟ کوټي ته ننوتلو او ما په کراره جونید ته وویل: ته خبر یې ولی ګلناز عمه دی جنګ کوی؟
جونید د سر په خوځه ولو د "هو" جواب راکړو چې زه یې نوره هم خواته نږدی شوم او ومې ویل: ولی؟ په څه دلیل هغی زما څخه بد راځی؟
جونید هیس ونه ویل چی ما کرار او مهربانه غږ باندی وویل: تخو نغواړی زه ددی ځایه لاړشم!

جونید- یا..
- نو ماتهووایه ولی دی ګلناز عمه دسی کارونه کوی؟
جونید- هغ... هغه غواړی خاله بابا ته وکړی؟
په حیرت می وروکتل: څه چاته وکړی؟
جونید- ګلناز خاله ویل فاطمه خاله جهان بابا ته کو!
په حیران نظر می ورکتل اخیر کیسه څه ده؟ دا فاطمه یې لا سوک ده؟ ولی ګلناز د اول ورځ څخه زما څخه بد راتل؟ ولی د هغی په راتلو تر څو ورځو د ټول کورنی تندی ماته تروش کیدی؟ اخیر دلیل څه دی؟ په سل زحمت او خواری او چالاکی می جونید په خبرو راویستی!

او دومره پوه شوم چی ګلناز د جهان موخی وه(بدل) او د جهان د ښځی د وفات وروسته دوی دواړو کورنی دا صلاح کړی وه چی د ګلدسته دویم خور چی فاطمه نومیدل او د جونید خاله راتلل هغه جهان ته وکړی ترڅو خپل خوری یعنی جونید دا غټ کړی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان د دی خبری څخه انکار کړی وو، خو بیا هم دوی ورته امید ساتلی و چی شاید یوه ورځ جهان راضی شی! او اوس چی د ۹ کالو وروسته جهان د هغی لځایه زه وکړم نو د ګلنازی میره ته يې هم زور ورکړی و او ګلناز ته يې ویلی وه یا دی جهان زما د خور سره نکاح وتړی یا هم زه پر تا بل ښځه کوم!

او په همدی دلیل ګلناز زما سره داسی شاټ وه او جنګیدل! نه پوهیږم ولی خو د ټولو څخه می په فاطمه زړه وسوځید! د یو ساعت وروسته جهان په تروش تندی کوټی ته راداخل شو سترګی د ډیر قهر او غوسې څخه تکی سری شوی وه، جونید ته يې د کوټی څخه د وتلو وویل د جونید د تلو وروسته جهان په نالی پریوت او ماته اشاره وکړل ترڅو ځنګ ته يې لاړه شم، زه هم په کرار د هغه د سر سره کیناستلم چې جهان په قهر وویل:

جهان- را ومې نغوشتي چی زما سر ته لکه بت شینې(کینې)
- نو څه وکړم؟
زما په خبری جهان یو نظر راواچو او د شونډی لاندی استغفار وویل شاید د دی لپاره چی خپل غوسه کنټرول کړی، خپل سر يې زما په زنګون کیخود او ويې ویل: کله چې یو ښځه وګوری میره يې په قهر او غضب دی نو چشی کوی چی هغه کرار کړی؟
- څه کوی؟
جهان- اممم شاید یو پیاله چای ورته راوړی یا يې سر ورته چاپی کې یا هم شاید یو مچ ورکړی ترڅو هغه غوسه را کمه کړی!

د جهان په خبری د شرم څخه تکه سره شوم خو همت می ونه بایلود او د هغه سر می کرار کرار ورته چاپی کو، د څو دقو وروسته کرار می ورته وویل: ځنګه شو؟
جهان- هومم لاسونه دی جادو لری انسان کراره وی.
په شرم او حیا مې وویل: مطلب می ګلناز او ستاسو کورنی وه!
جهان- اها! هیس ګلناز په خبره نه پوهیژی د هغی سره بحث کول بی فایده دی.
- اوس نو څه کوی؟
جهان- اممم منتظر یم شپی ته هغه دووس میره يې راسی چی سر خلاص کم خبره چیشی ده چی ده بیا نیلی زینګ دی!

نه پوهیدم ځنګه د جهان څخه د هغه د انکار دلیل پوښتنه وکړم چي جهان وویل: امم آورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چشي غواړی ووایي چی دسی زړه نا زړه يي په ويلو کی؟
حيران شوم لدی چي پوی شوی وو غواړم يو خبره وکړم! كرار می ورته وويل: هغ..
هغه ما غوښتل پوښتنه وکړم تاسو ولی خپل د کاک دا بل لور فاطمه ونکړل!؟ ( جهان تندی تروش سو او جواب يي رانکړو چی ما په تلوار وويل: مطلب هغه د جونید خاله په حساب راتلل او خاله خو د مور حيثت لری نو جونيد يي ښه ساتو!
#شهاب ?:
جهان په پوسخند وويل: د مور حيثيت لری جونيد يي ښه ساتی؟( جهان ناساپه خپل سر زما د زنګون څخه پورته کړو او په نيولی غږ يي وويل: هغي جونيد نسو ساتلی.
- ولی نشو ساتلی؟
جهان- ځکه هغي خپل ساتني ته ضرورت درلود!
په حيران نظر مي ورکتل څه مطلب هغي خپل ساتنی ته ضرورت درلود؟ زما په ګنګس انداز جهان خپل د سر ويښتيانو کی لاس تير کړو او ويې ويل: کله چی ګلدسته مړه سوه فاطمه د 8/7 کالو کوچنی انجلی وه د ګلدستی د وفات څخه مخکی دلته زموژ کورته راتلل ما خپل په غيژ کی دا غټه کړه هغه ما ته دسی وه لکه جونيد! ما ورته ويل که زما د زوی خاله په حساب کی نه راتلی ما به خپل زوی ته کولی! او دوی ويل چی ته يي ....
استغفرالله...

په حيرت او خلاصه خوله مي جهان ته کتل! يعنی دا د جهان څخه ډير ماشومه وه! ناساپه می هغه شپه د ميلمستيا را ياد شوه هغه د ګلنازی ايندرور چی زما په خبری خندلی وه هغه خو دغه فاطمه نده کوم چی دوی يادوی؟ مور يي هغه ته د فاطمی په نوم غږ کړی وو! او د جهان مور هم هغی ته بل رکم کتل؟ تازه ټول خبرو په سر او بر پوه شوم حيران وم څه ووايم؟ جهان تر ماښام کوټه کي پروت د ماښام د آذان وروسته جونيد راغی او ويې ويل چي ماما راغلی! د هغه په خبره جهان د کوټی څخه د وتلو اراده وکړل چي ما يي مخ ونيول!

جهان په حيرت زما خواته کتل چي ما په عاجز او کراره لهجه ورته وويل: جنګ ونکړی سمده!
زما په خبری د جهان په خوله نری مسکا راغله او زما پشان كرار يي وويل: زه تاته بدماش معلوميژم؟ زړه خو می غواړی چی يو جوړ فرش ورکړم خو اوس دلته خپل کور کی هغه زما ميلمه دی او موژ عادت نلر ميلمه باندی لاس پورته کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په خبرو لړ زړه مې ډاډ من شو او لاس مې ورنه خوشی کړو چې جهان په بسم الله ویلو د کوټې څخه ووت! نه پوهیږم سومره وقت به لاندی هغه تیر کړی وو خو زما زړه بې واره درزیدی! که ربنتیا ووایم ډاریدم هسې نه جهان د کورنی خبرو کی راشي او هغه جنی خپل په نکاح کړی؟ خو د جهان خبرو او قولونو ته مې چی کتل لړ زړه مې آرم کیدی، شاید یو ساعت کوټه کی لکه لیونیانو سرخیدم راسرخیدم چی حویلی کی د ډز غږ شو؟!

د توپک د ډز په غږ زړه مې ناساپه د وهلو څخه و دریدی! د ډز غږ سره د ښځو شور ماشور هم پورته شوو! په یو تلوار د کوټې څخه ووتلم چې ټکری مې د سر څخه ختا شو خو زما فکر نشو ورته د دهلیز څخه دباندی حویلی خواته ووتلم ټول ښځې ماشومان او سړیان حویلی کی ولاړ وه! زړه مې بی واره درزیدی! شاوخوا مې د جهان پسې کتل ګلناز مې ولیده چې په خوشحالی مخامخ سترګی ښځ کړی وه او ولاړه وه نظر مې و نه تعیقب کړو او جمشید مې ولیدو چی توپک یې په لاس کی وو!

او بې واره یې هوایې ډزی کول! هک حیرانه ځای پر ځای ولاړه وم نه پوهیدم کیسه څه ده دا ډزی ولی کیږی؟ جهان چیرته دی؟ خپل د لمن په کش کیدو نظر مې لاندی راښکته شو چې جونید مې په تروش تندی ولید د هغه لاس کی زما د سر ټکری وو؟ ټکری زما خواته نیولی وو او زه یې د لمن څخه کش کولم ترڅو د سړیانو د نظر څخه مې پټه وساتی! ما لا ټکری د جونید د لاس څخه نه واخیستی چې یو نارینه مظبوط لاس زه خپل خواته مش کړم داسی چې بی واره شا خواته غورځیدم خو هغه ونیولم او خپل د غوږ څنګ ته مې د جهان قهرجن او غوسه ناک غږ وآوریدو!

ـ لڅ سر د باندی د دی شل لنډغرو مخکی ته چشی کوی هـــــا!؟
د هغه غږ شاید عصبی وو شاید غوسه ناکه وو خو همدا چی وامې وریدی زړه مې په کراره شو! په تلوار دهغه خواته وڅرخیدم چی هغه زما ټکری زما په سر کړو او زه یې خپل د کوټې خواته ځان پسی کش کړم! کوټې ته چې ورسیدو ما په تلوار د جهان بدن ته کتل ترڅو کوم د زخم او مرمی نشان پیدا کړم خو هغه روغ رمټ و.! زما پدی کار جهان په حیرت وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان- په تا چشی سوی ولی دسی کوی؟
- هغ.... هغه مرمی ډز وو.... ټوپک ... ت ... ته چا وویشتلی ...؟
جهان چی زما خراب حال ولید زما خواته رانږدی شو او کرار یې وویل: هیس شئ نسته هغه ډزی هسی د جمشید چینجی دی نو څه ووایم ورته، وګوره زه یو دم شه یم!
- ولی ډزی کوی؟

جهان یو ژوره ساه واخیستل او پداسی حال کې چی په نالی کیناستی زه یې هم خپل څنګ ته کینولم او کرار یې وویل: فاطمه یې ورکړه!
په حیرت او تلوار می ورروکتل خپل په غوږونو می باور نکیدی! یعنی څه چی فاطمه یې ورکړل؟ یعنی جهان فاطمه خپل په نوم کړل؟ نو هغه دومره د ده راکړل شوی وعدی او قولونه زما سره څه شول؟ یو دقه کی دا ټول دنیا راته اور وګرځیدل او خپل د ژوند ټول امیدونه می له لاسه ورکړل! فکر می کو برزخ کې شتون لرم دومره نفس ګیره!

جهان چې زما وچ شونګو او بریدلی رنګ ته فکر شو په تلوار یې وویل: ای لیونی تاته وایم ما ونکړل، ما ته غوژ څه هغه یې بشیر په نوم کړل!
- د .... چ...ا .. د چا په نوم کړل؟؟؟
جهان زه خپل غیږ خواته کش کړم او پداسی حال کې چی زما د سر ویښتیان یې ښکل کول ویې ویل: هی هی زما لیوني زه ستا یو ویښته پدی ټول دنیا نه ورکوم څه ورسیړی در باندی بله شزه راوړم!

فاطمه د لالا مشر زوی بشیر ته ورکړل( جهان دا خبره وکړل او یو زوره ساه یط واخیستل ناساپه می مغزو فعالیت پیل کړو او لکه چی د یو لوی حادثي او پیښی نه باید دسی ووایم لکه د مرګ څخه چی بیرته ژوند ته راغلم! داسی احساس می درلود! څو دقی د حیرت او ویری څخه می خبری نشو کولی داسی چی جهان هم زما په حال پوی شو او یو پیاله اوبه یې راته راوړل د لږ ځنډ وروسته مې کرار وویل: فاطمه خو د بشیر څخه ډیره لویه ده؟

جهان به افسوس خپل سر وخوځه ویې او ویې ویل: بس نو چشی ووایم؟ کاکا دا خبره نه پریژدل ویل ما ستاسو د کور په نوم کړی جنی اوس بل یو یې نکوی ما هم نه منل اخیر .... لالا ویل زه یې بشیر ته کوم؟هم نوم پر ځای سې هم نشان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټولو ومنل؟
جهان- اممم مجبور چې ویې مني دا د ډېرو غږ. همدغه معنا درلود چې فیروز خان ارباب ملسې بشیر خان ته یې کوژده وکړل؟

***

او همغه د جهان خبره شوه د هغه شپې په سبا د جهان د ټول ککورنی تندی د خوشحالی څخه خلاص وو او هر د کلي نفر به چې مبارکی ته راتلل دوی ورته شیرنی ورکول ټول خوشحال وه بغیر ده یو نفر څخه! هغه هم د جهان مشره وریندار یعنی د بشیر مور؟ حق یې هم درلود زوی ته یې یو داسی جنی کړی وه چې عمر کی ورته زوی د ماشوم لځایه راتلو! د جهان وریندار اول تندی جهان ته تروش نیولی وو او بل ماته؟! حتا زما د سلام او مبارکی جواب یې لا رانکړو! خو ما هم څه ورته ونیول.

د جهان مشری وریندار د دسمال راوړلو په وخت ټولو ته وویل چې زما د زوی ارمان د دی ښځی سره پوره نشو زوی مې چې ځوان شو یو بل ښځه هم ورته کوم! که ووایم زړه مې د جهان د کاکا په لور فاطمی وسوځید بی ځایه خبره به ویې؟ اخ د هغه جنی څه ګناه وه چې دسی قسمت یې په ژوند راغلو؟ جهان تندی تروش وو لدی خپلوی څخه هغه لکه چې رضا نه وو خو ارباب خب ږره خلاصه کړی وه! روژه هم کرار، کرار په راتلو شول د بشیر له دسما راوړلو یوه میاشت پوره شوی وه، روژه دومره سخته نه وه خو یو لوی مشکل ما درلود!؟

هغه هم په نوم د ګرمی او حساسیت؟ کندهار او بلخصوص د جهان دوی کور دومره ګرم وو چې دوی کولر روښانه کو او کولر هوا او باد زما په پوست نه لګیدی او سخت د پښو او ملا درد یې راوچوی دومره چې مجبور جهان ډاکټر ته ویوړم هغه خوا چې راغلم او د کور خلک خبر شول زما مشکل څه دی؟ یو بل ریشخند یې راپسی وترو او ګل بې بی خو د ټولو مخکی راته پلاستکی ناوکی ویل!

جهان د بام سر ټول پرده ونیو ترڅو د همسایه بام څخه سوک دیخوا دید ونلری، او بیچاره به دشپی زما لپاره د کولر یخ هوا پریخود او د بام په سر یخ هوا ته خملیدو! هلته هم پر ما خوب حرام و؟ ځکه دسپی او نور حیواناتو غږونه راتل او زه یې خوب ته نه بریخودم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د شرم څخه می نور دا خبره جهان ته نشو کولی! البته هغه خپل پوی شوی وو چې تل یې کوښښ کو زما سر خپل غیږ کې ونیسی ترڅو د حیواناتو غږونه وا نه ورم خو بیا هم گوزاره سخته وه؟!

د اختر مخه رانږدی وه یو هفته به اختر ته پاتی وه، زما حالت بیحده خراب شوی وو نه مې ډوډی خوړلی شوه او نه راکې دمه او شومه وه! خسته خسته وم هیس کار می نشو کولی نه پوهیږم ولې؟! زړه مې دومره نازک شوی وو چې د مرغه په پر وهلو مې هم ژړا ته شروع ورکول، بیچاره جهان راسره سیل مرض شوی وو یوه خبره به یې نشو کولی کنه ما د ماشومانو پشان ژړل؟! د اختر د کالو اخیستلو لپاره جهان خپل مور ته روپی ورکړی وه البته ماته یې هم راکړل او د دی خبری په ویلو جی ته لږ خرید زما د مور او وریندارگیانو سره وکړه کوم شې چې دی پاتی شو ما ته ووایه چې زه درته راوړم زه یې خپل د مور او وریندارگیانو په لاس اول ځل د کندهار بازار ته واستولم.

خرید بیحده زیات وو ځکه پنځه شپږ ښځی او لس دولس ماشومانو ته کالی اخیستل هغه هم داسی چې هر دانه یې خوښ نه ویې او سل دوکانه گرځیدل هغه هم روژه کی!؟ د خدای عذاب معنا درلود! د دوه دری دوکانو کتلو وروسته زما نفس په شمار شو نور مې پښو یاری نکول چې د دوی پسی دی بازار وگورم! زما د حال په لیدو خو اول دوی ښه راپسی وخندل او ریشخند یې راباندی ووهه! تر دی چې د جهان مور هغوی ته وویل چې دا به زما سره بیرته کورته لاړشی او تاسو خرید وکړی! زړه نیولی د ژړا څخه ډک بیرته کورته راغلم

هیس شئ می وانخیستی د اختر لپاره زړه مې دومره نازک شوی وو چې د کوټې مینځ کی ناسته وم او په لوړ غږ مې ساندی وهل! نه پوهیږم څومره وخت به می هلته ژړلی وی او ناسته به وم چې خوب وړی وم کله چې راویخه شوم گورم کمپل او نالی کې ځملیدلی یم؟! جهان هم زما څخه یوڅه لری د نالې په څنډ ناست وو زما د خلاص سترگو په لیدو یې کرار وویل:

جهان- په تا چشی سوی زما نازولی؟
د هغه په ناز زما سترگی بیا زما بې ارادی د اوښکو ډکی شول! چې جهان زما سر خپل غیږ کې ونیو او زما د کرار کولو کوښښ یې شروع کړو خو هغه چې هرسومره زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرام کیدو کوښښ کوی هغومره زما ژړا نور هم زیات کیدل! بی دلیل مې ژړا ته شروع کړی وه جهان خپل د غیږ ځخه جلا کړم او په کرار او ناز لرونکی لهجه یې وویل:

جهان- اخ قربان دی سم ولی جاړی؟ څشی سوی؟ چا درته څشی ویلی؟ ادی کمه خبره کړی؟ څشی دی؟ تخو ماته وو ایه!
زه خپله خپل په درد نه پوهیدم نو څه به مې ویلی وایې جهان ته؟ یوائی لفظ او بهانه مې چی ذهن ته راغلل همغه مې ورته په لړزانده غږ وویل: ادی غواړم!
زما په خبره د جهان وریځی د حیرت ځخه پورته شول سو دقی هک حیران راوکتل بیا یې کرار وویل: صحیح دی په سترګو دا خو ژړا نلری خو کرار ووایه زړه مي خپل د مور پلار پسی دیغ سوی، امر وکړه زه دی وړم.

په همغه نیولی غږ مې وویل: کله؟
جهان- امم دا چی تا ورته دونی دیغت کړی بیا به جر ولاړسو د اختر په دریم که خدای غوشتل ولاړ به سو کابل ته صحیح دی؟
- نه .... نه ... زه اوس غواړم!
جهان په حیرت وویل: اوس؟ اختر ته پنځه ورځی لا ندی پاتی اوس که دی ویسم مطلب اختر هم هلته تیره وی!؟
خاموش نظر می ورکتل چې هغه زما لاسونه خپل لاس کې ونیول او کرار یې وویل: تخو نغواړی اول اختر زما نه تنها هلته تیر کړی هومم؟

هیس مې نه ویل یوائی سترکی مې د اوښکو ډکی وه چې جهان بیا خپل غیږ ته دعوت کړم او ما بیا زړا ته شروع ورکړل، بیخی مي خپل په احساساتو کنترول نه درلود د جهان خبره هسی خبری ته می بهانه کتل چی وژاړم، تر ماذدیګر ماښام جهان په سل اتیا لارو چارو زه راضی کړم چی د اختر په دریم به می کابل ته وړی! او ما ژړا د ماښام په آذان یوځه لږ کرار شول د ډیر زړا ځخه می فشار صفر شوی وو یو خو روژه هم وه بلخوا دا دونی ژړا هم انرژی غوښت بی توانه او خسته په ځای څملیدلی وم.

جهان د نیم ساعت لپاره د کوټی ځخه ووت او ما جونید ولید چی زما د کوټی دروازی مخکی به عاجز انداز ولاړ وو او ماته یې راکتل د هغه په لیدو می دومره زړه وسوځید غږ مې کړل چې راشی کله چې راغلو نه پوهیږم ولی خو د اول ځل لپاره می جونید غیږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی ونیو او بیا مې ژړا ته شروع وکړل او د سپین سرو ښځو پشان مې ورته خبری شروع کړل.

- اخ زما بی موره زویه، تولو د اختر کالي وکړل ته همداسی پاتی شوی؟ تاته چا وه نه ویل چې کالی لری؟ څپلی لری؟ اختر ته څه غواړی؟ اخ زما یتیم بچیه!( نه پوهیږم ولی خو خبر می کول او ژړل می بیچاره ماشوم زما پدسی ژړا ویریدلی وو او کوښښ یې کوی چی ما آرامه کړی هی ویل یې جهان بابا راته کالی اخیستی. څپلی لرم او خپل په ماشومانه انداز یې غوښتل ما کراره کړی خو ما همغسی ساندی ورسره وهل چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او جهان په ورختا راداخل شو!

جهان- چشی سوی؟
د جهان په راتلو جونید زما د غیږ څخه جلا شو او په ژړا د کوټی څخه ووت چې ما د جونید تلو ته په اشاره وویل: هیچا ورنه پوښتنه ونکړل چی کالی لری؟ اختر ته څه غواړی څه نغواړی؟ یو کونج کی لکه صغیر ناست وو او ....( ژړا می خبره پری کړل چې جهان په تروش تندی رانږدی شو او ما تازه د هغه لاس کی یو د پیتزا قوطی او کباب ولید هغه ډوډی زما مخ ته کیخودل او په همغه تروش تندی وویل: دونی به یتیم صغیر او بی کسه هم نه یی؟! د تولو څخه اول مې هغه ته د اختر شیان واخیستل، په تا چشی سوی چی هر دقه دی په ځان غم جوړ کړی؟

د جهان په خبرو بیا مې هم ژړا راروانه وه چې هغه په ګواښ لرونکی لهجې وویل: قسم درته یادوم به والله هی کی یو بله اوشکه دی توی کړل ما د کور پدی بل مخ نکی بیا نو دا! که ربنتیا ووایم د جهان پداسی محکم لهجه و ویریدم او خپل د اوښکو د توی کیدو مخه می ونیول او شکر دا ځل کامیاب شوم چې جهان په تروش تندی ډوډی زما مخ ته کیخودل او د کوټې څخه ووت د څو دقو وروسته د یو دسترخوان سره راغلو او ټول اخیستل شوی شیان یې په درسترخوان منظم کیخودل، د جهان د کیناستلو سره سم مولا الله اکبر کړل، اولی ګوله جهان زما خواته ونیول یو څه کباب په ګرمه ډوډی کی بیچل شوی همدا چې د کباب بوی مې په پوزه ولګید کانګی مې راغله!

او په یو تلوار د تشناب خواته می منډه کړل چې نږدی وو وغورځیږم! تشناب ته په رسیدو د کانګی کولو لپاره هیس وه نه خو هسی می زړه بد کیدی بیچاره جهان د تشناب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولی سره ولاړ و او هی پوښتنه یې کول چې څه وسو؟ خو ما هسی اوق اوق نور راکی هیس دمه نه وه پاتی او د ډیر کمزورتیا څخه هملته غورځیدم چې جهان تشناب ته راداخل شو او زما اوږی د شا لخوا ونیول په همغه کمزور حال کې می ورته وویل: ورځه د باندی زه کانګی کوم!

جهان به تروش تندی وویل: مشکل نسته زه دلته دریږم درته ته خپل په پښو نسی دریدلی!
- نه ورځه اوس راځم.
جهان بغیر لدی چې زما خبری ته غوږ ونیسی څو دقی هملته زما سره ولاړ و کله چې لږ ډاډمن شوم حال مې ښه دی جهان زما لاس او مخ باندی اوبه واچول او بیرون راوتلو زه بی حال د الماری څنګ نالی باندی څملیدم چې جهان خپل واسکټ او خولي په سر د الماری څخه زما حجاب راوخیستو او زما خواته راغی ترڅو حجاب اچولو کې راسره مرسته وکړی.

- څه کوی؟
جهان- حجاب دی واغونده ورم دی ډاکتر ته حتما یو شی درباندی سوی چې دا رکم سوی یی؟
په کمزروی غږ می وویل: زه ښه یم.

خو جهان بغیر لدی چې زما خبره وآوری حجاب یې پر ما وپیچو او د لاس څخه یې ونیولم او ځان پسی روانه کړم او د هیچا پوښتنی ته چې ویل یې چیرته ځی؟ جواب یې ورنکړو موټر چې حرکت وکړو ما د موټر په ښښی سر تکیه کړو او ترڅو چې موټر دریدو همغسی ګنګس او بی خبره وم نه پوهیږم کله ډاکتر ته ورسیدو او کله د ډاکتر کوټی ته زه داخله شوم مخامخ ډاکټری مخکی چې یو د عمر څخه لږ پخه ښځه معلومیده په پریدلی رنګ په چوکی ورته ناسته وم!

ډاکتره خپل د چوکی څخه زما خواته را جیګه شوه او پداسی حال کې چی ماته رانږدی کیدل ویې ویل: د څو کالو یې نوم دی چشی دی؟
په لړزانده غږ مې وویل: 22 کالو یم نوم مې هم هوسې ده!
ډاکتره- مجرد که متاهل؟
- متاهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټره پداسی حال کې چی زما په لاس د فشار علاه لګول ویې ویل: هغه سړی چې درسره راغلی دی هغه دی میره دی؟
- هو.

ډاکټره- سونی وخت مو دواده کیژی؟
- دوه دونیم میاشتې کیږی!
ډاکټری خپل غوږو ته هغه د دوی مخصوص ګوشکی نوم مې ورنه نه و زده! هغه یې واچول او زما د فشار کتلو وقت کې وویل: د دی ښځه مخکی هم کله دی دسی فشار صفر شوی وو؟
- نه!
ډاکټره بیرته خپل ځایګ کې کیناستل او د پارچی لیکلو وقت کې وویل: ورځه خپل میره ته ناری کړه!

خپل لځایه په یو سختې او ګنګس انداز پاسیدم دروازه مې چی خلاصه کړه جهان مې دکوټی مخکی پداسی حال چې یو پښه یې پر بل اچولی وه او تسبیح په ګوتو کې اړول راړول په چوکی باندی تروش تندی ولید د دراوزی خلاصیدو په غږ یې زما خواته راوکتل او زر لځایه راپورته شو.
جهان- چشی ویل ډاکټر؟
په بی حال غږ مې وویل: وایې ته راشه.

جهان زه د اوړی ښځه ونیولم او ځای سره یې د کوټی ته ننویستم دواړه ښنګ په ښنګ ډاکټر ته مخامخ کیناستلو چې ډاکټری خپل سر د پارچی لیکلو ښځه راپورته کړو او پداسی حال کې چی هغه لیکل شوی نسخه یې د جهان خواته نیول ویې ویل: اوس خو کم تیسټ نشو کولی ځکه فشار یې بیخی په صفر دی دغه لیکل شوی سیروم او پیچکاریانی راوړه لږ چی دمه یې راسته سوه یو دوه ټیسټ به ورنه واخلو!

جهان په ورختا لهجه وویل: مشکل یې چشی دی؟
ډاکټره- امم تروسه کامل ډاډمن نه یم نو نسم ویلی ته دا نسخه راوړه خدای مهربان دی.
جهان زه کوټه کی پریخودم او د نسخه راوړلو لپاره د باندی ووت، ډاکټری د کوټی کونج کټ ته اشاره وکړل او ویې ویل: هلته پریوځه په هغه کټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سل زور او زحمت مې ځان تر کټ ورسه وېي پنخه دقو کې جهان د دوا سره راورسید ډاکتره زما د لاس په رګ لګیا وه ترڅو کنول تیر کړی خو زه د ماشومتوب څخه د پیچکاری کنول څخه ډاریدم نو د ډاره مې تول رګونه ورک شوی وه، د لس دقو وروسته په سل زحمت ډاکتری راته کنول تیر کړو اول یو تقویتی د فشار سیروم

چی هغه کې د کانګی پیچکاری اضافه کړل او یو هم د بدن د درد، سیروم نیم ساعت کې خلاص شو او زما طبعیت یې یو څه برابر کړو سر مې یو څه سپک شو او نور ګنګس نه وم ډاکتری یو بل نسخه زما خواته ونیول او ویې ویل: لاندی لابراتوار کې دا تیسټ وکړی بیا ماته راوړی.

نسخه مې واخیست او د کوتی څخه ووتلم زما په لیدو جهان زر رامخکی شو او کله چې زما رنګ او روی لږ تازه ولید له ورایه تندی خلاص شو.
جهان- شه یې اوس؟
- هو.
جهان- زه شکر چې دمه دی لږ راسته ده.
نسخه مې د جهان خواته ونیول او ورته د چک آپ می وویل، هغه هم زما لاس نیولی د همغه یاد شوی ځای په خوا روان شو یو ساعت کې د چک آپ معلومات ورقی زموږ لاس ته راکړل او ما هغه په لاس کې نیولی د ډاکتری کوتی ته داخله شوم.

معاینات مې د ډاکتری و مخ ته کیخودل او هغی هم د څو دقو ورقو اړول راړول وروسته ماته وویل: ورځه میره ته دی ناری کړه.
داسی زور یې راکړی و داچی هر دقه ډاکتری ویل میره ته دی ناری کړه! زړه مې غوښت یو غټ جنګ ورسره وکړم خو څه می ونه ویل جهان ته مې غږ کړل بیچاره په تشویش کوتې ته راغلو دواړو په انتظار د ډاکترۍ خولی ته کتل!

هغی هم دسی په ناز خپل تیکر یو ځل جوړ کوی بیا قلم لاس کې پورته کوی خو خوله یې د خبرو لپاره نه خلاصه ول اخیر جهان په قهر جن لهجه وویل: مهربانی آورو څه مشکل دی؟
د جهان په غږ ډاکتر د معاینات کتلو څخه سترګی واخیستل او موږ دواړو ته یې په کتلو وویل: دا اول وار چې دی راوړل وربانذی شکی وم خو ډاډمن نه وم خو اوس ډاډمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم!

جهان په يو نا آرمه لهجه وويل: په چشي ډاډمن نه واست؟ زما د شزی مشکل چشی دی؟
ډاکټرې خو دقې موړ دواړو ته وکتل بیا یې په مسکا جهان ته مخ کړو او ویې ویل:
مبارک شزه مو کوچنی لری.!

جهان په ګنګس انداز د ډاکټرې ښخه پوښتنه وکړل: چشی؟ زه پوی نسوم!
ډاکټره- وایم مبارک مو شه تاسو پلار کیږی!
ډاکټرې خبری کول خو زما مغزو کې يو لفظ ګرځیدی"مبارک شزه مو کوچنی لری.!"مبارک شزه مو کوچنی لری.! "مبارک شزه مو کوچنی لری.! " د جهان په کار چې زما لاس یې کلک ونیو او په خندا یې راوکتل د هغه ګنګس انداز ښخه راووتلم!
ډاکټرې خبری کول او جهان ورته سر خوځه ویې خو زه تر واسه هک حیرانه وم.

ډاکټرې- دا خو ورځی روژی دی نه نیسي هم مور او هم جنین( مطلب ماشوم) دواړه بیحده کمزوری او ضعیفه دی کوشش وکړی ډیره ستړی نشی او تقویت یې کړی هر رکم خواړه او خوراک یې چی خوشیژی هغه ورته واخلی، د استرس او خفګان ماحول ښخه یې وساتی، ځکه چې اول واری ماشوم یې دی شاید د ډیر خوړو او

خوراکونو سره حساسیت پیدا کړی( مطلب هغه چې ښځه د حامله داری وقت کې يو خاص خوراک یا شي ته زړه کیږی موژ لهجه کې ورته اجای وایو او تاسو ورته نه یم خبر څه وایست؟) او ویې نشی خوړلی، دی وخت کې د شزی هرمونونه بدل کیږی نو شاید کوچنی،کوچنی الفاظو باندی غوسه،ژړا، قهر او داسی احساسات ښکاره کړی نو لږ دی وقت کې خیال ساتی.
جهان په بی قراری وویل: نور چشی؟

ډاکټره- نور کوم خاص مشکل نلری زه ورته دوا زیاته نه لیکم کوشش وکړی د دوا او سیروم لځایه میوه او نور خوراکی مواد ورکړی چې لژ انرژی پیدا کړی (ډاکټرې سر راپورته کړو او جهان ته په کتو یې کرار وویل: او کوشش وکړی د حال مراعت یې وکړی(د ډاکټرې د خبری په مطلب زه پوه نشوم خو جهان لکه چې پوی شو چی سر یې کرار و خوځه ویې) اوس لاړشی د اختر نه بعد يو وار راوړی چې يو عمومی چک آپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه واخلو.

جهان- د کوچنی جنسیت اوس نه معلومیږی؟
ډاکتره- بهتره به وی وو ایست جنین نه کوچنې! تراوسه د 1:5 میاشتو یو د غوښی ټوټه ده! نه سر لری نه بر! تر څلورم او حتا کله ناکله تر 7 میاشتی د کوچنی جنسیت معلوم کول سخت وی او تاسو اوس غواړی معلوم کړی؟
جهان- یا ... هغه .... خدای دی خیر کړی ... نور خو کوم داسی خاص دوا یا بل شی خو په کار ندی؟
ډاکتره- یواځی او یواځی ښه ساتنه او خوراک کوشش وکړی خوشحاله یې وساتی.
جهان- په سترګو.

جهان د خوشحالی څخه نه پوهیدی څه وکړی؟! د شفخانی ټول نرسانو او خاله ګانو ته یې د شیرنی په توګه پیسی ورکړل! تر موټر چی رسیدو جهان خو یو شل ځل پوښتنه وکړل چشی ته دی زړه کیږی درته واخلم؟ او ما یواځی د سر په خوځه ولو د نا جواب ورکو، زمما لاس یې کلک نیولی وو د شفخانی څخه نیولی تر کوره! یو دم یې لځان څخه نه جلا کولم کور ته د رسیدو مخکې د یو هوټل مخکې موټر و دره ویې او ماته په منت شو ترڅو یو شې وخورم! خو ما هیس شې ته زړه نه کیدو

جهان ښکته شو او د هوټل د هر خوراک او هر شئ چې هلته پوخ کیدو یو یو خوراک راوخیست او موټر ته راپورته شو چې ما په کراره ورته وویل: تا روژه ماته کړه؟
زما په خبری جهان راوکتل او د "نه" پشان یې سر وخوځه ویې او په خندا یې وویل:
درسته ورځ تږی( تږی) وم ځان سره می ویل مولا الله کړل اکبر ته یې نه پریږدم او یو جګ وبه چیشم! خو اوس فکر کوم نه تږی یم نه وږی! اصلا بیخی لکه په آسمانو کې چی ګرځم دسی خوشحاله یم.

جهان زما لاس خپل لاس کې کلک ونیو او د ښکل کولو حال کې وویل: اوس زه الفاظ نلرم د بیان لپاره باید یو څه کرار شینم ځان سره او دا خبری هضم کړم! تراوسه هغه ستوی شهریانو خبره شوک کې یم!

جهان خندل خبری کول نازونه یې راکول پوښتنی کول، خو زه کرار خاموشه ناسته وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر منده وم! او د فکر څخه زیات ویریدلی! نه پوهیږم ولی خو زړه مې نا آرمه و!
ککورته په رسیدو جهان بغیر لدی چی چاته کوم څه وواییٍ زه یې تقریبا نیولی نه باید
ووایم په غیږ کې خپل تر کوتی ویوړم! او بیا په تلوار د کوتی څخه ووت د څو دقو
وروسته د جهان مور راغله! زما په خیال جهان هغې ته خبر ورکړی وو چې د مور تندی
داسی خلاص وو او په خندا یې زما تندی ښکل کړو،

جهان مور- خدای دی پخیر او خوشحالی دی دنیا ته راوړی د مور او پلار د سای لاندی
خدای دی یو الصالح اولاد خدای زما د زوی په نصیب کړی.
ما د شرم څخه سر ښکته اچولی وو خو جهان د خوشحالی څخه نه تینګ کیدی هې ویل
یې غواړم هوای ډزی وکړم! خو مور یې ورته ویل شرم دی د ماشوم په پیدا کیدو خلک
ډزی کوی نه په نس کیدو؟ البته خبره یې ما منل اول ځل و د جهان د مور د خبری سره
موافق وم، جهان مور څو دقی زموږ سره کیناستل او نصیحتونه او خبری وکړل د تلو
وقت کې وویل:

جهان مور- هیچا ته ونه وایې چی کوچنی لری!
په حیرت مې وویل: ولی؟
جهان مور- د خلکو سترګې وژی دی نظر کوی دی، تر هغو چې نس دی یوڅه مخکی
راځی او خلک دربادی پوهیژی ته چاته شی مه وایه!

ما جواب ورنکړو او د شرم څخه مې سترګی ښکته واچول خو جهان وویل: بد به وکی
هغه سوک چې بد نظر باندی زما شزی او کوچنی ته وګوری! هغه دواړه سترګی ورته د
کاسې څخه راباسم!

د جهان مور نور څه ونه ویل او د کوتی څخه ووتل چې جهان اخیستلې تول خوراکونه
زما مخ ته کیخودل! او په یو خاص لهجه یې وویل: امممم شه نو شه ملکه عالیٰ چشی دی
خوشیژی پدی فقیرانه خوراکونو کی؟
په شرم او حیا مې وروکتل او ومې ویل: دسی خبری مه کوه.
جهان په خندا وویل: ولی ونکم؟ ته اوس یواځی امر کوه امر نور باره خلاصه یې!
په شرم مې وویل: اوس مې یواځی خبره منې؟ که ماشوم نه وایې ندی منل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان- هغه وخت مې هم مثل هغه وخت حکم مثل دی واجب وو خو اوس فرض دی فرض ...!
جهان په خندا او نازونو د هر اخيستل شوی خوراک څخه لږ لږ راکړل، او زه پوه شوم چې د سور کړی کباب سره مې نه لږی او په لیدو یې کانګې مې راتلل، نور دومره خوراکونو سره مې حساسیت نه درلود ماښام د دی دوه میاشتو د عادت مطابق غوښتل مې د بام په سر ځایونه هوار کړم خو جهان پرینخودم او خپل یې هم فرش هوار کړو هم ځایونه واچول بیا دهغه څخه وروسته یط ماته اجازه راکړل چې ورسره په کراره کراره د بام سر ته پورته شم!

دسی با احتیاط یې رفتار کو چې ما هم داسی احساس پیدا کړو چې هسی نه غلطه و خوځیږم او ماشوم باندی یو شئ وشی؟ ماشوم! عجیبه احساس دی کنه؟ یو داسی انسان چې ستا د بدن د وینو او وجود څخه جوړ شوی؟ او ستا خپل په تعلق کیدی! داسی چې هیس سوک یې ستا څخه نشی جلا کولی!

شپه د نیمی څخه تیره وه جهان ویده شوی وو خو ماته خوب نه راتلو کله مې د آسمان ستورو ته کتل او کله مې هم د سپوږمې ړنا ته او کله مې هم د حیواناتو شور ماشور تر غوږ نیوی عجیبه احساس مې درلود! لدی چې یو ژوندی مخلوق د اوس لپاره زما نس کیدی او زما د وجود د رګ، رګ او څاڅکی،څاڅکی وینې څخه تغذیه کوی او ژوند اخلی عجیب کیفیت یې درلود!

خپل لاس مې په نس کیخودو خو هیس کوم عجیب شې مې احساس نکړو؟ ډاکټری ویل تراوسه یو ټوټه غوښه ده؟ زموږ د پوهنتون استاد ویل د ماشوم زړه په څلور میاشتنی کې جوړیږی؟! او همغه څلور میاشتو کې خدای د ماشوم شکل او صورت جوړه وی! د هغه څخه مخکی هیس شئ نه وی! یعنی اوس زما په ګیډه کې د جهان ماشوم دی! پدی فکر د جهان خواته راوګرځیدم چې کرار خوب باندی ویده و د سپوږمی په ړنا کې مخ کامل راته ښکاره کیدو.

نه پوهیږم ولې خو یو احساس د هغه خواته نږدی کولم؟ لاس مې د هغه په مخ کیخود د هغه په ویښتیانو،ګیره مې لمس کړل! یعنی ماشوم به د جهان په څهری وی یا زما؟ که هلک و شاید پلار ته لاړشی؟ نه ځینی هلکان ما لیدلی خپل د مور پشان سترګی او قواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې! مطلب سترګې به يې تورې وې؟ بغير له کوم ارادې په همدې فکرونو کې ډوبه شوې وم او لاس مې هم د جهان په وېښتيانو کې تېره و چې د جهان د خوب ډک غږ مې واورېدی:

جهان- خوب نه درځي؟
- راوېښ مې کړې؟
جهان کامل زما خواته را وڅرخېد او زه يې خپل غېږ خواته را کشه کړم او کرار يې وويل: امم چشۍ ته دې فکر کوې چې دسې دې زما خواته په ځير، ځير کتل؟
- جهان!
جهان- جان جهان.
- يعنې ستا په نظر ماشوم به د چا په شکل او قواره وي؟
جهان په خندا وويل: امم دې کې علمي بحث دی!

- ووايه نو ته غواړې ماشوم دې د چا په قواره او شکل وي؟ ستا څه خوښيږي هلک که جنۍ؟
جهان- هلک او انجلی دواړه د خدای رحمت دی، ماته فرق نکوي خو زما د زړه خبره که وسې زه لور غواړم!
- ولې لور؟ زوی ولې نغواړې؟
جهان- فکر وکه ستا په قواره او اخلاقو يو کوچنۍ بدماش ژبه وره لور ولرم! هی هی سومره خوند به وکی!
- زه بدماشه او ژبه وره يم؟؟

جهان کرار وخندل او ويې ويل: يا .. يا اوس نه يادوم هغه وختې اول وار مې چې ته کابل کې وليدی زما د موټر په خط اچولو چې جنګ مو وکې( جهان کرار وخندل او زه يې نور هم خپل سينې پورې ونيولم او ويې ويل: هغه ورځ زما دسې خوش سول ستا هغه ملا مات کونکی جوابونه هههه

د هغه ورځ په ياد راوړلو خندا مې په خوله راغله او ورته مې وويل: هغه ورځ ته بيخی عجيب ستايل کړې وو! په هغه سور دوبی او ګرمی کيدی غټ پټو، واسکټ، او سپين کرميچ بوټان دې په پښو کړې وه او هغه عطر دې د درې متر لرې درنه خوشبوی تلل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان په خندا وويل: بده وه خوشبي تلل بد بوی خو نه تلی!
- دومره هم سوک عطر په ځان نه خالی کوی.
جهان- رشتيا که ووايم زما سره د عطرو کوچني قوطی و لاره کې د هغه سر خلاص سوی وو او تول زما پر کال چپه سوی وه کنی زه دونی د عطر وهلو شوقی نه يم.

جهان خبرو خبرو کې خپل لاس زما په نس کيخودلی و! چې ما ورته وويل: لاس دی لری کړه.
جهان- ولی؟
- بد مې راځی دسی زما په نس لاس وهې!
جهان- يووو زه خو ستا سره کار نلرم خپل لور ته ناز ورکوم!
- لور؟
جهان- اهوم زما شايسته لور.
- که هلک شو بيا؟
جهان- امم بيا نو خپل بچی ته ناز ورکوم!

- تراوسه خو يو هم نشته د ډاکټری خبره هسی يو ټوټه غوښه ده نو لاس دی لری کوه.
جهان خپل لاس لری کړو او دا ځل يې زه خپل غيږ کې ونيولم او کرار يې وويل: اصلا زوی او لور ايله کوه اوس مهم مور يې ده.
جهان خپل د خبری کولو وروسته په خندا شو چې ما په شرم غوښتل ورڅخه لږ لری شم خو هغه اجازه رانکړل او همغسی غيږ کې نيولی د ويده کيدو يې وويل.

د هغه ورځ په سهار جهان خريد ته تللی و او ماته جونيد ته يې د اختر کالي اخيستی وه، د ټولو څخه چې راته جالب،خوښ او هم عجيبه احساس مې پيدا کړو د جهان لخوا په اخيستل شوی يو جوړه د ماشومانو کالو کې وو! يو جوړه ګلابی رنګ بيحد کوچنی کالی! د جهان په خبره زما راروان ماشوم ته!

ټول ورځ مې هغه ماشومانه کالو ته کتل او په شونډو مې مسکا راتلل، د اختر اول ورځ د جهان دوی کور کی د محشر د ورځی پشان وه! ټول کلې سرپان راتل ارباب ته د اختر مبارکی لپاره! کارونه هم بيمده زيات وه چای به مو دم کړی نه وه چې ماشوم به ودريدی چی نور چای هغه خلاص شول! ټول ورځ مې وقت پيدا نکړو چې لاس او مخ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومینځم او د اختر کالي مې واچوم د ماذدیګر خوات لږ کور په آرامه شو، د سهار څخه مې جهان هم نه و لیدلی یوازې د اختر مونځ ته چې تلې د کالو ورکولو حال کې می لیدلی و!

رښتیا که ووایم زړه مې ورڅخه ونیول شو! د هغه خبره زما اول اختر د هغوی کور کې هغه باید یو اختر مبارکی یو خبره خو راسره کړی وایې؟ خو د سهار چې د کور څخه وتلی و او ماته یې هیس خبر نه و راکړی، خفه او زړه نیولی خپل د کوټې خواته روانه شوم نه مې د اختر کالي واچول او نه مې هم کوم سینګار وکړو خفه او خسته کوټه کې کیناستم! خپل لاسونه ته مې وکتل چې په نکریزو سره وه! دا راته مابنام جهان په زوره سره کړل! دومره ما ویل مه کوه او هغه ویل نه باید لاسونه دی سره کړی اخیر زما لاسونه یې په زوره راته سره کړل البته خپل لاس یې هم په نکریزو شو!

او سومره سهار د جهان د نکریزو په سور لاس باندی ارباب او ورونو یې وخندل او طعنی ورکړل البته جهان د ټولو جواب په کامل آرمتیا کی ورکړو او ویې ویل خپل د ښزی لاس مې سور کوی پدی کې د چشي شرم دی؟ خو زه سومره وشرمیدم پدی کار د جهان وریندارګیانو او مور ته! په همدی فکرونو کوټه کې ناسته وم چې د کوټې دروازه نلاصه شوه او جهان راداخل شو زما په لیدو چې نه مې کالي اګولی وه او نه مې هم سینګار کړی وو په حیرت یې وویل:

جهان- ته ولی دسی ناسته یې؟
په غوسه مې ورنه مخ وګرځه ویې او ومې ویل: خپل لوفر بازی دی وکړل اوس راغلی؟
جهان په حیرت وویل: زه او لوفر بازی؟
- هو نو د سهار چې د کور ووتی اوس د مابنام په آذان راغلی دا هم ستا په کور کی زما اختر دغه اختر دی یاده وی چې ستا سره یې یوځای تیر کړم؟
جهان په خندا زما خواته رانږدی شو او ویې ویل: زما په سر یو قوم قسم اخلې هغه وقت ته ماته لوفر وایې؟ هی هی د رشتیا هم چې پر ښزی باندی د میره قدر هیس کله نه معلومیژی.!

- که لوفر دی نه کول نو څه د اختر په اول ورځ خپل د خسر کور ته تللی وی؟
جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ته د کوم خوا خبره سوی چې زه د خسر کور ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللی وم؟
د جهان پدی خبره مې ورو‌کتل نه پوهیږم ولی خو سترګو کې می اوښکی راټولی شول چې جهان په تلوار وویل: ای ای و نه ژاړی زه یو دانه خسر لرم او د هغه پسی تللی وم کابل ته!

په حیرت می ورو‌کتل: چیرته؟
جهان زما ځنګ ته کیناستی او زما د لاس په نیولو یې وویل: هغه ډاکټری ویل ته ډیر کمزوری یې او نه باید ستړی سی نو ما ځان سره ویل چې د دی دنیا سر ځخه تا ویسم کابل ته و لاکه خدای نکرده نه ته پاتی سی نه کوچنی! نو زه ولاړم معلم صیب او ستا مور مې راوړل!
په حیرت مې وویل: ادی او بابا راغلل؟
جهان- هو.

- رشتیا وایې؟
جهان- ما تراوسه تاته درواغ ویلی؟
بغیر لدی چې د جهان خبری ته توجه وکړم په تلوار لځایه پاسیدم چې جهان وویل: ای په کراره سوک دسی نه ولاړیږی.
بیا می هم کوم توجه ورته ونکړل او غوښتل مې لاړشم وګورم چې جهان رښتیا وایې او ادی او بابا یې راوړی کنه؟ خو جهان پرینخودم او ویل اول کالی بدل کړه لږ سینګار وکړه هسی نه پلار دی ما را ونیسی چې زما پر لور ظلم کوی؟!

دومره ډیر یې وویل چې مجبور په تلوار مې کالی بدل کړل او نه پوهیږم سر کم مې سینګار وکړو او د کوټی دروازی خواته په پرواز شوم، د زینو ځخه د راښکته کیدلو وقت باندی د جهان زاره وچودل هی ویل په کراره په کراره خو ما هیس توجه نکول دهلیز ته چې ورسیدم د ادی او بابا غږ مې د جهان د مور د کوټی ځخه وآورید په تلوار مې دروازه خلاص کړه، فکر مې کو کلونه، کلونه کیږی چې ادی او بابا مې ندی لیدلی!

نه مې د جهان مور ته نه ارباب ته او نه مې هم په کوټه کی موجود کسانو هیچا ته فکر ونکړو او خپل ځان مې د ادی غیږ کې واچو! ادی مې کلکه نیولی وه او اوښکې او سلګی وه زړه تنګون وو چې د ساندو او ژړا په شکل وریدل، د ادی د غیږ ځخه جلا شوم او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل د بابا امن غیرٍه او مردانه لاسونه وه چې زه يې خپل په حصار کې ونیولم زما د ډیر ژړا څخه د جهان طاقت تمام شو او ویې ویل: بس دی مه ژاړه.

د هغه په خبره بابا زه خپل د غیږ څخه جلا کړم او په خندا يې وویل: بس دی مه ژاړه کنه دا خاوند دی مور بیرته کور ته استوی.
جهان- استغفرالله خدای دی نکوی .... یا ه .. هغه د دی دپاره شه نده دونی ژړا...!
په شرم مې سترګی ښکته واچول د ادی او د بابا د خبرو څخه معلومیدل چې جهان دی هغوی ته ټول حال ویلی وی؟

د ادی څنګ ته ناسته وم دومره مې ځان د هغی شاته پټ کړی و چې د ارباب او د جهان د ورونو نظر راباندی ونه لړیږی ټول یوه کوټه کی ناست وو! ارباب او بابا په خبرو کې ګرم راغلی وه جهان هم د جهانګیر سره خبری کول او تندی تروش وو! د جهان وریندارګیانی کوټې ته رانغلل ځکه د بابا څخه يې مخ نیوی!

د نیم ساعت کیناستلو وروسته ادی په موټر کې سټریا بهانه کړل او زما سره د کوټې راوتلل، خپل کوټې ته مې ویوړل زما کوټه او شیان ادی نه وه لیدلی! ادی په ځیر ځیر زما کوټه چک کول د کوټې وروسته زما نمبر و زه يې د لاس څخه ونیولم او مخامخ راته کیناستل مخامخ د ادی نظر ته می نشو کتلی او شرمیدلم چې ادی خپل لاس زما په سر تیر کړو او کرار يې وویل: خدای دی ما ستا څخه قربان کړی.

په تلوار مې وویل: خدای دی نکوی.
ادی- جهان زوی چې راته وویل کوچنی لری باور مې نکیدی! تراوسه فکر کوم هسی یو خبره وه؟
په شرم مې سر لاندی واچوی چې ادی غیږ کې ونیولم او د جهان د مور پشان دعاګانی شروع کړل ادی او بابا یو هفته کامل زما سره پاتی شول، او هغه یو هفته زما د ژوند بهترینه یو هفته وه! ادی نه تلل خو د آسما په زیات ټینګار او ګیلو چې ویل يې زه مو پریخودم هغه لور لپاره مو کندهار ته ولاړی! ادی مجبوره شوه لاړه شي.

د ادی او بابا د تلو وقت کې به زه خپل د ژړا او بد حال او د جهان غوسه به یاده نکړم، هغه ورځ د جهان په خبرو د هغه ټول وریندارګیانی پوه شول چې زه ماشوم لرم؟! د کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه مې خلاصه کړل او جهان مې د الماری څنګ ته د حساب کتاب حال کې ولید! زما پر لیدو یې خپل د کار وبار نوټونه او حسابونه را ټول کړل او خپل څنګ ته یې اشاره وکړل، د اوبو جګ مې کیخود او د جهان څنګ ته کیناستلم چې هغه هم خپل غیږ خواته کش کړم او په ګیله مند انداز یې وویل:

جهان- ډیره بی وفا یې.
- ولې؟
جهان- یو هفته!
خندا مې راغله پوه شوم چې مطلب یې څه و!؟ یو هفته چې ادی او بابا دلته وه ما کامل خپل بیستره او شیان ټول کړی وه او د ادی سره د بام په سر ویده کیدلم او جهان یو هفته کامل دلته کوټه کی وو!
زما په خندا جهان کرار وویل: خانده خانده مشکل نسته، زما نمبر به هم راسی.
- وای ما څه کړی؟

جهان- چشی دی کړی؟
- خود نو څه می کړی؟
جهان زما مخ خپل خواته وګرځه و او په همغه کرار انداز یې وویل: منم چې مور او پلار دی وه اول وار د واده نه بعد زموږ کورته راغلی وه! خو دا معنا نه درلودل چې ته دی 24 ساعت ورسره اوسیږی... که نور نه وو ماشام خوب وخت کی خو راتلی سوی!
- هغه ادی ن ....
جهان زما خبره پری کړل او په خندا یې وویل: اهااا دورواغ به نه وایې! ځکه خپل مې ستا او ستا د مور ژغ واوریدی چې هغی ویل ولاړسه خپل کوټې کی د میره سره دی بیده سه او تا ویل میره ایله کوه ....

د شرم څخه مې سر ښکته واچوی، چې جهان په همغه لهجه وویل: شه نو شه میره ایله کوه!
- نه ما دسی نه ویل.
جهان- امممم تا دسی نه ویل شه ..
خاموش شوم چې جهان وویل: ستا د دی خبری په ضد پو هیژی چشی کوم؟
- څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان د شیطنت خپل وریځې پورته واچول او ویې ویل: ځم ایران ته یو دوه کاله دسی یواځی پاتی سی بیا زما په قدر پوهیژی بیا هغه وخت گورم وایې میره ایله کوه یا نه؟

د جهان په خبره ما په لوړ غږ وخندل او ومې ویل: چیرته ځی؟
جهان هم زما په خندا وخندل او ویې ویل: ایران ته مسافر کیژم ستا د لاسه.
په شیطنت مې وویل: چیرته؟؟؟
زما په شوخ لهجه د جهان په خوله مسکا راغله او ویې ویل: ایـــــران ته.
په شیطنت مې وویل: کله ځی؟
جهان- چیری؟
په شیطنت مې وویل: وی خو ته وایې ځم ایران ته وایم کله ځې چی کالی دی درته سم کړم د سفر بکس دی درته جوړ کړم؟

زما په خبری جهان خپل وریځی د حیرت پورته کړل او ویې ویل: یعنی د رشتیا دونی زړه دی غواړی زه ولاړسم درنه؟
د هغه د غیږ څخه مې ځان جلا کړو او د ځایونو اچولو وقت کې می په شیطنت وویل: ما خو څه ندی ویلی! ته وایې روان یم ما هم ویل پخیر ...( په زوره مې ځان کلک کړی و چې له خندا شنه نشم، جهان په یو نامیده نظر نالی زما د لاس واخیستل او د هوار کولو حال کې ماته یو قهرناکه نظر واچوی او ویې ویل:

جهان- هی خدایه یو دغه پاتی و د یو کوچنی( ماته یې اشاره وکړل) د لاس د توکو سم! د دی لځایه چی ووایه مه ځه زړه می درپسی تنگ کیژی وایې کوم کالی درته بکس کې ویژدم!
په هوار شوی نالی څملیدم او خپل مخ مې د هغه څخه وگرځه ویې، د هغه نامیده او حیرت ناکه څهری ته مې چی کتل خندا مې راتلل نو ځکه مې مخ ورنه وگرځه ویې چې جهان زما د غوږ اندې ته وویل: فکر د دی زما حق خوری!

- د څه حق دی؟
جهان- یو هفته خو د غلطی څخه لا زما خواته رانغلی اوسم چی راغلی ما ته دی شا گرځه ولی؟!
بغیر لدی چې مخ ور وگرځه وم په شیطان لهجه مې وویل: کوم خاوند چی خپل حامله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داره ښځه د پلار په کور پرېږدی او خپل د لوفری لپاره ایران ته ځی داسی خاوند هیس حق نلری تمام.
جهان په خندا زه خپل خواته کش کړم او ویې ویل: هیس حق نلری؟ تمام؟ ها؟
په همغه شیطنت مې وویل: هو تمام زما او ستا نور کچی( خپل د لاس کوچنی ګوته مې جهان ته د کچی مطلب قهر په معنا ونیول چې هغه هم ناځوانی ونکړل او زما ګوته یې په غاښ کړل او په خندا یې وویل:

جهان- ته دوه ولیشتی( مطلب ټیټ قد) زما سره کچی کوی؟
- اول خو دوه ولیښته نه زما قد 166 دی دویم هو کچی.
زما په خبری جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ښو ... ښو .. قد دی سونی دی 66؟
په غوسه مې وویل: 166!
جهان په خندا وویل: هغه سل تا ورپسی کړی کنه ته 66 ته یې.
- خپل به 66 ته یې زه ډیره هم لوړ قدی یم.
جهان په خندا وویل: هو هو ته چنارګله یی.

په ګواښ لرونکی انداز مې ورته وویل: کوم شک لری؟
جهان په همغه خندا وویل: یا ... یا زما دی توبه وی ته ووایه 180 قد لرم زه هم وایم په سترګو.
- سترګی دی بی بلا.
جهان- جـــار ناز ورکول دی هم زده دی خو نه وایی؟!
په شرم مې خپل نظر ورځخه ونیو چې جهان خپل غیږ خواته ونیولم او په کراره یې وویل: رشتیا ووایه ایران ته ولاړسم خفه کیږی راپسی؟؟

یو دقه مې فکر وکړو چې د جهان ښخه لری ژوند کول ښنګه دی! او همغه یو دقه فکر زما و جود له ویری و لړزه وی، په کراره می وویل: که ته ایران ته ولاړسی زه هم ځم د بابا کورته.
جهان- ولی؟
- نو ستا ښخه بغیر زه دلته څه وکړم؟ ستا کورته زه ستا په نوم راغلی یم ستا په شتون دلته یم که ته یو ورځ ونه اوسیږی زه هم ځم لدی ځای ښخه.
جهان- اممم دغسی توکی مې کول ما خو خپل ځان په غاړه کی ندی ولیدلی هلته ولاړسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوه ورځو کی سکته کوم.

په خندا می وویل: خدای دی نکوی ولی؟
جهان- یعنی دونی ستا ښځه لری هر دقه به فکر کوم دا چشی کوی؟ بوډی خوړلی؟ سترې سوی خو نده؟ درد خو نلری؟ او خلاصه چې د هغه خو چې ترڅو راځم ستا د لاسه به بوډا یم!
په خندا او شیطنت می وویل: وی خپل بوډا توب پر ما مه اچوه د اول ښځه بوډا وی!!
جهان په خندا خپل د ګیری او سر څو سپین ویښتیانو ته اشاره وکړل او ویې ویل: بارو وکه د واده مخکی په شمار باندی دری ویشتیان می د ژیری سپین وه څلور هم د سر! اوس وګوره (د هغه په خبره ما هم په خندا د هغه د ګیری او و ویښتیانو سپین شوی ویښتیان شمارل شروع کړو هغه هم په خندا راکتل.

- دا یې هم 13.14.14.15.16.17...
زه لا د ویښتیانو د شمارلو حال کی وم چې جهان وویل: وه سم یې شمار کړه چی تول ستا د لاسه دسی سوی.
- ځان په ما باندی مه تاوان کوه د اول ښځه هم دست دوم ویی!
( دا خبره می د خولی ښځه بی ارادی ووتل او ژر می خپل به خوله لاس کیخود چې جهان د خندا او حیرت ښځه په لوړ غږ وویل: چشــــی زه دست دوم مال یم؟ زه تا ته چنایې کم کیفیت مال شکارم؟

په تلوار مې وویل: یا .. یا ما دسی مطلب نه وو.
جهان- شه نو شه زه اوس دست دویم مال سوم ..!
- نه ما دسی نه ویل.
جهان په شیطنت وویل: دست دوم مال ډیر کم کیفیت وی نازولی او دومره کار نکوی (جهان خپل د خبری سره سم زما نس ته اشاره وکړل چې د شرم ښځه می مخ تک سور شو او په غوسه مې ورته وویل: ډیر بی ادب یې.
زما په خبری جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: وی خو رشتیا وایم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم میاشت مې تازه شروع شوی وه خو زما نس د عادی حالت څخه بیحده غټ معلومید!
ما فکر کو چې د جهان د ډیر توجه څخه چې هی هر خوراک راکوی دسی چاغ شوی یم!
خو د جهان مور ویل لاړشی ډاکتر ته اخیر جهان هم په تشویش شو او ډاکتر ته یې
ویوړم! او ډاکټری یو داسی خبر راکړو چې هم خوشحاله شوم او هم و ویریدم! زه جمل
حامله وم! (دوه ماشوم) د دی خبر په آوریدو ټول کور او کلې کی بد حال جوړ شو جهان
خو د خوشحالی څخه نه پو هیدی څه وکړی، خو د جهان مور ماته په تشویش وه ویل یې
اول واری ماشوم زیات سخت وی او هغه که جوړه یې وی بیخی زیات.

په هغه ورځ چی جهان خبر شو زه جوړه ماشومان لرم خیرات یې وکړو ارباب هم مولا
پسی نفر استولی و ترځو ماته د نظر تعویذ ولیکی! د دوی په ټول کور کی تراوسه هیچا
جوړه ماشوم نه وه په نس شوی؟ خو ما د مور لخوا د جوړه یې ماشومانو شانس درلود
ځکه زما مور څو ځله جوړه یې هلکان یې پیدا شوی وه خو مړه! دغه خبری زه ډاره ولم

چی هسی نه د ادی چل پر ما وشی؟ ادی چی هم خبره شوه نو زیات په تشویش شوه خو
ماته یې دلداری راکول چې خدای به خیر کړی.

ډاکټری زما د وضعیت چک کولو لپاره هر یو میاشت وروسته غوښتم او دری متره د
نصیحتونو او خوراکونو لیست یې لیکی جهان هم بغیر د یو زری اشتباه او غلطی څخه
ټول هغه شیان اخیستل او په ناز، جان، قربان یا حتا کله ناکله په ګواښ او قهر راباندی ټول
هغه شیان خوړل! د ګل بی بی خبره سم راڅخه فارمی چرګه جوړه شوی وو! د جهان
هغه دومره لوی اربابی کور کی ما نه لاس تور شی ته وهی نه سپین د سهار څخه به چی
لګیا شوم تنها کار می خوراک خوب، خوراک خوب بس نور هیس کار می نه درلود،

په اوه ام میاشت د ګرځیدو نه وم وزن می چې چک کړو زه چی په زوره د 50 کیلو راتلم
اوس د 88 کیلو وم! ډاکټری ویلی وه چی لږ لږ دی وګرځم او ډیر استراحت هم ښه ندی!
خو د اوه میاشتو مفته خوړلو وروسته ما د دوه قدم وهلو طاقت نه درلود جهان به دلاس
څخه ونیولم او په سل جبر،منت او سنت د حویلی د دی سر څخه تر هغه بل سر به ولاړم
البته هغه هم د جهان خبره کاش ستا تګ وایې! ځان به مې په هغه اچولی وو هغه به ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسی کش کولم.

د ډاکټرې په خبره چې ویلې وه په زینو مه پورته کیږه ښه ندی درته، جهان لاندی کوټې ته شیان راوړی وه، د ارباب د کوټې ځنګ کوټه زموږ ووا داسی بد موقعیت يې وو هر دقه که به د ارباب د مخ څخه تیریدم داسی شرمیدم جهان ته مې څو ځله وویل خو هغه ویل د ماشوم تر پیدا کیدو مجبور لاندی کوټه کې واوسیږو ځکه زینو باندی پورته کیدل تاته ښه ندی! ما چی هم ولیدو بله چاره نشته مجبور یا د کوټې څخه نه وتلم زیاد یا هم که بهر تلم اول مې شاوخوا کتل چې ارباب خو نشته! بیا د کوټې څخه بهر کیدلم.

نیمه شپه وه جهان په آرامه خوب ویده وو، خو ما ته خوب نه راتلو! پدی کور کی نه تلویزیون وو نه مې موبایل درلود نه هیس کوم بل شی! درسته ورځ یا می د جهان د الماری د اسلامی بخش کتابونه ویل یا هم همغه یو دانه د رحمان بابا دیوان اشعار مې مطالعه کول! زړه مې بیحده تنګ وو مخ مې د جهان خواته راوګرځه ویې غوښتل مې راويښ يې کړم! خو زړه مې ونشو درسته ورځ ستړی وو یو ماښام بیکاره شو هغه هم اوس زه يې خوب ته پرېنږدم ظلم دی!

بغیر لدی چې جهان راویښ کړم په سل مشکل باندی لځایه پاسیدم خپل ټکری مې په سر کړو زړه مې غوښت لږ حویلی کې قدم ووهم! کرار کرار له کوټې څخه ووتلم ټول کور کې یو درنه خاموشی خپره وه، شاید دشپې دوه دری بجو خوا وه په مشکل مې خپل څپلی په پښو کړل پښی مې پړسیدلی وه! او په زحمت باندی څپلو کې ځای کیدل! د دهلیز د دروازې خواته روانه وم یو لاس باندی مې خپل ملا نیولی وه بل مې هم په نس ایخودلی وو بیخی سمه نشوم تللی! د دهلیز دروازی ته رسیدلی نه وم چې د ارباب غږ مې د شالخوا واوریدی!

په ویری او وحشت باندی شاته راوګرځیدم چې ارباب خپل د کوټې د دراوزی څخه زما خواته رانږدی شو زما په لیدو يې کرار وویل: و خو مې نه بیره ولې؟
- ن .... نه ..
ارباب- زه شه دی ... چیرې تللی؟
نه پوهیدم څه جواب ورکړم؟ مجبور په شرم مې ورته وویل: هغه لږ زړه مې تنګ و غوښتل مې حویلی کې لږ وګرځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارباب- درد لری؟
د شرم څخه مې خپل شونډه وچیچل د کوټې څخه په راوتلو پښیمانه شوم، په ښکته سر مې د نه پښان جواب ورکړو چې ارباب کرار وويل:

ارباب- پدی نیمه شپه یو درنې( حامله داره) ښزی ته شه ندی په دی تور تیاری کې وګرځې هلته به دی خدای نکرده د پیشو د بچې میاو آوریدلی وی او د ویری به دی کوچنیان نقصان کړی وی؟

په حیرت مې ورورکتل چې هغه زما د کوټې خواته اشاره وکړل او ویې ويل: که بیخی خوب نه درځی جهان راویش که د هغه سره ولاړسه.
ارباب دا خبره وکړل او خپل د کوټې خواته بیرته روان شو، رښتیا وایي زه هسی خپل دومره ډارنه شې یم د ارباب خبره د پیشو په میاو دری منه لځایه خیز وهم اوس دومره شجاعت ما د کوم کړو چې د ارباب د کور پدی دومره غټ حویلی کې یواځی قدم ووهم هغه هم دشپې په دری بجو؟

خپل کار ته حیرانه شوم ځپلی مې د پښو وباسل او د کوټې خواته روانه کیدم چې جهان مې ورختا ولید چې د کوټې څخه راووت، زما په لیدو خو ثانی راوکتل لکه چې یو څه زړه یي ډاډمن شو په همغه ګنګس انداز له خوبه رامخکی شو او ویې ويل: چیری تللی وی؟
- خوب مې نه راتلو غوښتل مې قدم ووهم...

جهان- پدی نیمه شپه؟
- هوم.
جهان- زه به دی راویش کړی وایې.
- هوم خو ستړی وی زړه مې ونسو.
جهان خپلو وینتیانو کې لاس تیر کړو او ویې ويل: زه راځه اوس خو راویش سوم.
- نه اوس مې نور زړه نغواړی هسی تکه توره شپه هم ده.
بیرته کوټې خواته روان شو، جهان خپل ځای کې څملیدی او زما به لیدو یي وويل: سبا زم درته یو دانه موبایل اخلم هم به دی سات ورسره تیر سی او هم کله چې نه یم کولی سم خبر دی واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوم په ویلو مې جواب ورکړو چې جهان کرار وویل: درد لری؟
- نه
جهان- بیا ولی دسی خفه او نا آرامه یې؟
- نه پوهیږم فکر کوم زړه مې یو چا خپل موټ کې نیولی او نفس مې را قید کوی.
جهان زه خپل غیږ ته نږدی کړم داسی چې زه په تکلیف نشم او کرار یې زما د غوږ څنګ ته خپل په هغه ښایسته غږ د قرآن ویل شروع کړل! دومره ښایسته یې تلاوت کوی چې زه ما ورته بی اختیاره غوږ نیولی و، هر حرف هر لفظ هر آیت هر زبر هر زیر یې داسی ښایسته قرات کو چې زما نفس تنګی لمینځه ویوړل،

همغسی خاموش د جهان تلاوت ته مې غوږ نیولی وو، چې خوب وړی وم، سهار کار ته د تلو مخکی جهان زه راویینه کړم، یو کتاب نصیحت او وصیت یې راته وکړو، بیا پداسی حال کې چې زما لاس کې روپی کیخودل زما تندی ښکل کړو، او خپل د کار خواته روان شو! ما هم کمپل راکش کړو او تر غرمی مې ورته خوبونه وکړل، د غرمی د آذان کولو مخکې روقیه په زر چل او فریب ولاړه کړم ترڅو یو شی وخورم، د ماشومانو پشان اخلاق مې پیدا کړی وه ترڅو چې جهان یا یو چا راته ویلی نه وایې او ډوډی راته راوړی نه وایې ما هم هیس نه خوړل!

د ډوډی خوړلو وروسته بیا مې سترګی د خوب څخه نه خلاصیدی روانه شوم چې کوټی کی ویده شم چې ناساپه مې د حویلی څخه د جونید د ژړا غږ وآوریدی؟! په تلوار د حویلی خواته روانه شوم کله چې ورسیدم نو جونید او بشیر د جهان مشر وراره چې فاطمه یې ورته کړی وه د جنګ په حال کې ولید؟ بشیر جونید د لغتو لاندی نیولی وو د هغه پدی کار په یو تلوار د ځو دانو مخکی زینو څخه ښکته شوم داسی چې خپل وضعیت مې یودم لیاده وتي و، هغوی ته په رسیدو بشیر مې د اوږی څخه کش کړو او د جونید څخه مې لری کړو، زموږ په غال ماغال د جهان وریندارګیانی هم بیرون راوتلل

په تلوار مې جونید له ځمکی څخه را پورته کړو او په ورختای مې وروکتل چې وګورم کوم ځای خو یې ندی خوږ شوی! کله چې ډاډمن شوم ښه دی نو خوله مې په بشیر خلاصه کړه او ومې ویل: ته نه شرمیږی غټ هلک یې ماشومان سره جنګ کوی او وهې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشیر- ته زموږ په جنګ کې کار مه لره د کاکا شزی دا زه نن انسان کوم.
بشیر دا خبره وکړل او غوښتل یې بیا د جونید خواته راشي چی ما جونید خپل شاته کړو او بشیر ته مې وویل: څه یې کړی چی ته یې غواړی انسان کړی؟
بشیر- بس یو شی کړی.
د جونید خواته می مخ را وګرځه و او پوښتنه مې ورڅخه ورکړل:ګ په څه باندی مو جنګ دی؟
جونید په ډار شوی انداز راوکتل او ویې ویل: ما ورته پخدای که چشي ویلی وی یواځی مې وویل فاطمه خاله هم انار خوش دی ...
بشیر- درته مې ونه ویل نوم یې مه اخله...
بشیر دا خبره وکړه او بیا د جونید خواته په راتګ شو چی ما په زوره ونیو او ومې ویل: څه خبره ده اوس په دی نوم اخیستو څه کیږی؟

بشیر د قهر او غضب څخه تک سور شو او ویې ویل: زما د شزی نوم یې د دوکان مخکی د سل سړیانو مخ کې واخیست ...( د بشیر په خبره د حیرت او تعجب څخه مې خوله خلاصه پاتی شوه! یا الله دا څه وایې په ځیر ځیر می بشیر ته وکتل قد او قواره یې لږ غټه وه خو د عمر څخه تازه 14 کالو ماشوم وو! خدایه دغه هم په ښځی پوهیږی! نه پوهیدم د حیرت څخه وخاندم که د داسی ماشوم په حال و ژاړم! جونید ته مې وکتل او ومې ویل:

- که د بشیر بد راځی نو ته یې هم د ښځی نوم مه اخله بده ده.
جونید- خو هغه زما فاطمه خالــ..( جونید لا خبره نه وه پوره کړی چی بشیر ور حمله کړه او کنځل یې شروع کړل، غوښتل مې بشیر ونیسم چې د هغه بوکس زما په خیټه ولګیدی او د درد څخه مې اخ پورته شو .... زموږ په شور ما شور د کرر د کلک هم راووتلل زما به لیدو د جهان د مشر وریندارۍ غږ پورته شو..

وریندار- وی خدای دی ځواني مرګ که بشیره خپل د کاکا شزه دی خوژ کړل ..
د ډیر درد په ځان نه یم پوهیدلی او همهلته ځای پر ځای کیناستم لاس مې خپل په نس نیولی وو او د درد څخه همهلته په ځمکی ځان مې راتول کړی وو، د ډیر درد څخه مې نفس نشو اخیستی، غوږونه مې بنګ غږ کو او هیس آواز سم نه راتلو خو دومره پوه شوم چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غښتلی مردانه لاسونو لځايه پورته کړم زما په نظر ارباب وو! ځکه هغه وخت کور کی د هغه څخه بغير بل هيس سوک نه وه، ستركی مې د درد څخه پټی وه..

د ډير درده مې خولـه په مخ روان وه، فكر مې كو په نس كې مى سوک چاقو ګان وهی دسى درد مې درلود، همغه حال كې مى د ارباب د زور څخه حيرت وكړو! د 70/65 كالو بوډا سړی وو خو زه يې داسى جست له ځمكى پورته كړم او دهليز ته يې ويوړم چې خپل هک حيرانه شوم! د جهان مور په ورختاى زما سر خپل غيږ كې ونيو او روقيه ته يې چغى كړل: جر كوه يو پياله وبه ورته راوړه.
روقيه په تلوار د آشپزخانى خانى خواته لاړه.

ارباب په غوسه وويل: دا كم د بى پدر اولاد وار وكى وربادی؟

ګل بى بى پداسى حال كې چې زما لاسونه يې نيولی وه او په ورختا يې چاپی كول ويې ويل: د جونيد او بشير جنګ و موژ فكر كوی سات تيره وی دواړه خو ناسابه بشير وار وكی ...
ارباب د غوسى څخه تک سور شو او څو كنځل يې بشير ته چې زما په نظر د ويری څخه تختيدلی و ور واچول او بيايی ماته وويل: ناوی شه يې؟

ما غږونه ټول آوريدل خو د درد څخه مې يو لفظ د خولی نه وت! اوبه راغله د جهان مور لږ زما به مخ واچول او يو څو غړپ يې خولی ته راكړل، خو ما تراوسه همغسى درد درلود او غوځيدی نشوم! ارباب چې وليد زما حال بيحده خراب دی په تلوار يې وويل: زه موټر باسم د باندی حجاب مجاب واغوندی وربادی يو وار ډاكټر ته يې ويسو.

تر موټر او ډاكتره چې رسيدم ما فكر كو د پينو څخه مې نفس ځی، زما د خراب حال په ليدو د جهان مور چې موټر كې زما سره ناسته وه او زما سر يې غيږ كې نيولی وو ژړا ته شروع وركړل، چې د ارباب ورختا او غوسه ناكه غږ مې لږ لږ آوريدی لكه چې جهان ته يې زنګ وهلی و او ورته ويلی وه د شفخانى خواته راشى، لاس مې خپل په نس كيخودلی و او يو دعا! يو لفظ خپل د ژوند او خپل د صحت څخه مې مخكې د خدای وغوښتل" يا الله ته زما ماشومان وساته راته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



(یو کال وروسته)

- جونید ....
زه چغی وهم او جونید په خندا زانګو تیل وهي، بی حوصله زانګو کلکه نیسم او وایم: مه کوه راوبیښ کوی بیا ولاکه یې تر ماښام ویده کړی.
جونید په تروش تندی وایي: دا دری ساعت کیژی بیده دی بس دی نو...

غوارم جونید د زانګو د ښنګ ښخه پورته کړم چې اول د مدثر بیا د مزمل دواړو د ژړا غږ یو ځای پورته کیږی، ورختا کیږم او زانګو په کلک زنګوم خو نه لکه چې د جونید خبرو کار وکړو داوړه یې راویښ کړل، مجبور مدثر د جونید غیږ کې ورکوم او مزمل راخلم ترڅو شیدی ورکړم، جونید په خوشحالی د مدثر سره خبری شروع کوی او سات تیره وی، او زه هغوی ته په کټلو مزمل ته شیدی ورکوم ..

جونید مدثر داسی نیولی غیږ کې لکه چې یو قیمتی شئ وی او هسی نه ورنه مات شي! د هغه دومره وسواس او احتیاط ته مي خندا راځی، ساعت ته ګورم 1:30 دقی دی نیم ساعت پاتی چې جهان د کار ښخه راشی نن پنجشنبه ده او موږ نن ماشام روان و کلي ته، خو ما تراوسه د سهار د سبا ناری لوښی لا ندی مینځلی! کالی مي هم ندی اتو کړی، کور هم بی نظمه دی! دا ځل مزمل جونید ته ورکوم او مدثر راخلم هغه ته د شیدو ورکولو حال کې نه پوهیږم سترګی مې د خوب ښخه درنې کیږی...

نه پوهیږم څومره وقت به تیر شوی وو چې خوځیږم او د یو نازک شې احساس خپل پر اوږو باندی کوم د خوب ښخه نیولی سترګی مې لږ خلاص وم، درنه خاموشی ټول کور نیولی همغه کور چې جهان یې ماته قول راکړی و، شاوخوا ګورم او ناساپه مې سترګی په ساعت لږیږی د ماذدیګر 4 بجی؟ په حیرت او وحشت لځایه مې پاسیږم. مدثر چیرته دی؟ مزمل چیرته دی؟ جونید؟ په تلوار غواړم د کوټی ښخه د باندی لاړشم چې کرار پسپسک غږ د دهلیز ښخه آورم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جونید غږ دی چې وایي: بابا شور یې وخوړو..!
جهان- د شیدو توشک یې خولی ته ونیسه چې راویش نسی.
کرار د کوتي دروازه خلاصه وم او څلور سره په دهلیز کې یوځای مې تر سترګو کیږی؟
جهان مدثر غیږ کې نیولی او جونید هم مزمل خولې ته د شیدو توشک نیولی او کرار یې زنګه وو!

په خوله مې مسکا راځی د مخامخ صحنې په لیدو د کوتی دروازی ته تکیه وهم او دهغوی په ننداره دریږم دا صحنه دا ځای دا موقعیت خپل حافظه کې ساتم زما دری قد او نیم قد ماشومان او خاوند مې... جهان هغوی کرار کړی وه ترڅو زه ویده شم مسکا مې په خوله راغله سومره بدبختیانو وروسته خدای دا خوشبختی راکړل؟ نه پوهیږم د نیلوفر خبره غمونه چې تیر شی بیا د انسان یاد کې دومره نه راځی شکر چې هغه ورځ خدای زما ماشومان وساتل.

کله چې شفخانی ته رسیدلی وو زه د ډیر درد څخه بی هوښه شوی وم، ډاکترانو زما په لیدو ویلی وه چې ماشومانو ته اکسیجن نه رسیږی او مجبور عملیات وکړو ترڅو ماشومانو بهر کړو، د اوه میاشتو دواړه ماشومان یې زما د نس څخه د چاقوګانو او قیچیانو په زور بهر کړل او بنیینه کې واچول، د دی لځایه چې زما غیږ کې راکړی دری میاشتی ماشومان د سیروم او دوا ګانو په زور دی دنیا کې تینګ کړل، د دعاګانو برکت و د جهان د خیراتونو برکت و چې دواړه ژوندی پاتی شول، همدا چې د بنیینی څخه مو بهر کړل جهان کابل کې کور ونیو او مستقیم راغلو ښار ته.

په همغه مسکا مې خپل دا نوی تازه جوړ شوی کورنی ته کتل چې د جهان موبایل ته زنګ راغلو جهان ورختا کیږی زر خپل د موبایل پسی ګرځی ترڅو غږ یې ورڅخه کرار کړی او ماشومان راوبین نشی، جونید هم په تلوار د جهان د موبایل پسی ګرځی چې زه په خندا وایم: جهان موبایل دی شاته دی.

دواړه په تلوار زما خواته راګوی جهان په خوله مسکا راځی خو جونید وایي: ژر آواز بند که کنی دا دواړه بیا را ولاړیږی.
جهان په خندا موبایل خپل غوږ ته نیس او وایي: سیسسس بابا دی.
تول خاموشه کیږو او جهان موبایل ته جواب ورکوی: سلام علیکم بابا .... شه یاست ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ... هو درځو ... بس دا اوس لخیره حرکت کو ... ادی چشی غواړی؟ ... نور چشی کم دی واخلو؟ .... هو .. هو دلی ده .. یو دقه ورته وایه صبر ....

جهان موبایل زما خواته نیسی او د سر په اشاره وايي چې ادی ده! تکیه د دروازی د لرګی څخه اخلم موبایل د جهان د لاس څخه اخلم او همغه حالت کې د جهان تندی ښکل کوم او کرار وایم: سومره خوند يې وکړو!
جهان په خندا راګوری چې زه موبایل خپل د غوږ ښنګ ته نیسم او د جهان د مور غږ آورم چې وايي: وی تاسو خو لژ جر راسی دا ټول کارونه زما تر غاړی مو کړل ..

د خبرو وقت کې د آشپزخانی خواته روانیږم آشپزخانه پاکه ده د سهار لوښی مینځل شوی، کور د مخکی پشان بی نظم ندی، اتو شوی کالی مخامخ اچول شوی وه! د هغه حال په لیدو که ووایم زه هره ورځ د پرون ورځی څخه زیات په جهان مئین کیږم دروغ به نه وی دا لفظ. د جهان د مور غږ آورم چی وايي: الو زما ژغ درځی؟

بی فکر وایم: هو هو آورم.
جهان مور- جر کوی ترڅو چی هوا تیاره سوی نده حرکت وکی، په لاره کې روقیه ته یو جوړه خپل په خوشه کالی واخله دا نور يې ندی خوش سوی شوندان يې بوک نیولی مروره ده.
- صحیح دی په سترګو کوم رنګ کې واخلم؟
جهان مور- هر رنګ وی مشکل نسته تنها یو جوړه ورته واخله.
- سمده .
جهان مور- شه نو پخیر راسی خدای پامان.
- خدای پامان.

موبایل قطع کوم او غواړم د آشپزخانی څخه بهر شم چې د جهان دواړه لاسونه زما د ملا څخه را تاو کیږی او ما خپل غیږ کې نیسی او کرار وايي: شه بیده سوی؟
په ناز او شیطنت وایم: ستا اولادنه مګه ما خوب ته پریږدی؟
جهان زما د سر وینیتیان ښکل کوی او وايي: سهار تا خوب ته نه پریژدی او د شپی ما خپل کار ته. ( د جهان په شیطان لهجه د شرم څخه تکه سره کیږم او په خندا وایم: بی شرم.... راځه چې شیان سم کړو ناوخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان خپل خوله زما په مغزی ایږدی او کلک غچ ورڅخه اخلی چې زه یې په ورختای لځان څخه جلا کوم او وایم: ته او خدای .... پدی ګرمی کې زه نشم کولی هر دقه خپل مغزی پټ کړم خلک به څه وایې؟

جهان په خندا او شیطنت وایې:په خلکو باندی زما د شزی د مغزی څه؟؟
په دروغجنه غوسه وایم: یو څه لږ حیا وکړه د دری ماشومانو پلار یې بوډا سړی یې دا کارونه نور درسره خوند نکوی..

جهان په خندا وایې: یوه بله خبره دی وکړه باره زه ضمانت نه درکوم، هرکار چی وسو خپل د سترګو یې وګوره.

که ووایم د ګواښ څخه یې و ډاره شوم بده خبره ده؟ په کراره او نرم لهجه مې لځان څخه لری کړو او د ماشومانو څنګ ته مې واستوی، کلي ته د تلو هیس حوصله او عصاب مې نه وه خو مجبوری وه د روقیه او د جمشید واده و تللی نه وایې د جهان مور او ارباب خفه کیدل...

ځان جوړه وم په ماشومانو هم کالي اغوندم، مدثر ته پیمپر وهم جونید ناری وهل چې بوټان یې چیرته دی؟ مزمل هم کرار کرار چونګ،چونګ وو ژړل یې د جهان غږ هم پورته شوی و چې ویل یې زما د کالو واسکټ چیرته دی؟ او زه لکه د یو کور میرمن، د ماشومانو مور، د یو کامل ښځې پشان مې مدثر او مزمل غیږ کې نیولی وه جونید ته مې د هغه د بوټان آدرس ورکو او کوټه کې جهان ته چې الماری کې خپل د واسکټ پسی لګیا وو وویل: هغه تور واسکټ واچوه د دی سپین جوړه کالو سره سم خوند کوی...

جهان زما خواته راګرځی او ما هغه حال کې په لیدو په مسکا او خندا وایې:

ستا دسترګو وکتو ته مې زړه کیږي
ځان مې وینم ولیدو ته مې زړه کیږي

پرېږده ډوب شمه یوځل بیا دژوند تل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودریاب ته غرقیدو ته مې زړه کیږي

دا خمار ژوند چې په بله باندې واوړي
راسه راسه ونشو ته مې زړه کیږي

ستا درُخ پرځمکه سرې سکروټي راغلې
ما بیا وسوځه لمبو ته مې زړه کیږي

جهان واخله د سورکو شونډو اورتون کې
وایرو ایرو ایرو ته مې زړه کیږي

شهر جني په کلی کی د کرک آشتی د دویم جلد پای..
لیکوال: خواجه زی.

د نور داسی ښایسته ناولونو ویلو لپاره زموږ چینل جوین او موږ حمایت کړی..
https://t.me/shuhab00

مینه به ښه وی که نفرت به ښه وی
وایه چی کوم ډول حالت به ښه وی

که زړه دی تنګ وی وایه دابه ښه وی

سندره پریږده عبادت به ښه وی

---

چی کلیمی به یی ویلی اوس غزلی وایی

هغه صوفی هم مین شوی چاته حال نه وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



Edit From Bshair Ahmad Shabab

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**